# بېله دنیا

د لنډو کیسو درېیمه ټولګه

۲۰۲۵

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سريزه

«بېله دنيا» په دې ټولګه کې دېوې کيسې نوم هم دی. په يوه مقاله کې مې لوستي وو چې ځينې ليکوال د خپلو لنډو کيسو عنوان باندې کافي فکر نه کوي، لنډ ديوې کيسې عنوان ورته را اخلي. د مقالې ليکوال ويل چې د دې کار عيب به دا وي چې د لوستونکو په فکر کې هماغه يوه کيسه غټه شي او دا به د ټولګې پر نورو کيسو سيورى غوړوي. ما چې څومره فکر وکړ، تر «بېله دنيا» بل مناسب عنوان مې پيدا نه کړ. په هغه کيسه کې نجلۍ د خپل يوه عجيب خوب کيسه کوي او حيرانه ده چې پېښې په کې ولې هغسې ګډوډې دي. هلک ورته وايي: «د خوبونو بېله دنيا ده.» د دې کرکټرې د خوب ځينې برخې زما د خپل خوب صحنې دي، د غسې په «انتحاري بمبر» او بنايي په يوه نيمه بله کيسه کې مې هم د ليدلي خوبونو عناصر ګډ دي. څنګه چې د خوبونو بېله دنيا ده، د کيسو هم بېله دنيا ده. دا په دې چې دواړه پر تخيل بنا دي خو توپير يې دا دی چې خوب خنډ نه پېژني او د عقل، اخلاقو، وجدان، او ټولنيزو مقرراتو پروا نه کوي خو کيسه بيا له دې سانسورونو ځان بشپړ نشي خلاصولی. له دې سره سره، د کيسې دنيا تر واقعي دنيا نسبتاً ارته، نابلده، هېښوونکې او خوندوره ده.

په دې ټولګه کې راغلې کيسې له ۲۰۱۰ تر ۲۰۲۵ کلونو کې ليکل شوې دي خو په بېلا بېلو ځايونو کې: کابل، امريکا، اسلام آباد، جرمني. نو کيسې د سوژو په لحاظ نسبتاً متنوع دي خو يوازې سوژې نه، بلکه ژانرونه هم په کې مختلف دي. «اوباما او عاطفه» ساينس فيکشن دی، «پټ قاتل»

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنايي ياپوليسي کیسه، دغه راز اکثره کیسې دریالیزم په سبک لیکل شوې دي خویوه نیمه سورریالیستي کیسه هم په کې مونده شي.

داتولګه مې آنلاین خپره کړه. دا ځکه چې اوس به کوم کوم ناشرته سوال کوې چې داکتاب خو راته چاپ کړه او هغه به درته وایي چې دکتابونو بازار خراب دی، څوک يې نه اخلي. که يې په چاپ له خپل جیبه پیسې ورکوې، نو دا هم له ځان سره زیاتي دی. هم يې لیکه، هم پیسې پرې ورکوه! که کتاب دې چاته مهم وي نو په پیسو به يې هم اخلي. خپرندوی چې وایي نه يې اخلي، معنايې دا ده چې په چاپولو نه ارزي.

بنه نو اوس به ته وایې: که داکتاب په چاپولو نه ارزي، نو خپروې يې ولې؟

بنه پوښتنه ده. منم چې زرکسان به ددې کتاب لوستلوته لیوال نه وي، خو سل یانوي یا اتیا لوستونکي خو به يې غواړي. داکتاب دهمدغو لږو لوستونکو لپاره آنلاین خپروم. نه زما پیسې پرې تللې، نه دلوستونکي، نه دخپرندوی منت او احسان.

نورمو وخت نه نیسم.

«بیلې دنیا» ته بنه راغلاست!

محب الله زغم

23.10.2025 Uelzen, Germany

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تګ

د چهلستون د باغ په څنګ کې سوکه سوکه روان و. د باغ د نوي دېوال سیورى د کم سوري سړک بل سر نه اوښتی و.

له څنګه يې تېرېدونکي خلک سیوري ته ورته ښکارېدل. ایله دوه ګامه وړاندې لاره يې ليدلی شو، سر يې ټيټ و. امسا يې په لاس کې لړزېده. واسکټ يې پر کړوپې ملا دومره وزن اچولی و لکه کلونه پخوا چې به ده په بانګۍ ځړېدلي د اوبو غټ غټ ټیمونه غره ته خېژول.

له څنګه يې هر څوک تېرېدل او تر ده مخته کېدل، جګ، ټيټ، مزی، ډنګر، نر، ښـځه، هلک، نجلۍ ... خو ده ته مهمه نه وه. ده ته دا ټول لکه هغه ماشـومان ښـکارېدل چې مور ورته ویلي وي: «که د سـترګې له ډوبېدو وروسـته کور ته راورسېدې، نو ته پوه شه او دا لښته.»

د دېوال جوړه شـوې برخه، قیر سـړک او هواره لاره خلاصـه شـوه. کانکریټي سـړک برې خوا ته غځېدلی و. بوډا ودرېد. ښي لاس ته يې وکتل. د زاړه دېوال د سمېټو په پلستر لړلې پخې خښتې او تورې وړې تېږې د منو تر ونو لاندې انبار وې. د ونو د ځینو پاڼو څنډې زېړې شوې وې.

مخ په بره روان شـو. د غټو خانو جالۍ لاره تنګه کړې وه. تر جالۍ يو - يو نيم ګز ها خوا ته پلن ژور تهداب کېندل شوی و. تر پخواني دېوال دوه چنده سورور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستمی يې کېده، لکه تر دې ځايه چې په منډو راغلی وي. ودرېد. ساه يې ژر ژر ايستله.

پر امسا يې زور وکړ. ملا يې لږه سيخه کړه. پورته يې وکتل. لا نيمايي لاره د کنډاو سر ته پاتې وه. مخ يې د باغ خوا ته واړاوه. داسې يې ښوده چې گڼې هسې د باغ تماشــې ته ولاړ دی. لمر د پغمان د غرونو پر څوکو سر لگولی و. وړانگې يې تتې وې لکه د هغه لاټين رڼا چې تېل يې تمام شــوي وي. د چهلســتون ړنگې ماڼۍ ته اوسـپنيزې خوازې تړل شـوې وې. ماڼۍ په تنظيمي جگړو کې لوټ او ورانه شـوې وه.

ساه يې سمه شوه. روان شو. خلک يې له څنگه د خوشحالۍ د وخت په شان چټک تېرېدل خو دی د غمجن وخت په شان ورو ورو روان و.

له شا څخه چا غږ وکړ: با خبر!

ودرېد. په کراره يې سر واړاوه. له کښـــته يوه زلمکي لاسي گاډۍ ټيله کوله. دی څنگ ته شو. هغې جالۍ ته يې تکيه وکړه چې لاره يې له باغه بېلوله.

د زلمکي ډکه کراچي تېره شـوه خو څو گامه وړاندې هغه هم ودرېد. بل زلمکی له پاسه راغی. د کراچۍ د ټير له پاسه لگېدلې اوسپنې ته يې پړی واچاوه. د پړي سر يې په لاسونو کې تاو کړ. ويې ويل: يا الله، راځه.

بوډا روان شـو. څو گامه وروســته يې ساه ډوبه شـوه. د زړه دربا يې زياته شـوه. ودرېد. ورو ورو يې سـاه سـمه شـوه. بيا روان شـو. د کوتل سر ته چې ورسـېد، بيا ودرېد. شا ته يې وکتل. د ونو پاڼې تورې ښکارېدې. لمر نه ښکارېده خو د پغمان د غرونو سر ته د توربخونو ورېځو له شـا کمزورو وړانگو هڅه کوله چې مشـرق ته وغځېږي. غرونه هم تور اوښتي وو. څو شېبې ودرېد. تياره خوره شوه.

د واســکټ جېب يې په لاس وتپاوه. بيا يې لاس ورننه ايســـت. لاسي څراغ يې راوايســت. ويې لگاوه. څراغ يې تته رڼا وکړه خو بېرته په کراره مړ شــو. بټرۍ يې ختمې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلمه

څنګه چې سـهړی ځړېدلې شـونډې ټيټ سر له دفتره ووت، د حوزې امر تيلفون پورته کړ. چا ته يې زنګ وواهه، ويې ويل: رييس صـاحب چېرې يې چې د غريبانو پوښـتنه هم نه کوې؟ - هاهاها، ګوره د مېلې خرڅ راووت. سـړی مې سـنت کړ. – نه، هغه نه، بل سـړی. – حمام ته مخامخ کوڅه کې چې کور جوړوي. – پخپله هماغه سـړی دی. – نه، بابا، پنځه ويشـت زره روپۍ مې ځنې وشـکولې، هاهاها.- بس نو همدومره مې خبر کړې چې ښـه پيوره غوا ده چې په کمو روپو يې خوشـې نه کې. – نه، اوس نه، همدا شـېبه له حوزې ووت، نيم سـاعت پس ته دې نفر ورولېږه. – خود، نو موږ سره چې ګرځې داسې مزې به کوې، هاهاها.

لمر د پغمان په غرونو باندې داسې ټيټ شوی و لکه د خوبولي سړي سر چې اوږې ته يې لوېدلی وي. د قرغې بند په سـپوږمۍ هوټل کې څو دانې شـنې رينجرې يوه په بلې پسې ننوتې، ورپسې دوه درې تور کروزينګونه. د پوليسو په يونيفورم کې باډيګاردانو د رينجرو له باډيو راټوپ کړل او لکه سپي چې د ښـتن غږ يې اورېدلی وي، سـترګې يې د موټرو دروازو ته ونيولې. د حوزې امر له لومړي رينجره راکښته شو، د موټر شا ته راغی او نورو ملګرو ته ودرېد چې ورورسـېږي. باډيګاردانو ته يې وويل: هلکانو تاسـې همدلته اوسـئ، د ګارسون په لاس به ډوډۍ درولېږم. د يوه عسکر په لاس کې شنه پلاستيکي کڅوړه وه، هغه ته يې اشاره وکړه چې ورپسې ورشي.

د هوټل دويم چت ته وختل، قبلې خوا ته تخت بام ته ورغلل. د حوزې امر ودرېد، مېلمنو ته يې د کېناستو ست وکړ. په سپينو جامو کې يوه مېلمه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وریښـمینو چپنه یې پر اوږو پرته وه، غږ وکړ: امر صـاحب، څه دې راوړي، هغه تېر ځل غوندې خورد ضابطي شی خو به نه وي؟

پنځو واړو مېلمنو کټ کټ وخندل. د حوزې امر د عسـکر له لاسـه کڅوړه واخیسـته، یو څلور گوټی بوتل یې ځنې راوایسـت چې شـین لېبل ورپورې سریښ و. ویې ویل: بچو، جنرالي دی جنرالي. دا نن یو چا له دوبۍ نه راوړی.

چپنې والا وویل: بې شکه دې، اوس دې منم.

بل مېلمه وویل: ته نو څه فکر کوې، د حوزې امر دی کم سړی خو نه دی.

گارسـون، راورسـېد، په تور پتلانه، تور واسـکټ او سـپین کمیس کې لکه پینگوین ښکارېده. د خوراکونو مینوگانې یې د مېلمنو مخې ته کېښـودې. د حوزې امر ورته کړه: اول به سلاد او سره کړي چرگ له ماهي سره راوړې، نوره ډوډۍ به وروسته راوغواړو.

گارسون وویل: په سترگو صاحب.

هغه لا گام نه و اخیسـتی چې ورباندې غږ شـو: گوره، یخی، گېلاسـونه او پیپسي همدا اوس راوړه. اوهو، ملگریه دومره ناوخته؟

د حوزې امر ورروان سړي ته غېږه خلاصه کړه.

هغه وویل: ولله ښـاروال صـاحب سره بند شـوم، راغلی و چې د سـړک کار وگوري.

د حوزې امر، نوی راغلی کس نورو مېلمنو ته ورمعرفي کړ: دی د ناحیې امر صاحب دی.

د لومړي بوتل وروستي څاڅکي هم گېلاس ته وروڅڅېدل. شنې چپنې والا غږ کړ: گوره چې باقي نه شې.

د حوزې امر د بـالښـــت لـه څنگـه کڅوړه ورکش کړه، بـل بوتـل یې ځنې راوایست، ویې ویل: بې غمه اوسه، تر سهاره ځواب یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا چې ګېلاس يې په سر واړاوه، موبايل يې وشرنګېد. سترګې يې وموښلې، موبايل ته يې وكتل، وبونګېد: خداى مو خوار كړه، يوه شــېبه مې ارام نه پرېږدئ.

د ناحيې امر پوښتنه وكړه: څوک دى؟

- جنايي امر، نن شپه په حوزه کې نوکري دى.

موبايل يې غوږ ته ونيو: هلكه څه خبره ده؟ - كوم يو؟ - ولې؟ زياړې مه كوه چې همدا اوس مې څنګ ته ناســت دى. – دووس خانه خو وايې چوه نظارت خانه كې- هاهاها، سمه ده بيا سبا ته سره ګورو.

د ناحيې امر وويل: څه حساب و؟

- تا غم راته جوړ دى.

- زويه ما څه در كړي دي؟

- هغه خركوس ته دې څه ويلي وو؟

- چا ته؟

- هغه، څه بلا نومېږي، هغه نن چې مو سنت كړ.

- ولې؟ څه يې كړي دي؟

- ګاونډى يې په چاقو وهلى.

د ناحيې امر ورانه ته ټک وركړ او له خندا شين شو،هاهاهاها....

ټولو مېلمنو خپل منځي خبرې بس كړې، ســترګې يې په ده پورې ښـځې كړې؛ خو د ده هاهاها خندا روانه وه.

د حوزې امر وغرېد: دووس خانه، ته لا خاندې؟

د ناحيې د امر خندا پسې وغځېده، هاهاها. له ډېرې خندا نژدې شا ته نسكور شوى و؛ خو لاس يې پر ځمكه تكيه كړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چېنې والا د حوزې امر ته وويل: په ملګري دې پېريان راغلل که څنګه؟

هغه لا خوله نه وه خلاصــه کړې چې د ناحيې امر هماغســې په خندا وويل: پېريان، پېريان خو مې په، په هغه کم عقله، ور، وروســتلي دي، هاهاها

يو دم پر دسترخوان ايښي کاغذي دسمال ته ورټيټ شو، ژر ژر يې دوه درې دسماله واخيستل، پوزې ته يې ونيول، ويې ويل: توبه مې دې وي، ډېر مې وخندل. دې سره يې پوزه کش کړه. بل دسمال يې ورواخيست، اوښــکې يې پرې وچې کړې، ويې ويل: دغه کم، کم عقله ســړي ته مې خندا راغله. ما ورته وويل چې ګاونډې دې دعوا کړې چې د هغه پر مځکه کور جوړوې، دې دووس هم باور کړی.

د حوزې امر وويل: نو تا ولې ورته دا خب، خبره کوله؟

- څه به مې کړي وو، پنځه زره يې راته نيولي وو چې دا واخ، واخله او په کار مې کار مه لره. ما وې چې څه، څه رقم ډېرې پيســې ورنه، ورنه وشکوم، بس دغه، دغه پلمه مې جوړه کړه.

د حوزې امر د لاس ورغوی ورته مخامخ په هوا کې ونيو، ويې ويل: واچ، واچوه دووس خانه.

هغه د لاس ورغوی داسې کلک ورسره وجنګاوه او ټک يې ځنې وايسـت چې نژدې خپله رنګ شـــوی و. د حوزې امر وويل: بې، بې شـــکه دې دووس خانه، پلمه، پلمه دې زما کار هم جوړ کړ، اوس، اوس به يې دويم ځلي سنت کړم.

دا ځل د حوزې او ناحيې د آمرانو خندا د نورو مېلمنو په خندا کې ورکه شوه، هاهاهاها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پتلون

ایلسي د ایوا سیټي په دوکانونو کې د خپلې خوښې پتلون پیدا نه کړ. په ټولو کې هماغه ډیزاینونه وو چې دې دوه میاشــتې مخکې لیدلي وو. بس ته وخته نیم ساعت وروسته ټارګټ مال ته ورسېده. د مال په دوکانونو کې پوره دوه نیم ساعته وګرځېده؛ خو اخر یې پتلون پیدا کړ. شــکلی ډیزاین یې و. داســې چســپ چې په پایڅو کې یې د پښــو د ننه ایســتلو لپاره مجبوره شــوه کونه پر ځمکه ولګوي او غبرګ لاسونه ورته تمبه کړي. هماغسې چې مګي ورته ویلي وو، د ورانه او د پوندو په حصه کې شپږ اووه اینچه ځای یې ریښکي ریښکي. چې وایې غوسته، د سپینو ورنونو غوښــې یې د ریښــکو تارونو له منځه بهر خوا ته راووتې او د ریښــکو تر منځ چاودونه یې لا زیات کړل. جمپر یې راوایســـت او د هینداري مخې ته ودرېده. چنګه ملا او راوتلي ورنونو ته یې وکتل، بیا چپ لاس ته لړه تاوه شــوه، د اوږې له سره یې هینداري ته وکتل. د پتلانه په شــاتنیو جیبونو یې لاس تېر کړ. څېره یې وغوړېده. پتلون یې بېرته وکیښ، خپل هغه یې واغوست.

ماښــام ایســلي خپل نوی پتلون واغوســت او د بار په خوا روانه شــوه. دا یې دویم ځل و چې فاکس هډ ته ورتله. اول ځل چې ورغلې وه، دوې میاشـــتې مخکې و، د اګسټ پنځمه. هغه شپه د مګي کالیزه وه. ملګرو سره ویلي وو چې ټول به په فاکس هډ کې راټولېږو او بیا به په ګډه سره د مګي کور ته ځو. په هغه شــپه ټولو ملګرو، نجونو او هلکانو چا بیر چا ویســکي او چا ودکا وڅښــل؛ خو ایلسيـ یوازې یو ګېلاس پیپسي واخیسته.

ایلسيـ د سترګو له مخې اوږدې خرمایي توني ډوله زلفې د ښي لاس په ګوتو لرې کړې. سپین شفاف پوستکی یې د څراغ رڼا ته وځلېده، د پیپسي ګېلاس یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو لاسونو په نريو ګوتو ټينګ کړ. لوسي ته يې وکتل چې د کم سوري نسواري مېز په بله خوا کې مخامخ ورته ناسته وه، ويې ويل: پوهېږې، دا مې اول ځل دی چې دلته راځم.

- څه؟ اول ځل؟

ايلسي د هو په بڼه سر وخوځاوه.

- دا څه وايې؟ دومره مشهور بار ته لا نه وې راغلې؟ پوهېږې، دا د ايوا خورا لرغونی بار دی. څو کلنه يې؟

- درويشت.

لوسي سترګې تنګې کړې، ايلسۍ ته يې په ځير وکتل، ويې ويل: رښتيا وايې؟ ودرېږه، ودرېږه. هلک انډيوال لرې؟

- امممهه، نه يې لرم.

لوسي د ويسکي له خپل درېم پيکه يو کوچنی غوړپ تېر کړ، په خندا شوه، ويې ويل: اوس پوه شوم چې ولې نه يې راغلې.

څنګ ته ناست زلمي پورې يې ځان ونښلاوه او هغه يې تر اوږې لاس چاپېر کړ، په خوا پورې يې ټينګ کړ. لوسي وويل: زه او جيم هره شبنه راځو. څنګه ګرانه؟

هلک په موسکه خوله وويل: بالـــلـــلکل.

دواړو يو بل ته سره وکتل، پيکونه يې سره وجنګول، چېرس يې وويل،موســک شول او د موزيک تال ته يې اوږې وښورولې. د ايلسۍ نرۍ ګلابي شونډې موسکې شوې، تک سپين مرمرين، د تسبيح د دانو په شان منظم غاښونه يې ښکاره شول؛ خو بې له دې چې د خوشحالۍ احساس وکړي. دا يې زده کړې وو چې بايد د نورو د احساساتو بدرګه وکړي، ان که په درواغو هم وي.

چا د دروازې له خولې نارې کړې، ملګرو ځو به.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول د وره خوا ته وخوځېدل. له باره چې ووتل، مخامخ دوکان ته ورغلل. چا د سره چا د سپین واین بوتلونه واخیستل، ځینو د بیر د شپږو بوتلونو بسته په لاس کې بېرته راووتل. ایلسيې او لوسي څو پاکټه چپس واخیستل. ډېرو نجونو د خپلو مینانو په لاسونو کې لاسونه تېر کړي، ورسره جوړه جوړه روانې وې؛ خو ایلسيې له درې څلورو نورو بې جوړو سره لاره وهله. دوی په عادي مسایلو سره خبرې کولې خو جوړې والاوو د مینې سندرې بللې. څلور بلاکه شرق او بیا پنځه جنوب خوا ته، د مګي تر کوره په لسو دقیقو کې ورسېدل.

د موزیک غږ له ورایه اورېدل کېده. چې ورننوتل، څلور پنځه ملګري لا وختي هلته وو. ټول پخلنځي ته لاړل، خپل راوړي بوتلونه او د خوراک پاکټونه یې د غولي په منځ کې پر ګردي مېز کېښودل. چا څراغونه مړه کړل. موزیک بند شو، خاموشي راغله.

واو، هووووو

ټولو شور جوړ کړ.

پخلنځي ته مخامخ کوټه کې وړکۍ رڼا پیدا شوه، چا ډېوه بله کړه. د مېز پر سر د کالیزې کیک د شمعې په رڼا کې وځلېد. د یوه سړي او یوې ښځې څلوېښت پنځوس کلنو غږونو «مبارک دې کلیزه، مبارک دې کلیزه» په ترنم کې وویل. ورپسې ټولو په لوړ غږ ورغبرګه کړه: «مبارک دې کلیزه، مبارک دې کلیزه، مبارک دې کلیزه ګرانې ...»

مګي ډېوه په پوکي باندې مړه کړه، ټولو چکې چکې وکړې، هووووو، نارې یې وکړې.

څراغ بل شو. د مګي مور و پلار مګي په غېږ کې ونیوه، مېلمنو ته یې ښه راغلاست وویل. بیا یې وویل: «خوند واخلئ، ساعت مو تېر کئ، ښه وخت، موږ درنه لاړو» دواړه لاس په لاس د دویم پوړ خوا ته روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيکونه سره وجنګېدل، موزيک چالان شــو. نڅاوې، شــور، ولولې. چا جوړه يي نڅا کوله، څوک په يوازې سر لګيا وو. ايلسيـ دېواله ته ډډه لګولې ولاړه وه او له وړکۍ کڅوړې يې په کراره يو يو دانه کاغذي چپس راايســته او تر غاښــونو لاندې يې کرپول. لکه په مجلس کې چې نه وي، له ټولو لرې، له ټولو بېله.

خو دا ځل ايلسيـ يوازې نه وه. فاکس هڅ ته له ټام سره جوړه لاس په لاس ورننوته. له دروازې سره ودرېدل چې د کېناســتو ځای پيدا کړي. د بار له کښــته سره، د بليارډ د مېز له څنګه چا غږ وروکړ: واو، دا څوک وينم. راځئ راځئ، دلته له موږ سره کېنئ.

لوسي وه. هغې او جيم د هرکلي لپاره دوی ته لاسونه وښورول. دوی هم هماغسې وکړل او د هغوی مېز ته ورغلل. په مخامخ چوکۍ کې ايلسيـ بر سر ته تېره شــوه، ټام خپل جمپر وکيښ، پر چوکۍ يې کېښــود، ايلسيـ ته يې وکتل: څه شــی درته راوړم؟

- بير.

هلک لوسي او جيم ته مخ واړاوه: او تاسو ته؟

هغوی خپل پيکونه ورښکاره کړل: مننه، موږ يې لرو.

هغه د بار د مېز خوا ته ورغی.

لوسي وويل: ای ځوانيمرګې، ښه انتخاب.

- البته.

درېواړو وخندل.

د بليارډ د مېز څنګ ته يوه سپينه ښځه چسپ برجست پر تن، لنډه لمن او ارت ګرېوانه بلوز يې پر تن د سندرې ساز ته تاوېدله. مخ يې ښوی د دېرش کلنې؛ خو د لاسونو او د اوږې له نريو ګونځو او نسواري رنګه خاپونو يې ښکارېده چې په عمر پخه ده. په خېټې پورې يې تر بلوز لاندې پېړ کمربند تړلی و چې وړکۍ ښــکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي؛ خو لکه اوږه چې تروشـــه شي او د تال له څنډو بهر ته وبهېږي، د دې خېټه هماغسې ځان ښکاروله.

ټام دوه اوږده ګېلاســـونه په لاســـونو کې راغی. یو ګېلاس یې د ایلسيـــ مخې ته کېښود، ویې ویل: چپس درته راواخلم.

- نه، مننه.

بیا یې غږ ټیټ کړ: غواړې چې د دې مېرمنې په شان خېټه وکړم.

ټولو وخندل؛ خو چا ښځې ته ونه کتل.

د بیر ګېلاسـونه نیمایي ته رسېدلي وو چې یوه نرۍ چابکه پېغله، چسـپ پتلون او کمیس پر تن د موزیک د انتخابولو الماري ډوله ماشـین خوا ته ورغله. دوو هلکانو چې په بلیارډ اخته وو، ورته لاره ورکړه. هغې د مایکل جکسن سندره چالانه کړه او سم لاسي ورسره ګډه شوه. د خلکو غږونه وار په وار سره تت شول، ټول غلي شول، د ګردو مخونه پېغلې ته واوښتل چې بریک ډانس یې شروع کړی و. په بلیارډ اخته هلکانو، د بلیارډ لکړې کېښـودې، څنګ ته ودرېدل او د نورو په شـان یې د نجلۍ په کړو وړو ظریفو حرکتونو ســترګې ښــخې کړې. ټولو د هغې ننداره کوله؛ خو یوازې هماغه پخه ښځه لا هم بې سوره او بې تاله تاوېده راتاوېده.

ســندره د ایلسيـ او ټام له ګېلاســونو سره یو ځای خلاصــه شــوه. ټولو چکې چکې وکړې او ټام تش ګېلاســونه د بار مېز ته یوړل، له هغې خوا یې ډک راوړل. هغه او ایلسيـ یو د بل غاړې ته لاســونه واچول. د یو بل په غوږ کې یې مینې زمزې شروع کړې. ته وا په دنیا کې نور هېڅ څوک او هېڅ شــی نشــته، بس دوی او دوی دي. مخامخ ورته لوسي او جېم هم سره لګیا وو.

د بیر دویم ګېلاســونه هم خالي شــول. نرم موزیک د دوی غوږونه نازول. ټام ولاړ شـو، د ایلسيـ لاس یې ونیو. میده میده سـاز ته ګډ شـول. تېره شـنبه یې په بارن ډانس محفـل کې ولسيـــ نڅـا زده کړې وه. د دې جوړه یې او ګروپي نڅـا ځینې چلونه یې لا په یاد کې وو. مخامخ سره ودرېږي، لاســـونه سره ورکړي، لاســـونه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګلو قات کړي او يو ګام مخته راشي، مخونه سره نژدې کړي، بېرته نيم ګام شاته شي، هلک به ښـی لاس د نجلۍ ملا ته تېروي، نجلۍ به چپ لاس د هلک پر اوږه ږدي. په بل لاس د هلک لاس ونيسيـ او بيا د ســاز په تال په مدار لکه بېړۍ متناوبې څپې ته چپ او ښــي طرف ته وځمبېږي. بيا هلک په ښــي لاس د نجلۍ د چپ لاس د ګوتو سرونه ونيسي او هغه يې تر لاس لاندې وڅرخېږي. پنځه شپږ دقيقې سره ونښېدل، سندره خلاصه شوه، ټولو ورته چکې چکې وکړې او دوی په شـونډو سره ښـکل کړل. دوړاه د بار خوا ته ورغلل. ايلسيـ نارې کړې: ټام، دې ته وګوره. د ګيدړې سر.

ټام د بار په دېوالي الماريو کې د رنګارنګ بوتلونو نه پاس د ګيدړې سر وکتل. ويې ويل: دا دې لا نه و ليدلی؟

- نه. مخکې يو وار راغلې ومه؛ خو دې ته مې پام نه و شوی.

- نو دې ته دې فکر نه و کړی چې ولې دغه بار «فاکس هډ» نومېږي.

- نه، ما ويل هسـې به يو نوم وي. څومره ښـکلی دی، وګوره سـترګې يې داسې ځلېږي لکه ژوندۍ چې وي.

ټام د بير دوه نور ګېلاســونه واخيســتل. ويې ويل: زه به دباندې ووځم، ســګرټ څکوم.

- زه هم درسره ځم.

ټام دروازه خلاصـه ونيوه، ايلسيـ تېره شـوه او بيا ټام ووت. د مني باد پر پياده رو پراته زېړې سرې پاڼې وښورولې. باد يخ و؛ خو پر ايلسي ښه ولګېده. بدن يې تود و. يخ باد د پټلانه له ريښـکو تارونو څخه تېرېده او د هغې په ورنونو لګېده. پوندې او ورنونو يې خوندوره يخنۍ احسـاس کړه. يوه پښــه يې مخته کېښــوده، بله شـا ته. سترګې يې د پټلانه په ريښکو تارونو ښخې شوې.

ټام هماغه ځای ته لاس وروړ چې د دې ســترګې ورپورې ګنډلې وې. پتونه يې په تاوده لاس لمس کړل، ويې ويل: ښکلی دی، ستا په شان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټام سګرټ ولګاوه. یوه درونډ غږ ووېل: یوه دانه به ما ته هم راکې؟

دواړو د غږ په لوري مخ واړاوه، یو بوډا له جږ پږ اوږدو څڼو او سپینې ږیرې سره د بار د وره په څنګ کې پر زینو باندې ناست و.

ټام ورته سګرټ ونیو. یو تور خیرن ګونځې ګونځې لاس، له شکېدلي لستوڼي سره وروغځېد. په لړزاندو ګوتو یې سګرټ واخیست. ویې ویل: لایټر خو دې راکه.

ټام ورنژدې شو، لایټر یې ورته بل کړ. ایلسيـ هم ورنژدې شوه. د بوډا له تنه تروش بوی رالټېده خو د سګرټو له لوګي سره بوی تت شو. ایلسيـ یو ګام شاته شوه. تر سترګو لاندې یې بوډا ته په ځیر وکتل، بوټونه یې شکېدلي وو. د پتلانه پایڅې یې شلېدلې وې. زنګنونه یې د کاوبای پتلانه له شکېدلو خیرنو پایڅو راوتلي وو.

ټام او بوډا سګرټ څکول او ایلسيـ ژر ژر ګېلاس ته سر ټیټاوه چې په دې پلمه تر سترګو لاندې بوډا ته وګوري. د بوډا سګرټ ژر خلاص شو. هغه راولاړ شو. په ریږدېدلو ګامونو له زینو کښته شو د بار د وره خوا ته وروګرځېد. پتلون یې په ورانه کې څو ځایه سوري او ریښکي ریښکي وو. بوډا ځمبېدلی د بار ور پرانیست او د ننه لاړ. د ایلسيـ سترګې د خپل پتلانه ریښکي ریښکي تارونو پورې ښخې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیمه

ماريا په کمپيوټر کې د فورمې په ډکولو لګيا وه. دا يې لومړی ځل و چې له سلواکيا څخه يوازې سر په دومره اوږده او لرې سفر وتله. د دريو مياشتو په مخه د امريکا ايووا پوهنتون ته روانه وه.

ماريا په فورمه کې نوم، کورنی نوم، عمر، جنس، د پاسپورټ نمبر، ټيفلون نمبر او اي مېل ادرس په جلا جلا کورګيو کې وليکل. د فورمې وروستۍ برخې ته چې ورسېده، ټکنۍ شوه. د يوه کورګي مخې ته ليکل شوي وو: د عاجلو پېښو پر مهال چا ته خبر ورکړو: نوم – کورګی – قرابت – کورګی- د ټيلفون شمېره – کورګی – اي مېل ادرس – کورګی – بديل ټيلفون نمبر – کورګی.

دغه برخه يې درې ځله ولوسته؛ خو سر يې پرې نه شو خلاص. د پرواګرام ناظم ته يې اي مېل وليکه: د فورمې په پای کې «د عاجلو پېښو» څه مطلب دی؟

اي مېل يې ولېږه او د بيمې د معلوماتو په لوستلو لګيا شوه. «تاسو لپاره مو صحي بيمه برابره کړې ده. په بيمه کې معمولې ناروغۍ او بېړني واقعات شامل دي؛ خو که څوک له پخوا کومه ناروغي ولري او يا د غاښــونو چک اپ يا د ښــکلا لپاره عمليې يا درملنه وغواړي، د هغو لپاره به د بيمې شرکت پيسې نه ورکوي.»

ماريا ته خندا ورغله. مخ يې چپ لوري ته واړاوه. د جامو د الماری پله خلاصه وه. د الماری د پلې په هينداره کې يې ســپين غاښــونه چې لکه د تشرــيفاتو د قطعې عسکر يو د بل په څنګ کې منظم ولاړ وو، وځلېدل. لاندې باندې غاښونه يې سره ونښــلول، لاندنۍ ژامه يې مخته وخوځېده. خوله يې جينګه کړه. اوس نو د دواړو ژامو ډېر غاښــونه يې په هينداره کې ليدلای شــول. بيا يې خوله خلاصــه کړه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاښونه د ننه خوا يې هم له نظره تېره کړه. ويې ويل: بې غمه اوسه، د غاښونو چک اپ ته ضرورت نه لرم. بيا پاځېده، هينداري ته مخامخ ودرېده. د سره سپين مخ پر نرم شفاف پوستکي يې لاس تېر کړ. سر يې ښي او چپه خوا ته وګرځاوه، د غاړې پوستکی يې هم د مخ په شان ښکلی و. د جامو الماری ته ودرېده. په کوټبند کې ځړېدلې جامې يې يوه يوه تر نظر تېرې کړې. درې کوټبندونه يې د نورو له منځه راوايستل او د کتار په سر کې يې وځړول. پله يې پورې کړه. د الماری بلې خانې ته يې لاس د ننه کړ. د نوي چاپ شوي ناول درې ټوکه يې بېل کړل. کتابونه يې د مېز پر سر د لپ ټاپ په څنګ کې کېښودل. پاسنی کتاب يې پورته کړ. د کتاب په توربخوني پوښ باندې يې لاس تېر کړ. د ناول عنوان او خپل نوم ته يې په خوند سره وکتل. کتاب يې بېرته د دوو نورو پر سر کېښود. کمپيوټر ته کېناسته. د اي مېل صفحه يې راتازه کړه.

د پروګرام د ناظم اي مېل راغلی و: «په دې برخه کې به د هغه چا معلومات وليکې چې د عاجلو پېښو په صورت کې ورته خبر ورکړو. مثلاً که دې طياره رالوېږي، يا په ټرافيکي پېښه کې يا په بله وجه زخمي کېږې، يا کوما ته ځې يا مړ کېږې؛ نو بايد د کورنۍ له غړو يا نورو خپلو خپلوانو معلومات دې راسره وي چې خبر ورکړو.»

اي مېل يې بيا ولوست. چورتي شوه چې د چا نوم وليکي.

ميخاييل؟ نه. هغه اوس خوشې کړې وه. شپږ کاله سره ملګري وو خو اوس د دې په کيسه کې نه ده.

پلار؟ هغه خوارکی د زړه تکليف لري. که نابېره د لور د مړينې خبر واوري، زاره به يې وچوي.

مور؟ سمه ده چې دا له مور و پلار سره نه اوسېږي او په دوو مياشتو کې هم له هغوی سره نه ويني؛ خو بيا هم مور مور ده. د مور هغه سخته يې ژړا يې تر اوسه نه وه هېره شوې. دا اته کلنه وه، له کوره ووته چې مکتب ته لاړه شي. درېم منزل ته چې ورسېده، پورته يې وکتل. مور يې د اپارتمان ور پورې کړ. دا د زينو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کټارې باندې پړ مخې سپره شوه، یوه پښه یې دې خوا ته ځوړنده بله ها خوا ته، د مکتب بکس یې په شا. لاسونه یې په کراره خوشې کړل. مخ په ځوړ وښوېیده، وار په وار تېزېدله. د دویم پوړ له کړلیچه چې تېره شوه، بکس یې ښۍ خوا ته وخوځېده. د دې توله ورسره خرابه شوه، راخطا شوه. سر یې د پوړۍ په ژۍ ولګېده او نور په ځان پوهه نه شوه. یو وخت یې چې سترګې پرانیستې، د روغتون په بستر باندې ستوني ستغ پرته وه. د مور چیغه یې واورېده: «اوه، ګرانې لورکۍ، وه زما شیرینې، ته راویښه شوې. پاوله، هله ژر کوه راشه، لورکۍ مو خدای جوړه کړه. د مور اوښلنې سترګې تکې سرې وې. مور یې تر ډېره وخته د دې لاس ښکلاوه او اوښکې یې تویولې.

نه، د مور نوم خو بیخي نه شي لیکلای. هغه به څنګه د لور د مرګ خبر وزغملای شي. نه کېږي.

ځان سره یې وویل: نو څوک؟

څو شېبې وروسته یې ولیکل: نوم: نتاشا، قرابت: د ترور لور، ټیلفون شمېره: ...... 00421

ښه نو په اي مېل ادرس کې یې څه ولیکم؟ امم، پیدا مې کړ: natasa2012@gmail.com

کټ کټ په خندا شوه، ویې ویل: بیا دې په نتاشا پسې وګرځي چې پیدا یې کړي. که مړه شوم، د اسامه په شان مې دې سمندر ته ورخطا کړي چې د ماهیانو د خوراک شم. انسان چې مړ شو، مړ دی، څه په قبر کې څه په سین کې.

فورمه یې ورولېږله.

اوونۍ تېره شوه. ماریا ګلابي رنګه لوی سفري بکس له الماری څخه راوایست او پر تخت باندې یې کېښود. زنځیر یې خلاص کړ، جامې یې په کې کېښودې. پلار یې پوښتنه وکړه: څو بجو ته یې غوښتې یې؟

نهه بجې باید په میدان کې اوسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور يې د قهوې پياله پر مېز کېښوده، ويې ويل: زه درسره مرسته وکم؟

ماريا موسکۍ شوه: نه مورې. هر څه مې تيار دي، فقط په بکس کې يې ږدم.

کالي يې خلاص شول، د مېز له سره يې کتابونه راواخيستل او د بکس په يوه کونج کې يې کېښــودل. بکس يې بند کړ. لپ ټاپ يې مړ کړ. مور ته يې وکتل. هغې خپل خاوند ته په سترګو کې اشاره کوله. ماريا پوښتنه وکړه: مورې، څه خبره ده؟

مور يې غلې وه. پلار يې وويل: ورته ووايه کنه.

مور وويل: هسې، ستا د صحي بيمې تشويش راسره و.

- څنګه تشويش؟

- وايم بيمه دې څه رقم ده؟

- که هلته کومه ناروغي راپېښه شي، بيمه به مې د علاج پيسې پرې کوي؛ خو د غاښونو او فيشن لپاره پيسې نه راکوي. هغه خو مې هسې هم نه دي په کار.

- د مړي څنګه؟

- د مړي؟

مور يې له مېزه سـترګې پورته کړې، دې ته يې وکتل: ګوره، که هلته مړه شي د جنازې د راوړلو پيسې به دې څوک ورکوي؟

- مورې، دا څه وايې؟

د مور غږ يې داسې تېز شو لکه له چا سره چې جنګ وکړي: ښه وايم. موږ خو خپل کور د تا لپاره نه شو خرڅولای چې د تا مړی ورباندې راوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوباما او عاطفه

د سپینې ماڼۍ مخې ته لوی میدان د خلکو نارو په سر اخیستی دی. نر او ښځه په درې ځپیزو چیغو د ((شـــیزوفرین)) نارې وهي: شيـ زوـ فرین، شي ــ زو ــ فرین

بارك حسن اوباما په حیرانۍ سره خلکو ته ګوري. تېر کال، چې ده په دویم دورکې هم انتخابات وګټل، دغه مخامخ میدان د ده له مینه والو ډك و؛ خو دا ځل خبره بل ډول ده. نن دغه لوی میدان د ده له مخالفانو ډك دی. د ۲۰۹۵ عیسوي کال د ســـپټمبر څوارلســـمه ده. اوباما په دې نه پوهېږي، چې څوك دی؟ ځان ورنه ورك دی. د انتخاباتي مبارزو پر مهال د ده رقیبانو ویل، چې دی بې مور او بې پلاره هلك دی؛ خو هغه وخت ده دغو خبرو ته اهمیت نه ورکاوه. دی د بارك حســـین اوباما لمسی دی. نیکه یې د خپل جمهوري ریاست په دوو دورو کې له عراقه خپل عسکر وایستل او په افغانستان کې یې سوله ټینګه کړه.

ځوان اوباما بیا په تېره دوره کې د اسراییلو او فلسطین تر منځ ځنډنه لانجه غوڅه کړه. دی پر ۲۰۹۰ کال د امریکا ولسمشرـ شـو. په شواروز کې شل او کله کله دوه ویشت ساعته کار کوي. ستړیا نه پېژني. په سیاست کې یې تر اوسه کومه غلطي نه ده کړې.

درې ورځې مخکې پر امریکایانو یو مصـــیبت نازل شـــو. امریکایان بوږنېدلي دي، لوری لودن ورنه ورك دی. اوباما خپل ټول کارونه یوې خوا ته پرې ایښـــي دي، چورتونو په مخه کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د امریکا لوی ارواپوه ځان ته وروغوښت. له هغه یې وپوښتل: شیزوفرین څه ډول ناروغي ده؟

ــ ښاغلیه! دا اروایي ناروغي ده. سړی په دې ناروغي کې د خیال او واقعیت فرق سره نه شي کولای. که په خیال کې اسمان ته پورته شي؛ نو ګومان کوي، چې په ریښتیا هم اسمان ته ختلی.

ــ لکه ما؟

ــ نه، نه، صاحبه دا څه وایاست؟

ــ ولې زه خپل بابا ((مور)) بولم؟

ارواپوه خپلې ذره بیني عینکې د پزې پر سر برابرې کړې، ویې ویل: جناب! هر انسان فطرتاً له خپلې مور سره ډېره مینه کوي.

ــ خبره د مینې نه ده.

ــ صاحبه! زه تاسې

ولسمشر یې خبره ونیوه: زه ښه پوهېږم، چې مشر اوباما زما نیکه دی؛ خو کله چې د هغه قبر ته درېږم، ګومان کوم، چې هغه مې مور ده. زړه مې ټوپونه وهي. د مور کلمه مې بیخي غیر ارادي له خولې څخه راوځي.

ارواپوه د تندي خوله وچه کړه، ویې ویل: صاحب! تاسو د مور مینه په ریخه لیدلې نه ده. ستاسې مور ستاسې له زېږونه مخکې په حق رسېدلې وه؛ ستاسې روح د مور د مینې تږې ده؛ ځکه خو تاسې دغه مینه په بابا ماتوئ.

اوباما له چوکۍ پورته شـو. څو ګامه یې واخیستل، بیا یې وپوښتل: زه ولې دغه مینه د مور او د انا په قبر نه ماتوم؟

ارواپوه په رېږدېدلي غږ وویل: عالیجنابه! تاسې خپل بابا ته ډېر ورته یاست.

اوباما مېز په سوك باندې وډباوه. د هغه د تندي ګونځې، د ارواپوه رنګ والوځاوه. ارواپوه یې تر لاس ونیو. ویې ویل: ته ما غلطوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شېبې چوپتيا وه. ارواپوه د خپل زړه دربا او د اوباما تېزه ساه اورېدله. خاموشي د ولسمشر۔ تر غوسې لا ځورونکې وه. اوباما خپل سر پر مېز ايښی و. اوږده شېبه وروسته يې سر پورته کړ، په لاس باندې يې ارواپوه ته د وتلو اشاره وکړه.

ولسـمشرـ تر مازديګره پورې يوازې سر ناسـت و. په انټرنټ کې يې د ارثيت (genetics) په باره کې مطالعه کوله. مازديګر يې د جنيټيك پروفيسرـ ځان ته وروغوښت.

اوباما وويل: زه ولې خپل بابا ته دومره ورته يم؟

ـ جناب! تاسـې د هغه لمسی۔ ياسـت، هغه سـتاسـې د مور پلار دی؛ نو دا طبيعي خبره ده.

ـ په ټوله دنيا کې دوه نور داسـې کسـان شـته، چې هر څه يې سره يو شی وي؟

ـ نه.

ـ نو زه او نيکه مې ولې داسې يو؟ زموږ هر څه سره ورته دي. ذوق او سليقه مو يو دی، زما ايټالوي پيزا خوښېږي، د هغه هم خوښېده، اچار مې بد ايسېږي، د نيکه هم بد ايسېده. دا ولې داسې ده؟

اوباما يوه شـېبه غلی و، د کوټې اوږده يې په چابکو ګامونو لنډاوه. بيا يې وويل: ولې موږ دومره سره ورته يو؟

سر ته يې لاس يووړ: وګوره زما ويښـته، زما سـترګې، زما شـونډې، زما هر څه. زموږ ونې، ولې، ملاوې، د پښـو اندازې، زموږ هر څه عين شی دي. دا څنګه امکان لري؟ وايم څنګه؟

ارواپوه ناړې تېرې کړې. ويې ويل: صاحب! دا د ارثيت مسئله ده.

اوباما په قهرېدلي غږ وويل: دروغ ولې وايې؟ غبرګولي وروڼه هم دومره سره ورته نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارواپوه خبرو ته خوله جوړه کړه، ویې ویل: صاحب!

اوباما د میز له سره قلمداني ایسته وار کړه، چیغه یې کړه: ووځه.

تر ماخوستنه یې د خپلې کورنۍ په باب تحقیق وکړ. نورو ورته ویلي دي، چې مور او پلار یې په یوه ټرافیکي پېښــه کې وفات شــوي وو. نیکه یې د ده پالنې ته وخت نه درلود. دی په روزنتون کې ستر شوی و. هغه خپل نیکه او انا هم له نژدې نه وو لیدلي. څو پورې چې هغوی ژوندي وو، هېڅوك نه پوهېدل، چې بارك حســـن د اوباما لمسیــ دی. هېڅا هغه نه و لیدلی. تل به ســـاتونکي ورسره وو. ده حق نه درلود، چې له خپل باغ څخه ووځي. هر ډول امکانات هملته ورته برابرېدل.

اوباما په انټرنټ کې د هغې ورځې ټولې ورځپاڼې وکتلې، چې مور او پلار یې مړه شـوي وو. په یوه اخبار کې هم د ده په باب څه نه وو لیکل شـوي. سکرټرې ته یې وویل: د ((مېري)) ولادي روغتون ریس راوبوله.

پخپله بېرته په انټرنټ باندې لګیا شـــو. نیم ســـاعت وروســـته د روغتون ریس راورسـېد. څو شـېبې دواړه غلي وو. اوباما په دوو ګوتو باندې خپل تندی سـولاوه. بیا یې د غټو ګوتو په شا خپلې سـترګې وموښـلې. د جېمز سـترګې د ولسـمشرـ په لوري ګنډلې وې.

اوباما وپوښتل: زما د زېږېدو دقیق وخت راته ووایه.

ـــ ۲۰۲۰ کال د نومبر درېیمه د سهار اته بجې او پېنځه ویشت دقیقې

ـــ مور مې د موټر په ټکر کې مړه شوې وه؛ نو زه څنګه وزېږېدم؟

ـــ صـــاحب! هغه چې یې روغتون ته راوړه، ته یې په نس کې لا ژوندی وې، هغه مو عملیات کړه. تاسې مو د هغې له نسه راوایستئ.

ـــ دا کیسه مې ډېره اورېدلې ده. د ۲۰۲۰ کال راجستر دې راوښیه.

جېمز وویل: صاحبه، اممم ما ویل، زما بیخي په یاد دی، همدغه وخت و؟

ـــ وایم لیست راوښیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جېمز د خپل ساعت بلوتوت فعاله کړ. پر مخامخ دېوال يو چوکاټ ښکاره شو. د چوکاټ پر سر ليکل شوي وو: په ۲۰۲۰ کال کې زېږېدلي ماشومان.

اوباما وويل: زما نوم په کې راوښيه.

جېمز په ليست کې د بي توری راوړ، د نومونو اوږد رديف و، خو د بارك حسن نوم په کې نه ښکارېده.

اوباما لا بله پوښتنه نه وه کړې، چې د استخباراتو مشر- کوټې ته ننوت. ويې ويل: ښــاغليه ځينې خبرې دي، چې ښــاغلی جمېز پرې نه دی خبر، اجازه راکئ، زه يې درته تشرېح کړم.

اوباما وويل: زه يې اورم.

_ ښاغليه! خبره داسې ده، چې د امنيتي ملحوظاتو په خاطر ستاسې نوم په راجســتر کې نه و ليکل شــوی، دا د مشرــ اوباما ســپارښــتنه وه، چې هېڅوك دې ستاسو په باره کې خبر نه شي.

_ ما د خپلې مور يادښــتونه ولوســتل، د هغې په يادښــتونو کې د اميدوارۍ خبره نشـــته. هېڅ کلينيك ته د خپل حمل د معاينې لپاره نه وه ورغلې. ما د ټولو ولادي کلينيکونو راجستر کتلی.

ډاکتر جېمز وويل: کېدای شي. اممم، ځينې ميندې خپل معاينات نه کوي.

_ دا نو ډېره احمقانه خبره ده، چې د امريکا د جمهور ريس لور دې خپل معاينات ونه کي. زه پوهېږم داســې څه شــته، چې تاســې يې رانه پټوئ. ځئ ورك شئ، زه به يې پخپله پيدا کم.

اوباما په خپل اتاق کې يوازې ناســـت و. د ټلويزيون ريموټ يې په لاس کې و. درگرده يې چېنلونه بدلول رابدلول. داســې ښــکارېدل، چې دغه کار به غيرارادي کوي؛ خو يو وار پر چوکۍ نېغ شــو. په يوه چېنل کې ســل يو نيم ســل پســونه يې ښکاره کړل، چې ټول سره يو شان وو، بيخي سره ورته وو، تا به ويل چې د يوه پسه عکســـونه يې سره څنگ په څنگ ايښـــي دي. دا د لومړني کلونېنگ په هکله يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطلب و، چې په تېره پېړۍ کې تر سره شـــوي وو. یو دم دغه مطلب بند شـــو. سندره شروع شوه.

اوباما پاڅېد. د مېز له روکه یې البوم راوایســـت، خپل عکســـونه یې د مېز پر سر کتار کړل، د خپل نیکه عکســـونه یې هم ورسره کېښــود. عکســـونه یې سره ګډوډ کړل، بیا یې سره کتار کړل. په ځیر یې ورته وکتل. د نیکه عکسونه یې پکې پیدا نه کړل. ټول عکسونه لکه د کلون شویو پسونو انځورونو سره ورته وو.

عکسونه یې ژر راټول کړل، په روك کې یې واچول. په منډه د سپینې ماڼۍ چمن ته ووت. هلیکاپټر ته وروخوت. پیلوټ ته یې وویل: کلونینګ سنټر.

هلته یې له پوهانو د کلونینګ په باره کې معلومات واخیســـتل. اوس پوه شـــو، چې ولې ده ته په مکتب کې د بیولوژي درسونه نه وو ورکړل شوي.

څلور ورځې نورې تېرې شوې، بارك اوباما له هېچا سره ونه کتل. په ځان کې ډوب و. د امریکا کابینه او کانګرس حیران وو، چې څه وکړي.

د استخباراتو مشر د کلونینګ او جېنیټك کارپوهانو ته دنده ورکړې وه، چې د دې رســـوایي لامل پیدا کړي. هغوی دې نتیجې ته سره ورســـېدل، چې د اوباما په بدن کې د عاطفې جېن د دې لانجې سبب ګرځېدلی، که د عاطفې جېن د ده په وجود کې نه وای؛ نو ده به هېڅکله خپل بابا ته د مور خطاب نه کاوه. دی ځکه هغه مور بولي، چې د هماغه کلونېنګ دی. هره حجره هغه حجرې ته د مور په ســـترګه ګوري، چې دا ورنه پیدا شوې وي.

د استخباراتو مشر پوهانو ته امر وکړ، چې د اوباما د کلونېنګ په بل نسل کې، چې اوس په لابراتوار کې کار وربانديې روان و، د عاطفې جېن له منځه یوسي.

پر پینځمه ورځ اوباما خلك د ســپینې ماڼۍ مېدان ته وروبلل، ویې ویل: نه پوهېږم چې زه څه شی یم؟ انسان یم که روبوت؟ د سیاست ماشین یم که د انسان په لاس جوړه شـــوې نانځکه؟ دا دومره وخت نه ما ځان پېژانده او نه تاســـو پېژندلم. له ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره دوکه شوې وه، د امریکا له ټولو خلکو سره دوکه شوې ده. زه نارمل انسان نه یم. زه له خپلې مور نه یم زېږېدلی.

په سترګو کې یې اوښکې وځلېدې، په رېږدېدلي اواز یې ویې ویل: زه د مشرـ اوباما کلون شوی کاپي یم.

د خلکو تر منځ خپل منځي خبرې پیل شوې. لویه غوغا پورته شوه.

شېبه وروسته اوباما خپل لاس پورته کړ. د خلکو غږونه کرار کرار غلي شول.

اوباما وویل: تاسې انسانان څومره ټیټ خلك یئ. د خپلې ارامۍ لپاره، د دې لپاره چې تاسې هوسا ژوند ولرئ، په هرڅه لاس پورې کوئ.

تاسو دومره فکر نه و کړی، چې یو لابراتواري سړی به څه احساس ولري؟

ما پوره پېنځه کاله ستاسو خدمت وکړ. ستاسې ډېرې ستونزې مې درحل کړې؛ خو تاسې به زما ستونزه راته څنګه حل کړئ؟

چوپتیا خوره وه. اوباما څو شېبې غلی شو، تا ویل چې ټوله دونیا ګونګۍ ده، ان د مرغانو اواز هم نه اورېدل کېده.

اوباما بیا شروع وکړه: تاسې ما ته زما هویت راکولای شئ؟ تاسې ما ته د یوه نارمل انسان روحي سکون راکولای شئ؟

څو شــېبې یې په چوپه خوله خلك څارل، بیا یې وویل: نه، تاســې زما لپاره هېڅ نه شئ کولای.

بیا غلی شو. چوپتیا اوږده شوه. د استخباراتو مشر ناکراره دې خوا ها خوا کتل.

اوباما بیا په خبرو سر شو: تاسې انسانان، چې زما لپاره دومره کوچنی کار نه شئ کولای؛ نو زه به ولې ستاسې خدمت وکم؟

چا ځواب ورنه کړ.

بیا یې وویل: تاسو ته وایم. زه به ولې ستاسو لپاره کار وکم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلك لکه مخکې غلي وو.

اوباما وويل: ما غوښتل له تاسو څخه غچ واخلم. ما کولای شول د اټومي حملې امر وركم، ټول انسانان د سترگو په رپ کې له منځه يوسم؛ خو دا كار مې ونه کړ.

څنډ وروسته يې وويل: خو زه به بيا هم تاسو ته خدمت وكم.

خلك ورته حيران کتل.

ويې ويل: پوهېږئ؟ يو شی، فقط يو شی دی، چې ما دې كار ته اړ باسي. هغه عاطفه ده. زه له انسان سره مينه لرم. ما دغه مينه نه پرېږدي، چې انسان ته ضرر ورسوم.

د خلکو چکچکو او شور لکه د اسرافيل دويمه شپېلۍ د سپينې ماڼۍ په ميدان کې ژوند راژوندی کړ.

اوباما وويل: خو يوه خبره شته، دې نه وروسته به هېڅوك حق نه لري، چې د انسان کلون جوړ کي.

خلکو يو بل سره په غېږ کې نيول، اوباما ته يې لاسونه خوځول.

د استخباراتو مشر د کلونېنگ مركز ته زنگ وواهه:

ـ څنگه شو؟ په نوي اوباما کې مو د عاطفې جين سره څه وكړل؟

ـ ايسته مو کړ؟

ـ بېرته يې کېږدئ.

ـ څه شی؟

ـ وايم غبرگ يې کئ.

07-Dec-2009

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انتحاري پمپر

کلونه وروسته د سردار داوود خان روغتون ته لاړم. هر څه راته نا اشنا او بل ډول ښکارېدل. د اول پوړ په دهلېز چې ورننوتم، چپ لاس ته تاو شوم. دهلېز د شیکاګو د هوايي میدان د ټرمینل غوندې لوی او له خلکو ډک و. خلک هم ناروغانو غوندې نه ښکارېدل، د مسافرو په شان د چا په لاس کې ټیرونو والا بکسونه و چې په ځان پسې یې څکول او ځینو پر اوږو وړکي بیکونه اچولي وو.

نه ټرمینل خو نه و. له ټرمینله یې توپیر په دې کې و چې په دې دهلېز کې کانکریټي متې یا ستنې ډېرې ولاړې وې. دغو متو د دهلېز سور په درېو برخو ویشلی و او په اوږدو کې هم هر پنځه ګامه وروسته به دې یوه مته مخې ته راغله. دوه نور توپیرونه یې هم وو. یو دا چې چت یې ټیټ و، زموږ د کورونو غوندې او بل دا چې د ټرمینل د دواړو خواوو دېوالونه سر تر پایه یا ښیښې وې یا رسټورانونه دې په کې لیدل او یو نیم ځای کې تشنابونه؛ خو دلته دې سترګې یوازې پر بې کړکیو کانکریټي دېوالونو لګېدې. چې یو څو قدمه مخته لاړم نور توپیرونه یې هم رامعلوم شول. د شیکاګو په ټرمینل کې دواړو خواوو ته ګېټونه وو چې په انګریزي تورو او عددونو نومول شوي وو لکه ګېټ (E 45). له دغو ګېټونو څخه په هوا کې یوه لاره د الوتکې وره ته تېره شوې وه. له باندې نه دغه لارې سپین کانټیرونه وو چې یو د بل له خېټې راوتلی او ټول سره تړلي وو؛ خو د ننه چې به ورغلې، ویل به دې چې په تنګ دهلېز کې روان یم. د هر ګېټ له خولې سره په ارت دهلېز کې دوه درې سوه چوکۍ لګېدلې وې چې مسافر به ورباندې کېناستل، د ګېټ په خوله کې د ولاړو مېزونو شا ته د دېواله سکرین ته به یې کتل چې کله د دوی د بورډنګ وخت رارسېږي. هغوی چې وخت ورته ډېر و اکثره به خپل لپ ټاپونه یا آی پډونه ایستلي لیکل یا لوستل به یې کول، ځینو کتاب لوست او یو نیم به په

(c) ketabton.com: The Digital Library

موبایل کې ګېم واهه. خو د روغتون په دهلېز کې یوه چوکۍ هم نه وه ایښې، ټول خلک د دهلېز په منځ کې روان وو. نه پوهېږم ولې په اول نظر کې دا ځای راته لکه د شیکاګو ټرمینل ښکاره شوی و، دا او هغه خو لکه ځمکه او اسمان سره توپیر لري.

زه د خلکو په ګڼه ګوڼه کې د دهلېز په منځ کې روان شوم. تا راته ویلي وو چې هر وخت به د خلکو په منځ کې ګرځې، شاوخوا به دې ځارې او که په چا باندې شکي شوې، ځان به ترېنه باسې. تا راته دا هم ویلي وو چې ګوښه ځایونو کې به نه ګرځې، داسې ځایونو کې چې د خلکو تګ راتګ په کې کم وي. د چپ لاس له مټو ها خوا ته د دهلېز پر سپېره غولي هېڅوک نه وو. د دې خوا د دېوالونو خړ نخودي رنګ هم لکه د پېس بني ادم پوستکي ځای ځای سپین او یو څه ژور و، لکه چا چې په لاس باندې رنګ ګرولی، توږلی وي او لاندینی استر یې رابرسېره کړی وي.

دغسې بره خوا روان وم چې د پولیسو په لباس کې زما په قد، غنم رنګی برابر سړي ځان راته نژدې کړ. دا څو شېبې مخکې مې دی ولید چې د دهلېز له لوی ښیښه یي وره څخه د باندې ووت. د وتو په وخت کې یې ما ته راوکتل خو دغسې ووت. سړی راته موسک شو، لکه ملګری. نه پوهېږم څه یې وویل، هماغه بې معنا خبرې چې له یو چا سره د خبرو د پیلولو لپاره یې کړې، «ګرمې ډېره نه ده؟». ده څو وارې هڅه وکړه چې ما له ځانه سره د دهلېز چپې خوا ته چې هېڅوک په کې نه وو، وګکوي؛ خو ما ته ستا خبره یاده وه چې له ګڼې ګوڼې به نه ووځې. د هغه خبرې مې یو مخ هېرې دي، ان په دې نه پوهېږم چې دا زما خیال و، زما وهم و که هغه رښتیا په ما پسې راغلی و.

ورور مې عصمت الله، هغه چې د غاښو ډاکتر دی، راباندې غږ وکړ: «د نورالله انډېوالان درته ولاړ دي چې ودې ګوري.» نورالله ورور مې تر ما درې کاله مشر دی، هغه اوس په سویډن کې اوسېږي. د حربي ښوونځي د دورې یو څو ټولګیوال یې په دې روغتون کې ډاکتران دي. ډاکتر نثاراحمد همراز مې ولید چې تر نورو دنګ، کریمي رنګه پتلون او سپین کمیس یې ډنګر بدن پوښلی دی. د دهلېز چپې خوا ته وګرځېدم. د یوه بل دهلېز په خوله کې د ښیښه یي وره مخې ته مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورالله له ملګرو سره د غېږې روغبړ وکړ. هرچا راته ویل: «سـفرونه په خیر، په خیر راغلې. والله چې درپسـې خپه شـوی وم. سـفر دې څنګه و؟ سـات دې تېر شو؟»

دوی تر لاسونو ونیولم، په نري دهلېز یې ننه ایستم. دهلېز لکه هماغه لارې و چې د ټرمینل له ګېټه د الوتکې وره ته ورتله. دېوالونه او غولی یې په تور بخون فولادي رنګه موکېټ پټ وو. د دهلېز په یوه نسبتاً ارت ځای کې، پر غولي په کریمي رنګه پوښ کې یوه پنډه توشکه پرته او ورباندې دوه ګردي نل وزمه بالښتونه ایښي وو، لکه د ناوې تخت. زه یې پر توشـکې کېنولم. ښـځې نجونې راپیدا شـوې، دنګې تورې، په ونه برابرې غنم رنګې، له نارینه وو سره لاس په لاس لکه زوم او ناوې. یوه یې زما څنګ ته کېنوله. شېبه وروسته پاڅېدو، په نورو جوړو پسې روان شوو. ځان سره مې وویل چې کاشکې له مخکې نه خبر وای چې سم کالي مې اغوستی. دا څو شېبې د مخه چې د روغتون په لوی دهلېز کې روان وم، کاوبای پتلون او ټي شرټ مې پر تن وو خو اوس په تور وزمه فولادي رنګه دریشي— کې وم چې نقره یې رنګه لیکې لرې. نیکټایي مې د سپین کمیس د ټنیو له منځه لاندې تېره شوې او څوکه یې ورکه وه. راومې ایسته او پر نس باندې مې یې وځړوله.

شـېبه وروسـته بېرته په هماغه لوی دهلېز کې وم؛ خو ملګري راسره نه وو. لکه دا بل ځای چې مې په خوب کې لیدلی وي، نه ښـځې وې نه انډیوالان. د پولیسـو په جامو کې سـړی مې خوا پورې روان و. د دهلېز پای ته ورنژدې کېدو، داسـې احساس راته پیدا شو لکه سړی چې د ژوند پای ته ورنژدې کېږي. په دې فکر کې وم چې له دې سـړي څخه څنګه ځان وژغورم چې ګورم ترور زی مې د رنګمالۍ سطل، په منځ کې یې برس او رولر په یوه لاس او لنډه الومنیمي زینه یې په بل لاس کې، د دهلېز پـه چپـه خوا کې یکي یوازې روان دی. اول مې د نصـیر ګومـان ورباندې وکړ خو چې سـم مې ورته وکتل، پوپل و. راباندې غږ یې وکړ: «راځه دې خوا ته، په هغه بېروبار کې څه کوې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاوخوا ته مې وکتل پولیس وزمه سړی ورک و. ته وا ځمکه چاوده شوه او دی په کې ډوب شـو. زړه مې تکیه شـو، د پوپل خوا ته ورغلم. پوښـتنه مې وکړه: «دلته کار کوې؟»

- هو، بل کار نه پیدا کېږي، اوس مې رنګمالۍ ته مخه کړې ده. راځه چې دې کوټې ته ننوځو.

په چپ لاس کې دهلېز د عصرـي کورونو د یوه تشـناب په اندازه د باندې خوا ته وتلی او په شرقي دېواله کې یې یو لرګین ور و. پولیس وزمه سـړی بیا راپیدا او راپسـې شــو. ما وې کار مې تمام دی، ځان مې ختم وګاڼه. خو دې خوا ته هم د خلکو ګڼه ګوڼه پیدا شــوه، عصــمت الله او یو څو ملګري مې شـا و خوا ته راټول شول. د کوټې ور یې راته خلاص کړ. ټولو ما ته کتل چې مخکې شم. زه چې په وره ننوتم، د پوپل نریو خړ فولادي رنګه جامو ته مې پام شو چې د زېړ، نسواري، سره، او سپینو رنګونو داغونه ورباندې ښکارېدل او د چپې تشې په حصه کې یې کمیس راوتلی و. پوه شــوم چې تمانچه ده. لاس مې درواچاوه، تمانچه مې راوایســته. عصمت الله د پوپل له جیبونو د تمانچې شاژورونه راوایستل. د پوپل رنګ والوت. لړزې اخیسـتی و. کوټې ته ننوتو، نور ملګري د کوټې چارچاپېره پر نیالیو ناسـت، ټوکې ټکالې یې کولې، لکه هېڅ چې نه وي پېښ شوی.

پوپل مې په څنګ کې کېناوه. هغه دېواله ته ډډه ولګوله، پښــې یې له زنګنو قات کړې او لاسونه یې داسې مړه وغځول چې تا وا سېکه په کې نشته. په دې فکر کې وم چې څرنګه تحقیق ځنې وکړم او په خبرو یې راولم. پوښــتنه مې وکړه: «چا زما د وژلو درته ویلي وو؟»

سړی بې ښه او بې بده، په خبرو سر شو: «طالبانو»

- ته څه پوه شــوې چې نن په روغتون کې زما نوبت دی؟ زه خو هره ورځ دلته نه راځم.

- د تاسو له خپل کوره خبره راووته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عصـمت الله ته مې وکتل. د هغه سـترګې رډې راوتلې وې. رایاد مې شـول چې ها بله ورځ عصــمت الله په تیلفون کې رانه پوښــتنه وکړه چې: «روغتون ته هره ورځ ځې؟» او ما ځواب ورکړ چې: «نه، یوازې په جفتو ورځو کې زما وار وي.» هغه کوټه مې ولیده چې عصمت الله په کې ناست و او په تیلفون کې راسره غږېده. په کوټه کې یوازې نه و، بشیر هم ورسره ناست و. بشیر مې تروورزی او ماما خسر دی او زما خور هم ورته ناســته ده. په هغه ورځ چې ما عصــمت الله ته خپل پروګرام ووایه، بشیر هم زما خبره واورېده او موسکی شو.

بشــیر به نو ولې طالبانو ته خبر ورکړی وي؟ هغه خو مې په تروورزیانو کې تر ټولو زیات یار دی او بیا پوپل ولې وژلم؟ پوښـتنه مې وکړه: څومره پیسـې یې درته منلې وې؟

پوپل غږ ونه کړ. ومې ویل: ولې دې دا کار کاوه؟

- څه به مې کړي وو، له ژونده بېزاره وم. هره ورځ ملابانګ ووځه، تر ماښامه پورې د سپي غوندې په ډوډۍ پسې منډې ووهه، د شپې بیا د ښځې او اولادونو لانجې ته غوږ شـه. د دې ژونده خو مرګ ښـه دی. ځان شـهید که، بې غمه جنت ته لاړ شه.

- ځان شهید که؟

- خود، انتحاري.

ولې مې تراوسه پام نه و شوی چې دی ممکن انتحاري واسکټ ولري. ژر مې یې پر ټټر باندې د کمیس له پاسـه لاس تېر کړ، هېڅ شـی نه و. هغه ښـی لاس د پرتوګ بنۍ خوا ته ورنژدې کړ. ما یې لاس ټینګ کړ. ملګرو باندې مې چیغه کړه: «ویې نیسئ»

چا یې پښې ټینګې کړې او عصمت الله یې سر په غبرګو لاسو ټینګ ونیو. پوپل په خپل ښــي لاس باندې زور کاوه چې تر پرتوګاښ لاندې بټن ټینګ کړې. ما یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس باندې نور زور وکړ، ناره مې کړه: «لاســونه يې ټينگ کړئ، انتحاري پمپر يې اغوستی.»

ملگرو مې د هغه د پرتوگ له پایڅو ونیول، پرتوگ يې راوایست. پوپل کونه او پښې تاوولې چې پرې يې نه ږدي خو زما انډیوالانو يې ډبل پمپر ځنې راوایست. سختې وېرې اخیســـتی وم چې اوس د ملگرو لاس د پمپر په بټن ونه لگېږي او ټول سره هلاک نه شو. خو ښه و چې داسې ونه شول.

په کوټه کې گډوډي وه، ټول ولاړ وو. هر چا یو څه ویل:

«پولیس راوغواړئ چې شنډ يې کړي.»

«لینونه يې سره خطا کړه، خبره خلاصه ده.»

«پام چې لاس ورنه وړې.»

«مه کوئ، دا زموږ او ستاسې کار نه دی.»

پوپل مو پر ځمکه څملولی ټینگ نیولی و. یو چا وویل: «کړکۍ خلاصــه کړه لاندې يې خطا کړه. که وهم چوي موږ ته به تاوان نه رسوي.»

هغه چې پمپر يې په لاس کې و، کړکۍ خلاصه کړه. د جالۍ پله يې په هماغه لاس خلاصاوه چې انتحاري پمپر يې ورباندې نیولی و. چا ورباندې چیغه کړه: پام کوه، په لاس. احتیاط چې لاس دې په بټن ونه لگېږي.

د جالۍ پله خلاصــه شــوه، پمپر يې لاندې خطا کړ خو د جالۍ به تارونو پورې ښخ شـــو. دا يې بل غم. اوس که پمپر وچوي خو ټول به ختم کړي. په بېړه له کوټې ووتو.

موټر مې چالان کړ، ډېر چټک د دارالامان په لوري روان شـــوم. په زړه کې مې گرځېدل چې پوپل به يوازې نه و، ممکن نور انتحاريان يې هم راپسې استولي وي. سړک خالي و او زه ډېر تېز. له علاوالدينه چې تېر شـوم، گڼه گوڼه شروع شـوه. د امريکاييانو اوږده اته ټيره برديمونه مې مخې ته روان وو. د يوه برديم شـــپږ ټيرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چپ لاس په فرعي سړک روان او یوه جوړه شاتني ټیرونه یې په عمومي سړک. بردیم چټک روان و او د دوو سړکونو تر منځ له کانکریټي جدولونو څخه یې دوړې بادولې. زما مخه خلاصه وه. بېړه مې وه چې ځان کور ته ورسوم. ځان سره مې کړه چې اول به کور بدلوم. که طالبان زما د کار له وخت او ځایه خبر دي نو کور به مې هم ورمعلوم وي. داسې نه چې بله ورځ د کور ور وټکېږي او چې خلاص یې کړم، طالب کاکا راته تمانچه نیولې وي. تا رښتیا ویلي وو چې په ځان به پام کوم. کور مې چې بدل کړ بیا به د امریکا سفارت ته ورشم، ورته وبه وایم چې دا ځل خو خدای بچ کړم، مګر بل وار به سخت وي. ورته وبه وایم چې سر ته مې خطر دی. ثبوت یې پخپله پوپل دی. په امریکا کې به پناه وغواړم. د سفارت کسانو ته به دا هم ووایم چې که زه طالبانو ووژلم نو زما بچیانو ته خو دې پناه ورکړي. نه غواړم چې هغوی هم ووژل شي. مخکې سړک تش و خو د دارالامان ماڼۍ ته چې ورلنډ شوم، یو دم پر سړک باندې ښځې ماشومان او نارینه راپیدا شول. وه خدایه اوس څنګه وکړم. داسې تېز روان یم که مې بریک کار ونه کړي او ټوک لاندې کړم؟ نه خدای دې نه کړي. دوی د سړک په منځ کې څه بلا غواړي؟ دا وګوره، رژېدلې پاڼې ټولوي. شېبه په شېبه ورنژدې کېدم. بریک مې کرار کرار ټینګ کړ. په هارن مې لاس ټینګ کړ؛ خو خلکو سپېره مخونه خړې سترګې راته نیولې وې، هېڅ مې په کیسه کې نه شول. مخامخ یو ماشوم پر سړک پروت او مور یې څنګ ته ولاړه وه. ما وې له ښي طرفه به یې له څنګه تېر شم خو هلته وړې نجلۍ پاڼې ټولولې. بریک مې ټینګ کړ، بریک داسې سست و، داسې نرم لکه پښه مې چې په ختو کې منډلې وي. ژر ژر مې څو وارې بریک خوشې کړ او بیا مې ټینګ کړ. موټر مې وچ د نجلۍ له ملا سره ودرېد.

2012.11.29

نیمه شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساعت

هېواد له وظيفې راغلی و. د لاس ســاعت يې د مخ لاس د پرېمينځلو لپاره وکيښ. د ساعت په ليدو يې يو وار بيا خوند واخيســت. په دې دېرشــو کلونو کې يې رنګ نه و اوښــتی. اوســني ســاعتونه داســې نه وي. لا يې کال نه وي تېر چې طلايي رنګ يې ســپين اوښــتی وي، کاش چې بيا پوره ســپين خو شي. نيم زېړ پاتې شي، نيم سپين. خو د هېواد سيکو ۵ ساعت هماغسې ځلېدونکی زېړ پاتې و، لکه د سرو زرو چې وي. مهمه لا دا وه، چې دا يې د پلار نښه وه. ده پر خپل پلار باندې ډېر فخر کاوه. د پلار ملګرو به يې هر وخت ويل چې هغه ډېر پاك انســان و. د اوسنيو چارواکو برخلاف هغه مفسد او رشوت خور نه و.

مخ لاس چې يې وکړ، ساعت يې د ټلويزيون د مېز له سره پورته کړ. لا وختي و، خبرونو ته لا شل دقيقې پاتې وې. بلې کوټې ولاړ، د کتابونو د الماری شيشه‌يي پله يې خلاصه کړه. د ايرو په رنګ کتاب يې راواخيست. د کتاب پر کلکې مقوايي پوښــتۍ يې لاس ورتېر کړ، لکه د کوچني ماشــوم پوســتکی ښــوی ولګېد. د کتاب سره عنوان ته يې په خوند وکتل:

«د ثور کودتا او د هغې ژورې پايلې»

تر عنوان پورته د مولف د نوم په لوستو يې لا زيات خوند واخيست: پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ. د هغه کتابونه اکثراً په انګريزي وي خو دا کتاب يې په پښــتو ليکلی و. هېواد د کاکړ بل پښــتو کتاب هم لوســتی و؛ خو چندان خوند يې ځنې نه و اخيستی. هغه کتاب کاکړ په پارسي ليکلی و او بيا نورو پښتو کړی و. د هغه کتاب ژبه مصنوعي غوندې وه، «سکالو»، «آړ»، «مخپتيينه» او داسې نورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نا اشـــنا کلمې په کې ډېرې وې خو د دې کتاب خوند د مولف په ژبه کې هم و. ژبه یې داسې وه، لکه څوک چې درته نکل کوي.

د کتاب پر پوښـــتۍ د څو پر له پســـې ټيټو جګو غرونو پر سر دوې چورلکې ګرځېدې، تصویر داسې تت و، لکه په خړ ماښام کې چې اخیستل شوی وي.

د دې تصـویر په لیدو سره هېواد ته هغه ماښـام وریاد شـو، چې له ترینکوټه په څرخي الوتکه کې کابل ته تللی و. د پلار وظیفه یې کابل ته بدله شـوې وه. پلار یې کالي په لارۍ کې د ځمکې له لارې ولېږل خو دوی پخپله په موټر کې سـفر نه شـوای کولی. د سر خطر ورته و. د ترینکوټ او کندهار تر منځ ټوله لاره د اشرارو په لاس کې وه.

مازدیګر و چورلکې ته پورته شـــول. پلار یې په یوه لاس کې خپل ډیپلومات بکس نیولی و، په بل لاس یې د سـنګر لاس. سـنګر تر هېواد دوه کاله کشرـ و. مور یې په یوه لاس یو کلنه پرتمینه په غېږ کې ټینګه کړې وه، په بل لاس یې چادري، چې د چورلکې شــمال یې له سره په هوا نه کړي. ټول چورلکې ته وختل خو هېواد لرې ولاړ و. وېرېده چې که مخته لاړ شي، نو د چورلکې تاوېدونکي څرخونه به یې په سر ولګېږي.

د دې صحنې په یادولو سره خندا ورغله. ځان سره یې وویل: زه څومره ساده وم. دا مې نه مې ویل چې مور او پلار خو مې تر ما ډېر جګ دي نو که د چورلکې څرخونه ټیټ وای، د هغوی په سر به لګیدلي وو.

بیا هغه صحنه وریاده شوه چې پیلوټ راغی، دی یې په غېږ کې چورلکې ته وخېژاوه او له ځان سره یې په کابین کې کېناوه. کابل ته چې ورسېدل، ماښام و او غرونه همداسې تت ښکارېدل.

هېواد د کتاب د ۲۱۶ او ۲۱۷ مخونو له منځه ګلابي رنګه ریتاړه، چې د لوستو ځای یې ورسره په نښـــه کړی و، ایســـته کړه. په دې څپرکي کې د خلقیانو او پرچمیانو پر وخت، د بندیانو دردونکی حال بیان شـــوی و. د بندیانو د ځورولو په لوستو سره یې خپل پلار سترګو ته ودرېد چې وهل کېږي، پر سرو سکروټو کېنول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي او په مرۍ کې يې سرې اوبه تويېږي. هغه د پرچميانو په حکومت کې درې کاله بندي و او چې له بنده راووت د پېژندلو نه و.

هېواد چې د کتاب څو کرښې ولوستې، ۲۱۸ ام مخ يې را واړاوه چې وګوري نوی عنوان څه دی. د دې مخ عنوان ورته ډېر جالب و: د ترينکوټ بنديان.

له تېر عنوانه پاتې درې کرښې يې زر زر ولوستې. له نوي عنوان سره د ده د ماشـــومتوب خاطرې تړلې وې. هغه مهال دی د اوو کالو و. د پلار په جيپ موټر کې به مکتب ته ته. هره ورځ به يې د سره کميس د جېب له پاسه يو نښان ټومبه. سور ستوری په منځ کې يې د نورمحمد تره‌کي عکس. پلار يې خلقی او د ترينکوټ امنيه قومندان و.

هاغه مهال هېواد ته د پلار مفکوره د قرآن کرښـه ښـکارېده. ده به هم اشرار بد ايســـول خو اوس د کوچنيوالي په څېر نه و. اوس يې هر رږېرور اشرار نه باله. اوس يې اشرار هغومره ګرم نه ګڼل، څومره چې به يې په کوچنيوالي کې ګڼل. د کتاب پنځه صفحې يې ولوستې. ساعت ته يې وکتل چې د خبرونو وخت خو به نه وي؟ لا پنځه دقيقې ورته پاتې وې.

د ساعت کيسه يې وریاده شوه. دوی په ترينکوټ کې وو. ماخوستن هېواد يوه سترګه خوب هم لا کړی و، چې پلار يې راغی. خدای خبر چې څو بجې به وې؟ هېواد په سـاعت نه پوهېده. پلار يې زنګېدلي ګامونه واخيسـتل. لاس يې پر دېوال تکيه کړ. د دېوالي الماری پله يې خلاصـه کړه. د پتلانه له جيبه يې څه وايسـتل او په چيني کاســـه کې يې واچول. هېواد د کړنګهار په اورېدو سره لـه تلتکه سر راوايست، پوښتنه يې وکړه: آغاجانه! څه شی دې راوړی؟

پلار يې په خوبولي غږ وويل: زوووېه! څمملـه نااااوخته دی.

هېواد چې سـهار پاڅېد، پلار يې وظيفې ته تللی و او مور يې هم په کوټه کې نه وه. ده دوه بالښتونه سره سر په سر کېښودل او پرې وخوت. الماری ته يې لاس ونه رسـېد. بل بالښـت يې ورباندې کېښـود. ور وخوت. د الماری پله يې خلاصـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه. کاسې ته یې لاس وغځاوه. منځ یې ورته نه ښکارېده. شیان یې راوخیستل. درې ساعتونه وو او یو په کې همدغه طلایي سیکو ۵ و.

ده په خوند طلایي ساعت ته کتل چې مور یې کوټې ته ننوته.

هېواد ساعتونه ورهسې کړل: ادې، دا د چا دي؟

ادې وویل: څې کېږې؟ پلار به مو تاسو ته راوړي وي.

هېواد په خوشحالۍ وویل: نو دغه طلایي به یې زه واخلم.

مور یې وویل: اوس نه. چې برېتونه دې وشول، بیا به یې درکړم.

هېواد تر هغې چې برېتونه یې کېدل، ډېر ځله په پټه طلایي ساعت له الماریو اخیستی او په لاس کړی یې و. لسم ټولګي ته چې شو، ملګرو ورته وویل چې که په بږېره دې چاړه تېره کړې، ژر به راوځي. ده هم څو وارې په پټه د پلار د بږیرې په ماشین بریتونه وخرییل.

بېرته یې کتاب ته پام شو. څلور نورې صفحې یې ولوستې. د اخري پراګراف په لوستو چورتي غوندې شو. پراګراف یې بیا ولوست. ځان سره یې فکر وکړ: پلار مې هغه ساعتونه له کومه راوړي وو؟ د ترینکوټ په بازار کې خو داسې شیان نه پیدا کېدل. ترینکوټ لا څه چې ان په کندهار کې هم داسې قیمتي اصلي ساعتونه نه وو. داسې ساعتونه خو به حاجیانو له عربستانه راوړل. داسې ساعتونه خو په ښکلو قوتیو کې وي خو پلار مې همداسې بې قوتیو راوړي وو.

د کتاب هغه متن یې بیا ولوست. ساعت ته یې وکتل. دا اول ځل و چې د ساعت په کتلو یې خوند وانه خیست. خوند یې څه کوې چې لا ورته وهم ځورېد. لکه ساعت چې به غاښونه لري او د ده پر مړوند به خوله لګوي. ساعت یې له لاسه وکیښ. اوږده شېبه یې ورته په ځیر کتل. په زړه کې یې تېره شوه: کاش پلار مې ژوندی وای او سپینه خبره یې راته کړې وای. پلار یې د تنې په کودتا کې وژل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد ســـاعت پر نيالۍ کېښــود. د کتاب هغه وروســـتۍ جملې يې بيا ولوستې:

«د ترينکوټ زندانيان به ورته حيران وو... هغوی سـاده مسـلمانان وو، نه د مرتجع په معنی پوهېدل او نه د فيوډال او امپرياليزم. له همدې امله به و چې د محبس خورد ضـابط چې له کوم بندي سره يو ښـه بوټ، واسکټ، کرتۍ، ساعت، قلم يا بل داســې شی وليده نو هغه به يې هم ځنې واخيســت. بيا به يې ورته وويل چې ته فيوډال يې ځان ته به تر دې هم ښه واخلې، دا يې زما.»

۱۳۸۹ د وږي ۲۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مرګ له کومي

موټرې داسې سره کتار دي لکه مېږيو چې لام تړلی وي. مخې ته مو عسکر ولاړ دي، موټرونه نه پرېږدي چې مخته لاړ شي، وايي لاره خطرناکه ده. زموږ موټر ځنې تښتی، مخ په بره ځغلي. یوه شېبه ښه منډه کوي بیا لکه د سړي ساه چې وسوځي، موټر ورو کېږي. موټر وان ګېر بدلوي. د ماشین غږ نرمېږي. دا څو شېبې مخکې یې داسې غومبهارې کړلې لکه ناروغ بني ادم چې زګیروی وکړي. د یوه مستري خبره مې رایادېږي. ویل یې «که موټروان، موټروان وي؛ نو د موټر په ژبه به پوهېږي. موټر سم دم خبرې کوي. همدا چې غومبهار یې وکړ، پوه شه چې ګېر بدلول غواړي.»

د سالنګ د تونل خوله راښکاره کېږي. د استاد شپون «شین ټاغی» ناول مې يادېږي. څه ښه تشبیه یې په کې کړې وه. ویلي یې وو چې: «د تونل خوله په سپینو واورو کې داسې ښکاري لکه په کفن کې چې د مړي سر ښکاره شي.» هر وخت چې په سالنګ سفر کوم، یوازې سالنګ نه، چې هرې خوا ته سفر کوم، مرګ مې سترګو ته درېږي، په زړه کې مې ګرځي چې ژوندی به کور ته ستون شم که نه؟

د کرزي د انتخاباتو اوله دوره وه، د پکتیکا لواړې ته تللی وم. چې بېرته راتلم، د منو کنډاو ته لا نه وو رسېدلي، چې د انتخاباتو سپینه ډاټسن راپسې شوه. دا لاره داسې نه وه لکه د پکتیا او خوست تر منځ لاره چې غرونه یې یو مخ سپېره شوي دي. د خامه سړك شاوخوا ته د ځېړی ګڼې ونې ولاړې وې. د منو کنډاو سر ته ورسېدو، نور نو موټر مو مخ په ځوړ راوان شوی و، شل دېرش متره به مو مزل کړی و، چې ګړز شو، موټر مو سخت ټکان وکړ. موټروان موټر ودراوه. راکوز شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ګورو چې د انتخاباتو موټر پر ماین برابر شوی دی. ما خپل بکس راواخیست په منډه مخ په بره د دوړو خوا ته لاړم، ما وې که څوك ټپي وي، چې زخمونه يې وروتړم. دوړې کرار کرار کېناستې، ښه ورنژدې شوم. د موټر بيخي درك نه لګېد. سړك دوه ځايه د زنګانه په اندازه ژور شوی و. دوړې کېناستې، موټر مو وليد، قريب پنځوس متره ها خوا په کنده کې لوېدلی و. موټر خو نه و، يوازې فريم يې پاتې و. د سيټونو د باډۍ او د ماشين درك يې نه و. هلته څوك ژوندی نه و پاتې چې زما مرستې ته دې اړتيا ولري. د ونو په څانګو کې د انسان د بدن غوښې ځړېدلې. بېرته خپل موټر کې کېناستو. وروسته وروسته وېره راته پيدا شوه، ښه نو که د هغه بل ګاډي پر ځای يې زموږ موټر الوځولی وای؟

اوس هم چې سفر کوم، هماغه صحنه مې سترګو ته درېږي. زه د ۳۰۳ موټر په اول سيټ کې ناست يم. له دويم سيټ څخه بوډا پاڅېږي، وايي: استاده! يو بريك خو ونيسه.

کلينر په تروه تنده ورته وايي: خيريت دی؟

ــ ميتيازو ته کوزېږم.

ــ مخکې دې څه کول؟ يو ساعت د هوټل سره ولاړ وو کنه.

ــ زويه زه تکليف لرم.

زه فکر کوم، چې هغه به د پروستات تکليف لري. وايم: استاده ورته ويې دروه. مريض به وي.

موټر درېږي. کلينر خپله چوکۍ قاتوي. دروازه خلاصېږي. د سترګو په رپ کې کافره يخه هوا ما ته ځان را رسوي. ګواکې همدې ته ناسته وه، چې ور خلاص شي او دا پر موږ باندې حمله وکړي. غاښونه مې کړس کړس سره لګېږي. د مېرمنې خبره مې رايادېږي «خدای که ته به په دوزخ کې هم تود شې» ګرمه نه ده، زه په رښتيا سړيچن يم. په کور کې چې يم، هره ګړۍ ورباندې بخارۍ لګوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلینر سپین ږیری تر لاس نیسي۔ ورته وایي: لرې مه ځه، کېنه همدلته، مخ دې غره ته که، کار دې زر خلاص که.

موټروان شا ته راګوري، لکه لویه توره چې یې کړې وي، غاړه هسکه نیسي، وايي: ځنګه ترې وتښتېدم، هسې ګپې کوي، خطر له کومه شو.

سپین ږیری له موټره دوه ګامه ها خوا کېني، غریب د کلینر له ډاره خپل اودس هم نه وچوي. ژر راولاړېږي. پرتوګاښ په پرتوګ کې منډي. د بوډا د ناستې په ځای په واورو کې زېړبخونه ژوره لیکه جوړه شوې ده او تاو ځنې خېژي. تېز باد لګېږي، د بوډا ږیره ښۍ اوږې خواته کږوي.

د هغه سپینې ږیرې ته چې ګورم، په خیال کې مې سپینه ښکلې نجلۍ جوړېږي. اوږی دی. نجلۍ د تونل خولې سره ولاړه ده. یخ شمال یې پر مخ لګېږي. طلايي ویښته یې باد ته نځېږي. هغې له نازه سترګې پټې کړې دي، سر یې هسك اسمان ته نیولی، داسې بریښي چې یخ شمال به خوند ورکړی وي. باد د هغې له پستو زلفو سره داسې لوبې کوي لکه د مین اروا، نه لکه د مین خیال. دا خو والله چې ښه تصویر دی. په شعر کې به یې راوړم. په شعر کې؟ زه کله ښه شعر ویلای شم، ځه په ناول کې به یې راوړم.

موټر چالانېږي، کلینر غږ کوي: د خیر دعا.

ټولې سپرلۍ بنګېږي. زما «اللهم سخر لنا هذا» پوره نه ده زده. بس همدومره وایم چې «اللهم اول خیر، اخر خیر، ظاهر خیر، باطن خیر» موټر تونل ته ننوځي. تېر اوړی مې یادېږي. د جوزا اوله هفته وه. په مزار کې تاوجن شمال لکه د تناره تاو د سړي ساه ډوبوله. سهار وختي راروان شوي وو. یوولس بجې تونل ته راورسېدو. د تونل له خولې سره په نل کې د چینې اوبه راتلې. ځومره یخې خوندورې اوبه. د سړي د خولې خوند ورسره ښه کېده. د مزار اوبه لکه غوړ چې وي یو رقم ښویې دي؛ خو د سالنګ اوبه ښې ځېږې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاشــکې کوچانی ژوند مو لرلای. په اوړي کې به ســالنګ ته راتلو، ژمی به جلال اباد ته تلو. لکه خوشال بابا چې وايي: «نه خوشــحال وای نه ختګ وای نه خاني وای»

زه هم وایم: نه ډاکتر وای، نه شاعر وای، بس کوچی وای. د هلمند یو کوچی مې رایادېږي. د هلمند خلك يې مالدار بولي. یو مالدار راته راغلی و. د زړه تکلیف يې و. شونډې يې شنې اوښتې وې، ساه بندي يې لرله، زړه يې سم کار نه کاوه. دوا چې مې ورکړه، ورته مې وویل: کاکا مالګه به بیخي نه خورې.

ويې ویل: ګرد سره؟

ـ هوکې، بیخي ګردسره به يې نه خورې.

ـ غوښې بم بې مالګې خورم؟

ـ هو.

ـ لوبیام بې مالګې؟

ـ هو، وایم هر څه بې مالګې خوره.

ـ بینډۍ هم بې مالګې وخورم؟

سر مې ورته د هو په معنا وخوځاوه.

سړي بیا وویل: پټاټې بم بې مالګې خورم؟

هم مې اعصــاب ورته خراب شــو، هم خندا راغله چې غریب څومره ســاده سړی دی. ورته مې وویل: کاکا! که دې په ښځه کېم مالګه وه، ځنې تښته.

له خندا شــین شــو. پر اوږه يې وټپولم، ويې ویل: دغســې مې سر خلاص که کنه.

هغه بله هفته ډاکتر فتاح غریب مړ شو. هغه هم د زړه تکلیف درلود. فشار يې لوړ و. شــکره يې هم لرلـه؛ خو بیبـاکي يې کوله. په ورځ کې بـه يې یو قوتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سګرېټ څکول. پخپله يې په ځوانه ځوانۍ کې خپل ځان وواژه. بې چاره، اوس به يې اولادونه څنګه شي؟ ډېره سخته ده، چې د سړي همزولي ومري، چې ټولګيوال يې ومري.

زه هم ډېر لټ يم. د خپل صحت په کيسه کې نه يم. هره ورځ وايم چې سبا به سپورټ شروع کوم؛ خو بيا يې بلې ورځې ته پرېږدم. وګوره خېټه مې ډېره غټه شوې ده. وزن مې پنځه اويا کيلو ته رسېدلی دی. ياره چې پنځه شپيته يې کړم بيا به مې غم نه وي.

تونل تپه تياره ده. د موټر د څراغونو تته رڼا په تورو دوړو کې ورکه کېږي. لس ګامه مخکې هم راته نه ښکارېږي. د موټرو د لوګيو بوی مې خوا ګرځوي. مسعود تونل په بم الوځولی و، چې ځان له طالبانو وساتي. بې خيره انسان، د تونل هوا کشونه يې خراب کړي دي. که نه دومره بد حال به مو نه و. دسمال مې له جېبه راباسم. پوزې ته يې نيسم. د عطر خوږ بوی مې سږېږمې ډکوي. د مکتب وختونه مې يادېږي. اووم صنف کې وم. هاغه وخت چارلي عطر موډ و. په اماني ليسه کې ژمني کورس ته تلم. کومه ورځ به چې واورې ډېرې وې؛ نو بيا به موټر نه پيدا کېده. له هوايي بلاکونو څخه تر اماني ليسې پورې به په پښو روان وو. هاغه وخت د هوايي ډګر بسونو له پښتونستان واټه حرکت کاوه، دغسې د ارګ د دروازې له مخې به سېده تېرېدل، لارې ټولې خلاصې وې، داسې نه وو لکه اوس چې هر سفارت خپل شاوخوا سړکونه بند کړي دي. په لاره کې به مو برف جنګې کوله. يوه ورځ د ميکرويانو نجونې مخکې روانې وې، موږ ورپسې. يوه ملګري مې راته په شرط کې وويل، چې که هغه سرې خولۍ والا دې وويشته، زه به ټولو ملګرو ته يو يو برګر واخلم. نورو ملګرو وهڅولم، چې «ويې وله، ته له چا ډارېږې؟ موږ درسره يو.» واوره مې په لاس کې ښه ټينګه کړه، د خپل ورغوي په اندازه غونډاره مې جوړه کړه. نجلۍ مې په نښه کړه، وار مې وکړ. د دواړو ولو په منځ کې يې ولګېده. تور ويښته يې چې تر سرې خولۍ راوتلي وو، په واورو سپينه شوه. ملګرو مې مخونه شا ته واړول. نجلۍ شا ته راوکتل. خوله يې خلاصه کړه چې زياړې وکړي؛ خو هېڅ يې ونه ويل. ګومان کوم چې زما تښتېدلي رنګ ته به يې زړه سوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

و. ویښته یې وځنډل. موسکۍ شوه، په مکیز یې رانه داسې مخ واړاوه، چې ویښته یې په هوا کې وچورلېده.

د هغې شـونډې مې داسـې یادېږي لکه دا اوس چې مې مخې ته ولاړه وي. څومره ښـکلې موسـکا یې وه. لکه ګلاب چې غوړېدلی وي. دا دی ولله بل تصـویر مې پیدا کړ. په واورو کې ګلاب؟ نورې غوټۍ په پسرـلي کې ګل شي؛ خو د یار شـونډې په واورو کې هم وغوړېږي. دا باید په کتابچه کې ولیکم، چې بیا مې هېرېږي. دا دی د تونل بل سر ته رسېږو. په رڼا کې به یې ولیکم.

له تونله وځو. د تونل دې خوا ته دا بله ګراري خلك «پالان خر» بولي. جالبه تشبیه ده. رښتیا هم داسې ښکاري لکه کته چې پر خره باندې پرته وي.

له جېبه مې قلم او کتابچه راباسم. ورباندې لیکم:

⋆ په واورو کې غوړېدلی ګلاب.

⋆ د مین خیال لکه باد د یار له زلفو سره لوبې کوي.

موټر ځای پر ځای درېږي. خلك نارې کړي: خیر، خیر، خدایه ته خیر کړې.

سر پورته کړم. که ګورم چې شـل دېرش ګامه لرې واوره ښـویېدلې ده. څو موټرې یې لاندې کړې دي. ټولو سپرلیو دعاګانو ته خولې خلاصې کړي دي. کلینر د موټر له سـویچبورده قران شریف راباسي. ژر ژر یې ښـکلوي. په سینې پورې یې لګوي. زړه مې رېږدي. که زموږ پر موټر واوره راوښویېږي؟

د خیر، خیر، غږونه د ماشومانو او ښځو له چیغو سره ګډېږي. له چپ لوري د غره لـه سره واوره رانژدې کېږي. موټر مو تر واورو لانـدې کېږي، موټر پـه سپینچکه تیاره کې ډوبېږي. داسې ښکاري چې کرار کرار ښی خوا ته ښویېږي. موټر په ښی ډډه څملي، له روکونو د مسافرو بکسونه راخطا کېږي. سپرلۍ د چپ لوري له چوکیو زموږ خوا ته راکږېږي. شـور دی، نارې سـورې دي. موټر سر په څېړۍ اوړي. سر مې په یوه شي پورې لګېږي. سـترګې مې پټېږي. څو شـېبې په هېڅ نه پوهېږم، وروسـته تېزه یخه هوا موټر ته راننوځي. سـترګې غړوم. تپه تیاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. په سختۍ سره ساه باسم. نه پوهېږم چې سر مې پورته دی که ښکته؟ ګومان کوم چې کولمې مې خولې ته راځي. شاوخوا ته لاس ټپوم. لاس مې په واورو لګېږي. کالي مې لانده خیشته دي. اوس د چا نارې سورې نه اورم. یوازې د زګیرویو تت اواز اورېدل کېږي. یخ مې ان د زړه تل ته ننوتلی. د تازه وینو بوی محسوسوم. پښې او لاسونه مې کرخت شوي دي. زړه مې ډوبېږي. مېرمنه مې رایادېږي. یوه شپه مې سخته تبه وه. تر سهاره راسره ناسته وه. هره ګړۍ به یې دسمال په یخو اوبو لنداوه او پر تندي به یې رااېښوده.

بدن مې رېږدي، ان هډوکي مې یخ وهلي دي. ساه مې ډوبېږي. وړکی وم، چې په اوبو کې ډوب شوی وم. په بګرام کې وو. روسانو د ویالې څنګ ته د کوټو غوندې ځایونه کیندلي وو، بیا یې همداسې پرېښې وو. مور اوبه ورخوشې کړې وې. یوه کوټه یې تر نورو ژوره وه. زه ورننوتم، اوبه مې تر زنې پورې رسېدلې، همداسې مخ ته تلم، بله کوټه ډېره ژوره وه، له دې کوټې څخه زینه ورکوزه شوې وه. پښه مې زینې ته رسېدلې وه، یو دم وښویېدم. اوبه مې له سره واوښتې. چې څومره مې لاسونه او پښې خوځولې هماغومره ښکته تلم. ساه مې داسې ډوبه شوې وه لکه دا اوس، له ژونده مې تمه ختلې وه، ګومان مې کاوه، چې په اوبو کې به مړ کېږم. یو چا تر لاس ونیولم، له اوبو یې راوایستم. په هغه ورځ مې مرګ په خپلو سترګو لیدلی و. اوس مې بیا هماغه حال دی. زامن مې رایادېږي. ورته ویلي مې وو، چې موټر به ورته اخلم. که ...زه ... مړ ... شم... هغوی ....به ... څنـ ... ـګه ... شي.

نور بیا په ځان نه وم پوه شوی. چې سترګې مې خلاصې کړې، په روغتون کې وم. په موټر کې یوازې پینځه کسان ژوندي پاتې وو. یو په کې زه وم. دا مې دویم ځل دی، چې د مرګ له کومي ژوندی راوځم.

پای

۲۵. ۱۱. ۱۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډاکټر شووام

بې مطلبه نیکي مې نه منله. دا مې خپله تجربه وه، په کوچنیوالي لا په دې پوهېدم چې مور مې هله نازوي چې ښه کارونه وکړم او خبرې یې ومنم. ما که ښه کول، د دې لپاره وو چې مور راباندې لاس تېر کړي. وروســـته ملا صـــاحب رازده کړل چې: «صـــالحه اعمال د دې لپاره دي چې بنده جنت وګټي». دا مې باور و چې هر دلبر تر خپل مطلبه دلبري کا. خو د ډاکټر شوام مطلب څه و؟

ډېره موده وروسته مې اي مېل خلاص کړ. د فېس بوک له خوا مسیج راغلی و: «په دې اونۍ کې دې د دغو ملګرو کالیزه ده.» د اکټوبر په اتمه نېټه د ډاکټر شوام اته دېرشمه کالیزه وه. ځان ته زهیر شوم. څو میاشتې کېدې چې نه مې ورته اي مېل لېږلی، نه مې ټېلیفون ورته کړی و. ژر مې د مبارکۍ اي مېل ورته ولیکه. په نیم ساعت کې مې د یو څو نورو اي مېلونو ځوابونه ولېږل. اي مېل مې بند کړ؛ بېرته مې خلاص کړ؛ د شـــوام ځواب نه و راغلی. ځان سره مې وویل مصرـــوف به وي. سبا به مې اي مېل بیا وګورم.

له انټر نېټ کلپه راووتم. د نادرېې لیســـې له څنګه تېرېدم چې درې تنه سیکهان مې مخې ته راغلل. ماشومتوب مې رایاد شو. په زاړه ښار کې مې د پلار دوکان و. د علي رضـــا خان د کوڅې په خوله کې یې بقالي وه. زه له پلار سره په دوکان کې کېناستم. د عاشقان و عارفان مکتب ته تلم. په صنف کې راسره یو څو تنه هندوان او سیکهان هم وو. دوی به د قران کریم په ساعت کې له صنفه وتل. کله کله به موږ ځورول. سیکهـــــ ماشومان د سر ویښـته د سر په څېړۍ کې لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډاره تړي. نه پوهېږم چا دا خبره کړې وه چې دوی په لونګۍ کې کچالو پټوي. زما زړه ته هم لوېدلې وه چې رښتیا به وي. د دوی لونګۍ ته به مې لاس اچاوه چې راوباسه کچالو دي. دوی به رانه تښتېدل. یوه ورځ یې سر معلم ته شکایت وکړ. سر معلم په چپړاسي باندې قف پايي کړم. داسې يې ووهلم چې بيا نه پوهېدم پر ځمکه روان يم که پر سکروټو. ان بوټونه مې په پښو کې تنګ شوي وو. خو سبا بيا هغه زه وم، هغه د سردار زامن.

✵✵✵

اول ځل چې هند ته تلم نو په ټوله لاره کې مې همدغه کیسې یادېدلې. اندېښنې اخیستی وم چې اوس به هندوان او سیکهان راسره څه رنګه چلند کوي. لکه څوک چې له چا سره بد کړی وي او اوس یې مخې ته ورځي. په ډیلي کې مې ډاکټر جاوېد ملګری و. هغه یو کال د مخه تللی و. په سکارټس روغتون کې یې کار کاوه. هغه د روغتون له مشرانو سره خبرې کړې وې او ما ته يې هم د زړه کړې کار سم کړی و.

زه د زړه څانګې ته ورغلم. هلته پروګرام راته جوړ شو چې اوله میاشت به په «ايکو» برخه کې کار کوم؛ بيا به کتنځي ته ځم؛ بيا عاجل اتاق ته او همداسې نورو برخو ته. دا نو اول ځل و چې د ايکو ماشين مې وليد. زموږ خلک يې د زړه ټلويزيوني معاينه بولي. ډاکټر ورته ناست و، ناروغ يې کوت. زه يې څنګ ته ورغلم د چپې اوږې شا ته يې غلی ودرېدم. ډاکټر په تريو تندي راوکتل. ويې ويل: «لرې ودرېږه!»

په دويمه ورځ لا ډاکټر نه و راغلی چې د ايکو اتاق ته ورننوتم. چپنه مې واغوسته. د ماشين سويچونو ته مې کتل چې نومونه يې زده کړم. د کوټې ور نيم کښې و. نرسه په دهليزه کې تېرېدله. زه يې وليدم. راغله. ويې ويل: دلته څه کوې؟

زما ځواب ته معطله نه شوه. ويې ويل: ژر کوه، چپنه دې وباسه او له کوټې ووځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسې مې وکړل. په زړه کې مې راتېر شول چې تاريخ به انتقام اخلي. تا په کوچنيوالي کې هندوان او سـيکهان ځورولي دي او اوس د دوی وار دی چې تا تحقير کړي. دا مې باور و چې خدای د بدو سـزا هم په دې دنيا کې ورکوي، هم په بله دنيا کې.

له ډاکټر نه به مې چې يوه نيمه پوښتنه کوله، ويل به يې: «کتاب وګوره.»

هر شـپه به تر دوولسـو بجو پورې د روغتون په کتابتون کې وم خو زما لپاره هر څه نوي وو او په لږ وخت کې د دومره ډېرو شيانو زده کول ګران. ځينې شيان بيا په کتابونو کې هم نه پيدا کېدل. د ډاکټر چلند دومره زهير کړی وم چې په دويمه هفته مې غوښـتل هر څه پرېږدم، بېرته کابل ته راشـم. خو ملګري مې پرې نه ښـودم. ويل يې چې کرار کرار به بلد شـم. په هماغه ورځ هغه له ډاکټر شـوام سره معرفي کړم. شـوام مشرـ ډاکټر و. راته ويې ويل: که څه مشـکل دې و، ما ته راځه.

سبا د ډوډۍ په وخت کې سره مخامخ شو. د ايکو په يوه درس مې هېڅ سر نه خلاصېده. ډاکټر شوام ته مې وويل. هغه موضوع راته دومره آسانه تشرـيح کړه چې هماغه ګړۍ مې زده شوه. ده رانه يو څو پوښـتنې وکړې. ځوابونه مې سم وو. د ډاکټر شوام خوښ شوم. ويې ويل: بېګاه زما مېلمانه يئ.

زه او ډاکټر جاويد ورسره رسټوران ته لاړو. په ډيلي کې داسې رسټورانونه لږ دي چې غوښه پخوي. ډاکټر شوام همداسې رسټوران ته بوتلو. ده هم له موږ سره د چرګ او د غوايي غوښـه وخوړه. ډوډۍ مو چې خلاصه کړه، په خپل موټر کې يې سينما ته يوړو. عجبه سينما وه. چوکۍ نرمې، مخې ته يې کشوه، تکيه يې قاتوه په کې اوږد غځېږه، د جوارو د پولۍ ډکه کاغذي کڅوړه دې په لاس کې، موټې ډکوه او خولې ته يې اچوه.

کرار کرار مو له شـوام سره انډيوالي جوړه شـوه. هره يکشـنبه ماښـام به په خپل سـوزوکي موټر کې په موږ پسـې زموږ کوټې ته راته او چکر ته به يې بيولو. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ځای کې به ده پیسې پرې کولې. موږ یې مصرف ته نه پرې ښودلو. ویل یې چې تاسې مسافر یئ.

د ایکو ډاکټر چې زموږ په ملګرتیا خبر شو، هغه هم راسره نرم شو. یو کال مې هلته تېر کړ. د ډاکټر شوام په برکت مې دومره څه زده کړل چې نورو ته یې څوک په دریو کلونو کې هم نه ورښیي.

د هندوستان د خلکو یو شی مې خوښ شو. هلته څوک په چا کار نه لري. مسلمان خپل مسجد ته ځي، هندو خپل مندر ته. په هندوانو کې هم زر رنګه طایفې دي خو هغه د چا خبره «عیسی به دین خود، موسی به دین خود». د یوه بګوان کالیزه وه. د روغتون نور ډاکټران یې لمانځلو ته لاړل خو شوام له موږ سره پاتې شو. هغه په هېڅ شي عقیده نه درلوده. موږ ته یې ویل: «بې عقیدې سړی په دې ښه دی چې هېڅ څوک یې بد نه اېسېږي، له هندو سره هم یار وي او له مسلم سره هم. خو دومره ده چې عقیدې والا خلک مطمین وي، ډاډه وي. خو زه داسې نه یم. که په تاسو باندې هره ټکه ولوېږي نو زغملی یې شئ، وایئ به چې د خدای له خوا همدا مقرر وو، خو زما له پاره ګرانه ده. که تاسې مړه کېږئ نو د ځنکدن په وخت به هم ډاډه یاست چې یو چېرې به ځئ؛ بېرته به ژوندي کېږئ؛ جنت به وي دوزخ به وي؛ حساب کتاب به وي؛ خو زما لپاره ډېره سخته ده. زما مرګ واقعي مرګ دی، ابدي مرګ.»

***

سبا بیا انټرنټ کلب ته ولاړم. د شوام ځواب نه و راغلی. ټېلیفون مې راواخیست. زنګ مې ورته وواهه. ټېلیفون یې بند و. ما ویل له ناروغانو سره به مصروف وي. نیم ساعت وروسته مې بیا زنګ وواهه. خبره هماغه وه. سبا او بل سبا مې څو څو ځله ټېلیفون ورته وکړ خو رخ نه شو. ما ویل ممکن بهر ته تللی وي.

بله اونۍ یې بیا ټېلیفون کار نه کاوه. ډاکټر جاوېد ته مې زنګ وواهه. هغه وویل: «ته نه یې خبر؟ ډاکټر شوام غریب خو موټر وواهه، ځای په ځای مړ شو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر شوام له ما سره ډېر ښه کړي وو، بې بدله ښه. ده رانه د هېڅ شي تمه نه لرله. په جنت او په دوزخ يې هم عقيده نه وه چې د خپلو ښو اجر به په بله دنيا کې ووينې. زه لا تر اوسه حيران يم چې هغه ولې راسره ښه کول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پټ قاتل

جنايي کيسه

۱

کامل د کارته نو د عمومي سړک په غاړه له موټره کښته شو. بیک یې پر اوږه سم کړ. د طلایي ښارګوټي بلاکونو ته په تللې لاره مخ په بره روان شو. ټټر یې مخې ته را ایستلی او غاړه یې هسکه وړله. د سینې، مټو او اوږو عضلات یې داسې پړسېدلې وو چې ګومان به دې کاوه چې اوس به تې شرټ څیري، له ډېره زوره.

موبایل ته یې زنګ راغی. د پتلانه جېب ته یې لاس کړ. چې څنګه یې موبایل را وایست، چا له شا وربانديې غږ وکړ: صبر!

ده مخ ور واړاوه. د اوږدو څټو ژټکی چې پکول خولۍ یې پر سر و، له موټرسیکل نه کښته شو. بل ملګری یې هماغسې پر موټرسیکل سپور و.

د کامل موبایل ته زنګ روان و. هلک ته یې وویل: خیر خو به وي.

هغه له ملا څخه برچه را وایسته، ویې ویل: پرتو موبایلته.

کامل په چپ لاس موبایل ورته وړاندې کړ خو مخکې له دې چې هغه موبایل ورنه واخلي، ده په ښــي لاس پر ټېک باندې یو کلک ســوک ورکړ. موبایل د دواړو له لاسونو خطا شو او پر سړک ولوید. هلک بې تولې او سر یې کښته شو. کامل یې هغه لاس ته لغته سیخه کړه چې برچه یې پرې نیولې وه. ډز شو. بل، بل، درې پر له پسې ډزې. کامل پر سړک ستوني ستغ ولوېد. له ټټره یې وینې روانې شوې.

پر موټرســیکل ســپاره غله تفنګچه په تخرګ کې پټه کړه. بل باندې یې غږ وکړ. شېرو بچیم، پرتو خوده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه موبایل پورته کړ. پر موټرسـیکل یې پښـه واړوله. بغغغغغغ شـو، موټرسـیکل د سترګو په رپ کې تېز له سترګو پنا شو.

د سړک د غاړې له کورونو خلک راووتل. د کامل پر جسد باندې ګڼ کسان راټول وو.

✵✵✵

**یوه میاشت وروسته:**

ډاکټر عادل جنايي آمر ته وویل: دا څه ریشـخندي ده؟ که نه یې شـئ نیولی چې موږ پخپله پسې وګرځو.

جنايي آمر پر څوکۍ نېغ شـو، لاسـونه یې د مېز پر سر کېښـودل او د دواړو لاسـونو ګوتې یې سره تېرې بېرې کړې، ویې ویل: ډاکټر صـــاحب! پوهېږم چې دردېدلی یې. موږ خپله ټوله وســـه کوو. باور وکه چې همکاران مو شـــپه ورځ کار کوي. لږ حوصله وکه. پیدا به یې کو.

ډاکټر عادل له څوکۍ پورته شـو. چیغه یې کړه: نور نو څومره حوصـله! که یې د تا ورور وژلی وای، حوصله دې کوله؟ څومره حوصله؟ څومره حوصله؟

شامل د ډاکټر عادل مټ ونیو، ویې ویل: لالا! خیر دی.

هغه خپل لاس تاو کړ. د ورور له منګول یې مټ خلاص کړ. ویې ویل: د څه شي خیر؟ خیر میر ولاړ تمام شو. دوی ایله دې ته ناست دي چې جېبونه ډک کي.

د جنايي آمر غنمرنګی مخ تور بخون شـــو. مېز یې په لاسي مخابرې وډباوه، ویې ویل: بس که! زه دې لحاظ په دې کوم چې دردېدلی یې ګنې زما په مخ کې د چا پلارم ولله که داسې خبرې وکړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲

د بلاک مخې ته لویه خیمه ولاړه وه. تر خیمې لاندې ډېر مېزونه او هر مېز ته ځلور څوکۍ اېښودل شوې وې. د خیمې په خوله کې نکلي لاسمینځوني او پر سر یې یو ځل کارېدونکي دسمالونه اېښي وو.

ډاکټر عادل له خیمې د باندې د مېلمنو هرکلي ته ولاړ و. شامل بیا د خیمې په خوله کې و او نویو راغلیو مېلمنو ته یې د ناسې ځایونه ورښییل او پر مېلمنو به گرځېده، له هر مېز سره به لږ تم شو، پوښتنه به یې وکړه: څه شی خو به کم نه وي؟

څوکۍ د ارهټ د سلواغو غوندې ډکېدې او تشېدې. کاریگر لکه د میږیو کتار په تگ راتگ کې وو. چا په لویو گردو پتنوسونو کې ډوډۍ راوړله او چا په هماغه پتنوسونو کې خالي لوښي او د ډوډۍ پاتې شوني وړل.

له یوولس نیمو بجو د مېلمنو راتگ پیل شو او تر دوولس نیمو بجو پورې په درز کې روان و، بیا نو سوکه سوکه کم شو.

د جمعې د لمانځه اذان وشو. ډاکټر عادل پر ورور غږ وکړ: لمانځه ته ځو؟

شامل وویل: ته ورشه، زه به پاتې شم چې دا لوښي موښي سره سمبال کړم. هغه دي د حوزې کسان هم راغلل.

د حوزې خېټور آمر مخکې او لس پنځلس عسکر او ضابطان ورپسې له شنو رېنجرو راکښته شول. ډاکټر عادل ورسره ستړي مه شي وکړه او د جمعې د لمانځه لپاره یې رخصت ورنه واخیست.

د حوزې آمر وویل: ورځه ورځه! وبخښه چې مونږ ناوخته شوو. په یوه قضیه کې مصروف وم. څّه وکو نو، د خلکو نوکر یو.

د هغوی د کتار په آخر کې یو هډور دنگ سور سپین هلک په قاسمي کمیس پرتوگ کې او ورسره یو نری سورچکی ژېکی له اوږدو څڼو او پکول خولۍ سره روان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو. د دواړو په پښو سپین سرویس بوټونه، او په تن یې اورکوټ واسکټونه، پایڅې یې د چنیانو غونډې تر ښنگرو پورته، برگ دسمالونه یې له غاړې نه تاو. د نري ژنکي پر غاړه د لړم رسم ټټو شوی. دوی چې د شامل له مخې تېرېدل، ویې ویل: خدا بخششیش! بسیار شازاده بچه بود.

شامل د هغوی د ډوډۍ غمه وکړه او چې ولاړل، په کاریگرو یې لوښي، مېزونه، څوکۍ، او خیمه راټول کړل. په دوو ډاینا موټرو کې یې بار کړل او بیا کور ته ولاړ. له درشل سره یې پښه ونیوه. له کوره د ښځمنو مېلمنو غږ راته. بېرته په پوړیو کښته شو.

عادل له جوماته راستون شوی و.

شامل ورته کړه: لالا! ځینې ښځې لا نه دي تللې. راځه چې د هغه ونې سیوري ته کېنو.

سوکه سوکه روان شول. عادل وویل: څه بې شرمه خلک دي. ډوډۍ خوراک ته خو ښه تیار دي خو کار ته یې بیا ملا ماته ده. دا دی څلوېښتي یې پوره شوه خو د قاتلانو درک یې معلوم نه کړ.

شامل وویل: د دوی سره دوه لنډغر غونډې هلکانم وو. چورت رالوېدلی چې دا به څوک وو. راته ویې ویل چې خدای بخششیش، بسیار شازاده بچه بود. کامل خو د داسې لوچکانو سره انډیوالي نه کوله.

عادل ځمکې ته کتل او بې له دې چې سترگې پورته کړي، وویل: د کنترول منطقوي کارمندان به وي. د جنایي ځینې کارمندانم لنډغرانو غونډې گرځي.

شامل وویل: لالا! نن یو فکر راولوېد.

لږ تم شو، بیا یې وویل: خدای دې یې وبخښي، کامل چې شهید شو په هماغه ورځ مې یې لپ ټاپ خلاص کړ. گوگل اکونټ ته یې ورغلم او د موبایل ډېټا مې یې ډانلود کړه، بیا مې یې له موبایل نه هر څه ډیلیټ کړل. ما ویل هسې نه چې کورني عسکونه او ویډیوگانې یې څوک خلاص نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عادل پوښتنه وکړه: ښه نو بیا؟

- وایم غله پخپله باید پیدا کړو.
- څنګه؟
- ما سره یې د موبایل IMEI نمبر شته. که د مخابراتي شبکو آنټنونه هک کړو، هر ځوک چې د ده موبایل وکاروي، پیدا کولی یې شو.
- ته یې هک کولی شې؟
- لا خو نه. خو فکر مې ورته کړی دی. یو ملګری مې دی، هغه یې کولی شي. د تا یادېږي چې د پاکستان د داخلې وزارت وېب سایټ یې هک کړی و؟
- افغان سایبري ځواک یادوې؟
- هو. ملګری مې په هماغه ډله کې دی خو نه پوهېږم چې دا کار به راته وکي که نه.

## ۳

شامل کمپیوټر ته ناست و.

وټس اپ ته یې زنګ راغی. په بېړه یې غوږۍ په موبایل پورې ونښلوه. ویې ویل: پیدا دې کړ؟

- پیدا مې کړ. ډېر لرې نه دی. د درېیم میکرویان افغان بې‌سیم ټاور راخیستی. همدا شېبه چا سره خبرې کوي.
- دقیق موقعیت یې معلومولی شې؟
- اوس نه. ټاور د دوه کیلومټرو شعاع کوور کوي. که سړی خپل لوکېشن آن کړي، بیا یې نغد چغد رانه وغواړه.
- سمه ده. مننه. تر بیا!
- تر بیا! ته ودرېږه! لوکېشن مې یې آن کړ.
- دا څه وایې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ته ودرېږه چې زوم يې کړم. اممممم، دا بنايي ده، دا هم بخارخانه، دا آصـف ګالري، بس همدغه ځای کې. شـینوازاده روغتون ته مخامخ، د آصف ګالري مخې ته ولاړ دی. دا دی روان شو. د هوايي میدان سړک خوا ته ځي.
- ګوره ملګریه! زه به ور وځم. ته يې موقعیت څاره. لالا سترې مه شې! دا دی ښه شوه چې لالا مېم راغی. د ده په موټر کې به پسې لاړ شو. کال مه بندوه.

شامل او عادل په بېړه له کوره ووتل.

د ماخوسـتن په تیاره کې د موټر څلور واړه اشـارې ولګېدې او د دروازو قلفونه يې خلاص شـول. عادل د موټر ور پرانیسـت، لا په کې سـم کېناسـتلی نه و چې بېرته کښته شو او موټر يې قلف کړ.

شامل غوږې په غوږونو اچولی و، ويې ویل: خیر دی؟

عادل له جېبه موبایل را وایست، چا ته يې زنګ وواهه. څو پورې چې زنګ تېرېده، ويې ویل: لاربندي زياته ده په موټر کې زر نه شـو رسـېدلی. هلو! سـلامونه. یو عاجل کار مې دی، موټر سـیکل مې دې غوښـت. سـمه ده. خیر یوسـې. هو، زه لاندې ولاړ یم.

شـــامل وویل: هغه هم بېرته راګرځېدلی دی. اوس د عبدالحق چوک خوا ته روان دی.

- ګیر به يې کړو. دا دی کریم راکښته شو.

له کریم نه يې د موټر سـایکل کیلي واخیسـته او له لنډې منډې وروسـته دواړه پر موټر سیکل سپاره شول.

تر سیاه سینګه پورې پر عمومي سړک ولاړل. بیا نو کوڅو ته شول او کابل ننداري ته ووتل.

شامل وویل: د سولې رستورانټ خوا ته روان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عادل اکسلېټر ټینګ کړ.

دوه دقیقې وروسته د شامل ملګري ورباندې غږ وکړ: موټر یې ودراوه. شل متره درنه لرې دی، لس متره، پنځه، ورسېدې.

شامل وویل: ومې لیده. لالا! همدغه ښوی هلک دی.

هلک شېریخ فروشۍ ته ننوت. د دخلچي مخې ته ودرېد. مستطیل شکله، پېړ پلاستیکي لوښی یې ورته ونیو: په دې کې یو څلور شېریخه راواچاوه.

دخلچي پوښتنه وکړه: متوسط که ډبل؟

- په څو دي؟
- متوسط په یو سل او شل، ډبل په یو سل او اتیا.
- متوسط راکه.
- سمه ده. څو پورې چې تیارېږي، هلته کېنه.

ژېکی لنډ مېز ته ورتاو شو. چې کېناست د پتلون په پایڅو کې یې څو ځایه سوري او ریښکي ریښکي تارونه جوت شول. سپینې جورابې یې تر ښنګرو پورې او سپین کرمچ یې په پښو وو. موبایل یې له جېبه را وایست. نرۍ ګوته یې پر سکرین تېره کړه.

عادل او شامل مخامخ ورته کېناستل.

شامل ورته کړه: ښکلی موبایل دې دی، آیفون ۱۲ دی؟

- نه، آیفون ۱۱.
- په څو دې اخیستی؟
- اخیستی مې نه دی. تره مې امریکا نه رالېږلی.

عادل وویل: بختور یې ولا چې داسې تره لرې. موږ ته خو څوک سنګ پای هم نه رالېږي.

ژني ورته په ارتو سترګو وکتل خو څه یې ونه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عادل او شامل جوس وڅښل او د باندې ووتل. موټرسیکل یې روان کړ او له شیریخ فروشۍ لږ بره ودرېدل.

شپېبه وروسته ژړۍ راووت. د موټر مخه یې راوګرځوله. ګړندی روان شو خو زر بېرته ورو شو او بیا د سړک څنډې ته ودرېد. ژړکی ورنه کښته شو. د موبایل څراغ یې ولګاوه. د مخې خوا ښۍ ټایر یې یو مخ ناست و. دې خوا ها خوا یې سترګې وغړولې. کېناست. رڼا یې ټایر ته ورنږدې کړه. د ویل له لاندې نه د ټایر څنډه داسې بهر ته راوتلې وه لکه شونډې چې بوڅې کړې.

- مرسته غواړې؟

ژړي د غږ لوري ته وکتل. دوه کسان وو. ده د موبایل رڼا ورسیخه کړه. چیغې ته ورته غږ سره یې وویل: څه شی غواړئ؟ تاسې څوک یې؟

غږ یې لړزېده.

عادل وویل: فقط رښتیا خبره راته وکه، نور کار درسره نه لرو.

عادل چې دا خبره کوله، شامل د ژړي څنګ ته ځان ورساوه.

ژړي وویل: خدای ته وګورئ. په ما کار مه لرئ. که موبایل غواړئ، د تاسو نه جار.

شامل وویل: شور مه کوه، ګنې خیر به دې نه وي.

عادل وویل: موږ نه غله یو، نه بدماش. تا تم چې ګورم نه د غله شک درباندې کېږي نه د بدماش. خبره واوره. دغه موبایل زما د ورور و. څلوېښت شپې مخکې غلو ورنه یووړ او هغه یې وویشت. تا غوندې ښایسته ځوان و. نن یې څلویښتي وه. نور څه درنه نه غواړم، فقط د موبایل خبره راته وکه چې له کومه دې کړی.

ژړي لاړې تېرې کړې. ویې ویل: خدای دې یې وبخښي. په خدا جان او په سی سپاره قران مې دې قسم وي چې رښتیا خبره درته کوم. دغه موبایل مې د موبایل سنټر نه په شل زره افغانۍ اخیستی.

شامل وپوښتل: کله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- میاشت به کېږي.
- دوکاندار یې پېژني؟
- دوکاندار یې ... امممم رنګ مې یې هېر دی خو چې ویې وینم، وبه یې پېژنم.
- ګوره هلکه! سبا به ورځې. زه به د موبایل کامره در ته غیر فعاله کړم. ته ورته ووایه چې کامره کوډ غواړي. د موبایل پخوانی څښتن راته پیدا که.

هلک غلی ولاړ و.

عادل وویل: که دغه همکاري ونه کې، پولیسو ته به وایم چې غل او قاتل ته یې. بیا نو دې خوښه خپله چې ځان څنګه سپینوې.

هلک وویل: که دا کار وکم، بیا اااا

عادل وویل: نور هېڅ شی درنه نه غواړو. فقط دوکاندار راوښییه او دغه کومک راسره وکه چې د قاتل درک له دوکاندار نه معلوم کو.

شامل وویل: په موبایل دېم کار نه لرو. نه یې درنه اخلو.

**۴**

د ورځې لس بجې وې. شامل د پل خشتي جومات ته مخامخ د موبایل سنټر مخې ته ولاړ و. پیکداره خولۍ یې په سر کړې او ماسک یې اغوستی و. پر سترګو یې تورې عینکې اېښې وې.

میکرویاني هلک یې ولید چې مارکېټ ته ننوځي. ورپسې شو.

هلک د اول پوړ په کوڅو کې دوه درې وارې تاو راتاو شو. بیا یوه دوکان ته ودرېد. وړوکی دوکان و د بانک د غرفې غوندې. شامل د څنګ غرفې سره ودرېد.

هلک دوکاندار ته وویل: دغه موبایل مې تا نه اخیستی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوکاندار موبایل ورنه واخیست. په لاس کې واړاوه را واړاوه. ویې ویل: ښه؟

- کامره یې کوډ غواړي.
- کوووډ غواړي؟

د کامرې پر آیکن یې ګوته کېښوده. ویې ویل: عجبه ده. دا دې کله اخیستی و؟ بِل یې درسره شته؟

- درې څلور هفتې مخکې. دا یې بل.
- نو تر اوسه چېرته وې چې اوس دې راوړی؟
- جلال آباد ته تللی وم، پرون راغلم.
- ښه نو، اوس زه څه وکم؟
- د موبایل پخوانی څښتن راوغواړه چې کوډ یې خلاص کي.

شامل ولیدل چې یو کس مخابره په لاس کې یوه دوکان ته ودرېد. دوکاندار څه پیسې ورته ونیوې. پیسې یې جېب ته کړې او د همدې دوکان خوا ته راغی چې میکرویاني هلک ورته ولاړ و.

دوکاندار یو ځل بیا د موبایل مخ او څټ وکتل. ویې ویل: دلته خو د ورځې سل دوه سوه کسان سودا کوي. څوک موبایل اخلي، څوک یې خرڅوي نو زه خو ټول نه پېژنم. د تا په یاد دي چې دغه موبایل په کوم ویټرین کې و؟

هلک د دوکان ویټرینونه او الماری له نظره تېر کړل.

مخابرې والا را ورسېد.

دوکاندار تندي ته لاس یوور: سلام سلام آمر صاحب!

مخابرې والا بې له دې چې علیک ووایي، د دوکان د ویټرین د شیشې په پرې کړې ځای کې لاس تېر کړ.

دوکاندار دوه زره افغانۍ په لاس کې ورکړې.

هغه چې ښه لرې شو، شامل له بل دوکاندار نه پوښتنه وکړه: دی څوک و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوکاندار وویل: آمر جنايي. هره پنجشــنبه اوګرايي اخلي. ته وا د پلار حق يې دی. قسم دی ټول غله دي.

شامل وویل: نو له تا نه یې څنګه پیسې وانخيستې؟

- زه خو د نويو موبايلونو کار و بار کوم.
- نو پیسې د چا نه اخلي؟
- څوک چې دويم لاس او د غلا مـال اخلي او خرڅوي، د هغوی نـه يې اخلي. موږ نه يې اخلي، کله يوه کله بله پلمه کوي خو هر وخت نه. د هغوی نه يې بيا هره پنجشنبه اخلي.

شــامل د ميکروياني هلک غږ ته غوږونه څک کړل چې ويل يې: ګومان کوم چې په ايندغه مخامخ الماری کې و.

دوکاندار وويل: ته دې نمبر راکه. که مې درک درته معلوم کړ نو زنګ به درته وکم.

ميکرویاني هلک چې ولاړ، شــامل هماغلته د څنګ دوکان مخې ته پاتې شــو. دوکاندار ته يې د نوي مال صفتونه او د مستعملو موبايلونه بد ويل.

د هغه بل دوکاندار غږ يې واورېد چې په فارسي لګيا و: وه هلکه! هغه آيفون ۱۱ دې له چا نه وهلی و؟ نه، هغه تېره مياشــت کې چې دې راووړ. نه ســپين نه و، طلايي و. په يوه لشــمک مې خرڅ کړی و اوس راغلی دی چې کامره يې کوډ غواړي. هههههههههه. نه، زه خو لېونی نه يم. ايســته مې رخصــت که. ښــه، کله؟ بچيش ناوخته نه کې چې بېګاه د يو چا ته واده ته ځم. شپږ بجې؟ څه صحيح ده. خدای پامان، خدای پامان.

دوکاندار چې ټيلفون بند کړ، شامل سوکه سوکه روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵

پاو کم شـپږ بجې شـامل، عادل او د اتمې حوزې جنايي آمر د کنترول منطقوي له دوو افسرـانو سره چې ټول په ملکي جامو کې وو، موبايل سـنټر ته ورسـېدل. پنځه دقيقې چې شـپږو ته پاتې شـو، شـامل د هماغه دوکان خوا ته ورغی. د موبايلونو د بيو پوښتنه يې وکړه.

دوکاندار د هر موبايل بيه ورته ويله. ده کله يو کله بل موبايل کښـــته پورته کاوه. عکس يې پرې اخيسـت. د مشـخصـاتو معلومات يې کول او يو يو وار به يې ساعت ته هم کتل.

دوکاندار وويل: وروره لږ بېړه وکه چې زه چېرې ځم.

بيا يې چا ته زنګ وواهه، ورته کړه يې: بچيش کجا گم شـدی؟ اينه ده دقه از شش تير شد. خی مه دگه ميرم باز سبا بيا.

په دې وخت کې د خندا غږ پورته شـو. يو اتلس نولس کلن هلک چې موبايل يې په غوږ کې و، وويل: کجا ميری؟ کجا عجله داری؟ به خيالم که پلو مست استی بابا، نوش جان!

هماغه هلک و چې د کامل په څلوېښــتي کې راغلی و. پر غاړه يې د لړم ټټو جوت ښکارېده.

دوکاندار په خندا وويل: بسيار کوس مادر استی. بيار بکش، چی آوردی؟

هلک د واســکټ له جېبه يو موبايل را وايســت. په همدې وخت کې پوليســو له مړوندو ونيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډاکټر عادل په کور کې جرګه وه. د قاتل پلار او ترونه له څو سپین‌ږیرو، د جومات ملا امام او وکیل ګذر سره په ننواتي راغلي وو. د عادل ترونه او قومیان ورته مخامخ ناست وو.

ملا امام هغه آیتونه قرائت کړل چې «و بشرالذین اذا اصابتهم مصیبه، قالو انا لله و انا الیه راجعون» په کې راغلي دي. بیا ملا اوږده دعا وکړه. وژل شوي ته یې د شهادت درجه وغوښته، کورنۍ ته یې صبر او د کینې او کدورت او دښمنۍ د ختمېدلو دعاګانې یې وکړې. وروسته یې د عفو او بخشش فضیلتونه بیان کړل او ویې ویل چې وینه په وینه نه مینځل کېږي.

د ملا تقریر چې خلاص شو، وکیل ګذر خبرې شروع کړې: خدای دې متوفا جنتي کړي. خدای دې داسې غم نه دربانديې ویني چې دا غم مو په هېر شي او خدای مو دې دا آخري غم کړي. ملا صاحب دې خیر یوسي چې د دین او شریعت خبرې یې را ته وکړې، رښتیا چې عفو او بخشش ډېر اجر لري. نو را به شو دې ته چې دا زموږ هلک خو خدای شته چې ډېر بد کار یې کړی دی. لږ نه، ډېر بد.

بیا یې ټول له نظره تېر کړل، ویې ویل: بد یې کړي دي، که نه؟

د قاتل پلار او ترونو په یوه غږ وویل: بالکل. ډېر بد یې کړي دي.

یوه تره یې وویل: باور په ما مه کوئ، په خدای یې وکئ چې خبر شوم، داسې خپه شوم لکه زما خپل زوی یې چې را ته وژلی وي.

وکیل ګذر وویل: نو لکه ملا صاحب چې وویل، وینه په وینه نه مینځل کېږي. اوس دغه هلک یوه بې عقلي کړې ده، بې عقلي څه چې خرګري یې کړې ده خو که دی اعدام هم شي نو ستاسو ورور خو پرې نه راژوندی کېږي. نو موږ مو عذر ته راغلي یو.

لونګۍ یې له سره ایسته کړه او پر غولي یې کېښوده، او په سترګو کې یې د قاتل پلار او ترونو ته اشاره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی هم پکول خولۍ او لونګۍ له سرونو لرې کړې.

وکیل ګذر وویل: دا دی سر درته تورو، د خدای روی دروړو چې د دې هلک له ګناه نه تېر شئ. عفو ورته وکئ. خدای به یې اجرونه درکي.

بیا یې د قاتل پلار ته اشاره وکړه. هغه را پاڅېد، په ټېټه ملا ډاکټر عادل ته ورغی، یو پاکټ یې مخې ته پر غولي کېښود. بېرته خپل ځای ته ورغی.

وکیل ګذر وویل: دا به کمې وي خو تاسې یې په ډېرو ومنئ. یو پسه مو هم راوستی، هلته لاندې له هلکانو سره دی. نو دا زموږ له خوا په خپل ورور پسې خیرات کئ.

د عادل مشر تره غاړه تازه کړه: ملا صاحب او وکیل صاحب خو ښې خبرې وکړې. عفو او بخشش به ښه وي. موږ خو عام خلک یو، تاسې عالمان یئ، په دین، په شریعت ښه پوهېږئ نو که عفو لازمي وای نو د قصاص حکم د څه د پاره شوی؟

ټول غلي وو او سترګې یې ځمکې ته نیولې وې.

د قاتل پلار ته یې مخ واړاوه، ورته کړه یې: ته خو دې اول دغه پیسې بېرته درواخله.

هغه خپلو وروڼو او وکیل ګذر ته وکتل.

وکیل ګذر وویل: حاجي صېب، خیر دی، دا زموږ عذرانه ومنئ.

د عادل بل تره وویل: موږ وینه نه خرڅوو.

وکیل ګذر وویل: خدای دې نه کي. مطلب مو دا نه دی. دا پیسې مو د خیرات د پاره راوړې.

د عادل مشر تره وویل: موږ خیراتونه هم کړي، ختمونه مو هم کړي. د چا پیسې مو هم نه دي په کار.

د پیسو پاکټ یې د عادل له مخې نه واخیست او د هغه خوا ته یې وشغاوه. ویې ویل: هن! دراخلئ خپلې پیسې. دغه پیسې به مو خپل هغه غله زوی ته ورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وای چې غلا یې نه وای کړې. غلا یې خیر خو چې د دوو روپو موبایل په سر یې زموږ وراره نه وای راوژلی.

پر دېوال ځړېدلي عکس ته چې د کاغذي ګلانو امېل پرې اچول شـــوی و، اشــاره وکړه: ګل غوندې ځواني یې وه. ته و خدای، دی نو د مرګي لایق و؟ تاسو ته وایم!

چا غږ ونه کړ.

بیا یې ملا ته کړه: ته خو عالم ســړی یې، د قصـــاص او حدودو په حکمت ښـــه پوهېږې. که هر قاتل ته عفو وشي نو نن یې زما وراره وژلی، سبا یې د تا زوی وژلی، بله ورځ یې بل وژلی.

د قاتل یوه تره چې د دېرش پنځه دېرشـو کلونو ښکارېده، وویل: نو چې داسې وي بیا خو دښمني جوړېږي.

د عادل تره یې په خبرو کې ور ودانګل: دښمني جوړېږي؟ د څه شي دښمني؟

وکیل ګذر د قاتل تره ته سترګې برګې کړې، ویې ویل: حاجي صېب محترم، مطلب یې داسې نه دی. امممم

د عادل تره مخې ته لږ کوږ شـو، په لوړ غږ یې وویل: زه یې په مطلب ښـه پوهېږم. موږ د دښـــمنۍ نه ډارو‌ې؟ [مخ یې د قاتل ترونو ته کړ] لاس دې خلاص، توره دې تېره. ګوره! که زموږ په چرګوړو هم څه وشـــو، زما لاس به د تا په ګرېوان کې وي. وایم که له آسـمانه هم ټکه راباندې پرېوته، پوښـتنه به یې تا نه کوم، مدعي به مې ته یې. [او دې سره یې ګوته ورته وځنډوه]

بیا یې شامل ته مخ واړاوه: دړه ورته ببرته که! ځئ په مخه مو ښه شه.

محکمه چې دایره شوه، پر هلک د اعدام حکم وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷

### شپږ میاشتې وروسته

د ګڼو رســنیو خبریالان له کامرو او مایکونو سره منتظر وو. د جنايي تحقیقاتو رییس ســالون ته راننوت. د پولیســو د تېرې اونۍ برياوې يې يادې کړې: په تېره اونۍ کې مو درې جرمي شبکې نیولې دي. د سرقت په مختلفو قضیو کې مو ۳۵ تنه مظنون کسان د کابل له بېلابېلو حوزو څخه ګرفتار کړي دي ...

د خبریالانو پوښتنو ته وار ورسېد. یوه خبریال پوښتنه وکړه: د هغو زنځیري قتلونو قضیه څنګه شوه؟ خلک ترهېدلي دي. هېڅ څوک ځان خوندي نه احساسوي. دا قاتل به کله ونیسئ؟

د جنايي تحقیقاتو رییس وویل: په دې قضیه کې پرمختګ شوی دی، د موضوع د حساسیت په خاطر اوس جزئیات نه شو درکولی.

بل خبریال لاس جګ کړ. د خپل موبایل صــفحې ته یې وکتل او ویې ویل: رییس صاحب! همدا شېبه دوه نور جسدونه په بګرامیو کې پیدا شوي دي.

د موبایل پر ښیښې یې ګوته ووهله. بیا یې وویل: کټ مټ هماغسې. د هر جسد د دواړو لاسونو ګوتې نشــته او ټټرونه یې ســوري ســوري دي. د دې معنا څه ده؟ قاتل ولې د قربانیانو ګوتې غوځوي؟ قاتل څه ویل غواړي؟

د رییس سـکرتر موبایل اوکې کړ او په کراره یې ده ته ورکړ. رییس وویل: بخښـنه غواړم. عاجل دی.

هغه پاڅېد او په بېړه ووت.

نور خبریالان پر هغه خبریال راټول شــول چې د نوې پېښــې خبره یې کړې وه. ده موبایل مخې ته نیولی و. هر چا هڅه کوله چې د ګڼې ګوڼې په منځ کې دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای پیدا کړي چې سر ور ننه باسي او د هغه خبریال د موبایل پر ښیښې د وژل شویو عکسونه وګوري.

هغه وویل: اوس یې خپل فیسبوک ته پورته کوم. ټول به یې وګورئ.

## ۸

د جنایي تحقیقاتو د رییس په دفتر کې څو جنرالان او ډګروالان ناست وو. ټولو د پروجکټر پر پردې تصویر ته کتل. د پلټونکې ډلې مشر، ذبیح الله وویل: د قتلونو بڼه ثابتوي چې د ټولو قاتل یو کس یا یو ګروپ دی، خو قتلونه په مختلفو وسلو شوي دي. څوک په دره‌یي تفنګچې ویشتل شوي دي، څوک په ۹ ملي متري امریکایي، څوک په اصلي مکروف یا ټي ټي. په هره پېښه کې د مقتول په بدن کې هماغه وسله پیدا شوې ده چې پرې ویشتل شوی دی. خو په هېڅ وسله باندې د مقتول د ګوتې له نښې پرته د بل چا د ګوتو اثر نه دی پیدا شوی.

ذبیح الله د کمپیوټر په کیبورډ کې یوه تڼۍ کېکاږله. پر سکرین د عدلي طب د ریاست مکتوب ښکاره شو چې په منځ کې یې څو جملې په زیړ رنګ په نښه شوې وې. هغه وویل: د عدلي طب په وروستي راپور کې نوې خبره. د مقتولانو په وینه کې د انستیزۍ مواد موندل شوي دي.

ذبیح الله تم شو. ټولو ناستو کسانو یو بل ته سره وکتل او بیا یې رییس ته مخونه واړول.

رییس ذبیح الله ته وکتل، ویې ویل: یعنې؟

ذبیح الله وویل: حیران یم چې ولې مو مخکې په دې باندې فکر نه و کړی. په ټولو قضیو کې د عدلي طب راپورونو ویلي وو چې د مقتول ټولې ګوتې له ورغوي څخه په خورا تېره شي سره، ډېرې منظمې غوڅې شوې دي. موږ فکر کاوه چې قاتل به کوم قصاب یا قصابان وي، خو دې ته مو فکر نه و کړی چې کېدای شي کوم تکړه جراح وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کریمنالستیک مدیر پوښتنه وکړه: موږ د کریمنال تخنیک د شعبې راپورونه ولوستل. مقتولان وژل شوي په یو ځای کې او اچول شوي بل ځای کې دي. په ټولو باندې له نږدې ډزې شوې. خو د قتلونو انګېزه؟

د سازمان یافته جرایمو د برخې مشاور، توکلي وویل: دې ته په کتو سره چې د هر قرباني د وژلو لپاره یوه مرمۍ بس وه، ځکه چې ټولې مرمۍ یې په ټټرونو لګېدلې دي او غالباً هر قرباني په هماغه اول ډز مړ شوی دی، نو قاتل د انتقام شدیده انګېزه لري. البته شاید د ګوتو د قطع کولو په وجه د قربانیانو ډېره وینه ضایع شوې وي، بناً همدا به هم د هغوی د وژلو لپاره بس و. مګر داسې ښکاري چې قاتل یا قاتلان له نفرته ډک دي. د تفنګچې د ټولو مرمیو تشول، د قاتل سخت قهر راښیي. خو دا چې ولې، په دې نه پوهېږو. د قربانیانو په منځ کې هېڅ مشترکه نقطه نشته. مقتولان د مختلفو قومونو دي، بناً د قتلونو قومي انګېزه نفي کېږي. قربانیان مختلف شغلونه لري، اممم فکر کوم شپږ نفره یې متعلمین وو، دوه نفره یې د نانبای شاګردان، څلور نفره یې د مکتب نه فارغ شوي وو خو کار و بار یې نه و. ذبیح جانه! نور قربانیان څه کاره وو؟

د ټولو مخونه د ذبیح خوا ته شول. هغه وویل: ستاسو خبرې سمې دي. د موټرسیکلو د مستري شاګردان په کې شته، بې سواد او با سواده په کې شته، لنډه دا چې متقولان په هېڅ کومه خاصه کټګورۍ کې سره نه شو یو ځای کولی.

توکلي وویل: تشکر ذبیح جانه! بناً د قربانیانو د قتل انګېزه د هغوی شغل نه دی. مګر دا چې د ټولو ګوتې قطع شوې دي، دا باید یوه معنا ولري. باید یو پیام ولري.

رییس پوښتنه وکړه: مثلاً؟

توکلي غاړه لږ کره کړه، سترګې یې تنګې کړې او د کوټې چت ته یې وکتل. زنه یې وګروله، ویې ویل: دقیق نه پوهېږم، مګر فِــ ـــ کِر کوم چې د ګوتو له وظیفې سره به مرتبط وي. په ګوتو اشیا لمس کېږي، اشیا نیول کېږي، په ګوتو شهادت ورکول کېږي، د تفنګچې ماشه کش کېږي، اممم د بوتل یا بل شي سرپوښ تاوېږي. اااااا، ډېر نور کارونه. ممکن، ممکن مقتولینو د قاتل څخه کوم شی اخیستی وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم قميتي او گرانبها شـی. [ټولو ته يې ځغلنده نظر وکړ] بلی، کوم با ارزش شـی به يې ورنه اخيستـی وي. بناً بايد دا معلومه کړو چې قربانيانو له قاتل نه څه شـی اخيستی و. البته يوه خبره ده. دي ټولو قربانيانو خو په شريک شکل ورنه څه شی نه دی اخيســتی. لکه څنگه چې ذبيح جان وويل قربانيان هيڅ مشـــترکه وجه نه لري.

ذبيح الله وويل: په هر صورت، زما په نظر جراحان بايد تعقيب کړو. خو مشکل دا دی چې په کابل کې تر پنځو سوو زيات جراحان دي. بله خبره دا ده چې که جراح قاتل هم وي، په شـــفاخانه کې خو دا کار نه کوي، يعنې نه يې شي کولی. هغه دا کار بايد په بل ځای کې وکي.

## ۹

ډاکټر عادل د ټلويزيون غږ په ريموټ جگ کړ. د جنايي تحقيقاتو رييس خبري کنفرانس ته خبرې کولې. يوه خبريال د زنځيري قتلونو د عامل پوښـــتنه وکړه. رييس وويل: موږ ځينې سر نخونه پيدا کړي دي. اوس د موضوع د حساسيت په خاطر ډېر جزئيات نه شو درکولی خو دومره ويلی شم چې قاتل ته ډېر نږدې شوي يو. موږ پوهېږو چې هغه څه وظيفه لري. ډېر زر به يې د گرفتارۍ خبر واورئ.

ډاکټر عادل او شـــامل يو بل ته سره وکتل. ډاکټر عادل گېلاس له اوبو ډک کړ. گېلاس يې په لاس کې واخيســـت، له چوکۍ پاڅېد، د کړکۍ خوا ته ورغی. يو غوړپ يې وکړ. پرده يې لږه لرې کړه. د دوهم منزل لـه کړکۍ څخه يې لانـدې وکتل. دې خوا ها خوا يې ســـترگې وغړولې. لمر لوېدلی و خو لا دومره تياره نه وه چې سترگې کار ونه کړي. پرده يې بېرته سمه کړه.

د ورور سترگې ده ته وې. ده نرۍ موسکا وکړه او سر يې وښوراوه.

مور يې وويل: زويه! خير خو به وي؟

ډاکټر عادل غاړه تازه کړه، ويې ويل: نشته څه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰

د بهارستان سینما په څنګ کې نري سړک باندې شین کورولا موټر پورته د غره خوا ته روان و. د غره په ډډې پورې ګڼ کورونه او تنګې کوڅې وې. سړک د غره په نیمایي کې ختم شوی و او موټر هماغلته ودرېد. ځوانه نجلۍ له موټره کښته شو. دستکول یې اوږې ته واچاوه او پلې په کوڅه کې بره خوا روانه شوه. درې کوڅې وړاندې ودرېده. دې خوا ها خوا یې وکتل. ساه یې سمه کړه. پر یوه سپین بږیري یې سترګې ولګېدې چې د چپ لوري له تنګې کوڅې څخه د دې خوا ته ورته.

نجلۍ مخې ته ورغله. پوښتنه یې وکړه: کاکا، هغه هلک چې تېره اونۍ وژل شوی و، د هغه کور در ته معلوم دی؟

سړي وویل: شیرین آغا یادوې؟

- هو.
- هاغه نارنجي کور وینې؟ پاس، اوله نه، دویمه کوڅه کې. هماغه یې کور دی. خپلوان دې و؟
- نه. زه خبریاله یم. له فامیل سره یې مرکه کوم.

د وژل شوي هلک پلار وویل: څه مو په زخم باندې مالګې شیندئ! کله یو راځي کله بل چې زه د پلانکي ټلویزیون یم، زه د بستاني راډیو یم. راشي دلته زموږ زخمونه تازه کي، بېرته لاړ شي. د حوزې او پولیسو پوښتنې او بازخواست بلې خوا ته. ځه نجلۍ، په مخه دې ښه!

هغه د انګړ ور بنداوه خو نجلۍ په وره پورې لاس ونیو. ویې ویل: خیر دی کاکا زما خبرې خو واوره. پوهېږم چې ډېر دردېدلي یئ. زوی مو ځوان و. ډېر ارمانونه به مو ورته لرل. خو زه له هغو خبریالانو نه یمه. زه تحقیقي ګزارش جوړوم. په دې دوو درېو میاشتو کې ستا د زوی غوندې شل - پنځه ویشت نور ځوانان هم په همدې رقم وژل شوي خو تر اوسه یې قاتلان نه دي معلوم شوي. که پولیس دا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کوي یا یې نشي۔ کولی نو خدای مهربانه دی چې ستاسو په همکارۍ سره موږ دا کار وکړو.

سړي تر پکول لاندې لاس تېر کړ. سر یې لړ وګراوه. یوه شېبه غلی و. بیا یې ور بېرته کړ.

نجلۍ د کړکۍ خوا ته پر توشکه کېناسته. له توشکه ګرد پورته شو. نجلۍ له دسکول نه ریکارډر را وایست، قلم او کتابچه یې هم راواخیستل.

مخې ته یې د مقتول مور پر غولي پر زاړه فرش باندې ناسته وه او مېړه یې پر نرۍ توشکې.

نجلۍ وویل: مننه چې مرکې ته حاضر شوئ. زوی مو دې خدای وبخښي. ما چې معلومات کړي نو دی په نادریه لېسه کې و، یوولسم صنف کې. همداسې ده؟

سړي وویل: لسم کې و که یوولسم کې خو په همدې مکتب کې و.

نجلۍ وویل: په مکتب کې چې مې پوښتنه وکړه، غیرحاضري یې ډېره وه. تاسو ته معلومه ده چې ولې یې غیرحاضري کوله؟

ښځې بې غږ و غوړه اوښکې تویولې.

سړي پرې غږ کړ: وه ښځې! دا څه وایي؟ ته پې خبره وې؟

ښځې په سونګېدا لنډ وویل: نه. نه ومه خبره.

خبریالې یو ځل سړي او بیا یې ښځې ته وکتل. بیا یې وپوښتل: مطلب مې دا و چې کوم کسب کار یې هم کاوه که یوازې مکتب ته تله؟

سړي وویل: دا نو څه رقم سوال دی. ته داسې سوالونه کوې چې ته وا دی مجرم و. پرې مو ږده.

دې سره یې پکول خولۍ له سره واخسیته پر غولي یې وویشته. له ایراني غالۍ نه ګرد پورته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شپې ټول غلي وو.

بیا ښځې ورته وویل: سړیه حوصله وکه. غوسه دې په دې مه تشوه. وبال ده.

خبریالې وویل: کاکا پوهېږم، غم دې درووند دی. خو مه خپه کېږه. خدای مهربان دی. که زما پوښتنې مو ځوروي، زه به بل وخت راشم.

ښځې وویل: نه لورې پروا نه کیي.

سړي بېرته خولۍ له غولي پورته کړه او پر سر یې کېښوده. لویه ساه یې واخیسته. ویې ویل: بل کار یې نه و. همدغه مکتب و. په غیر حاضرۍ یې هم نه یم خبر.

خبریالې ښځې ته وویل: دا موبایل ستاسو دی؟

ښــځې طلایي آیفون مابایل ســینې پورې جوخت نیولی و. ویې ویل: د ځوانیمرګ شیرین آغا دی.

- دا خو ډېر قیمتي موبایل دی. تاسو ورته اخیستی و؟
- نه. مورې د سبا بېګا نه لرو نو داسې موبایل به په څه شي اخلو.
- چا له خارجه درلېږلی؟
- نه.
- نو ...

سړي په ښځې پورې سترګې ښخې کړې، ویې ویل: ټول راز و نیاز یې د مور سره و. همدا به پې خبره وي.

ښځې وویل: ما ته یې ویلي وو چې په لاره کې یې پیدا کړی و.

خبریالې وویل: خدای خبر چې د چا به لوېدلی وي. بیا یې په څښــتن پســې ونه ګرځېدئ.

- نوره نه یمه خبره. همدومره یې را ته ویلي وو.
- خیر. ملګري انډیوالان یې درمعلوم دي؟ چا سره به ډېر ګرځېده؟
- یو انډیوال خو یې هماغه قندآغا و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هماغه چیپېږي ...
- هو. د ده سره يې يو ځای وژلی و. هغه به کله کله په موټرسـيکل باندې راته او شـــيرين آغا به ورسره ولاړ. ما څو کرته ورته وويل چې وه هلکه موټرسيکل خطر لري، ورسره مه سپرېږه.

غږ يې ژړغونی شو. په سختۍ سره يې وويل: څه خبره وم چې موټرسيکل يې نه وژني خو کوم ظالم خداناترس يې مړ کوي.

خبريـالې لـه کړکۍ څخـه د بانـدې وکتـل. د لانـدې کورونو بـامونـه او واړه انگړونه لکه د پوړيو پټونه ښـــکارېدل. څو شـــېبې يې په قلم او کتابچې ځان بوخت کړ او هسې يې کږې وږې کرښې وايستې. بيا يې وويل: نور ملگري يې نه لرل؟

ســړي وويل: له نورک سره هم لر بر کېده. هســې خو د منطقې ټول همزولي يې ورسره ناسته پاسته کوله خو نورک له نورو نه زيات.

خبريالې د نورک آدرس واخيست او ووتله.

## ۱۱

د جنايي تحقيقاتو رئيس پر څوکۍ نېغ شـــو. شـــونډې يې بوخې کړې او په مجلس کې هر حاضر کس ته يې جلا جلا وکتل.

ټول چوپه خوله منتظر وو چې دی خوله پرانيزي.

ده د مېز له روکه يوه مجله راوايســـته او په لاس کې يې پورته ونيوله. ويې ويل: دا مو کتلې ده؟

چا غږ ونه کړ. توکلي د کريمنل تخنيک مشرـ ته وکتل او په ســترگو کې يې وپوښت. هغه اوږې پورته وخوځولې او سر يې وښوراوه.

رئيس وويل: هغه کار چې تاسو بايد کړی وای، يوې نجلۍ کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذبیح الله وړاندې شو چې مجله وګوري.

رئیس وویل: پوره ګزارش به یې وروســته ولولئ خو دې ژورنالیســتې یو مهم شی کشف کړی دی.

د مجلې په منځ کې قات شــوې پاڼه یې خلاصــه کړه. مجله یې په هوا کې داسې ونیوه چې ټولو ته ښکاره شي. د ګزارش عنوان یې درې څلور وارې په ګوته وټکاوه، غاړه یې تازه کړه او ویې لوســت: «رد پای قتل‌های زنجیره‌یي ـ ارتباط تنګاتنګ میان این قتل‌ها و سرقت‌های مسلحانه»

توکلي وویل: یعنې قاتلین سارقین هم دي؟

رئیس لکه د هغه په ناپوهۍ چې خوشــحاله شــوی وي، پوزخند وکړ: نه، نه. مقتولین یادوي. اقلاً لس دولس تنه مقتولین هغه کســان دي چې د موبایلونو په سرقت کې دخیل وو، مسلحانه سرقت.

ذبیح الله وویل: پیدا مې کړ.

بیا لکه له ځانه سره چې وغږېږي، ویې ویل: هو، پخپله دی. پخوا نه مې هم شک ورباندې و.

ټولو په پوښتونکو سترګو ور وکتل.

هغه وویل: ډاکټر عادل. شپږ میاشــتې مخکې یې ورور غلو وژلی و او موبایل یې ورنه وړی و.

رئیس پوښتنه وکړه: څنګه داسې مطمین غږېږې؟

ذبیح الله ځواب ورکړ: ټول شواهد د هغه په ضد دي. قاتل ډاکټر دی، جراح دی، د قتل انګېزه ... دا هر څه را ته وایي چې قتلونه د هغه کار دی.

توکلي وویل: عادل هماغه نه دی چې یوه ورځ یې د تا په دفتر کې سر و صدا اچولی و چې ولې زما د ورور قاتل نه پیدا کوئ؟

- هماغه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په رواني لحاظ نورمال نه و. ډېر اګرســيف و، خشـــن و. امممم (سر يې کښـته پورته وښـوراوه) ممکن قاتل هغه وي. داسـې کسـان خشـونت ته مسـاعد دي ولې چې ايمپلسـيف اعمال ورنه سر وهي. په هغه ورځ چې ما وليد، داسې عصباني وو چې که د ورور قاتل يې په مخ کې وای، ده به تکه تکه کړی و. ټول کسـان يې له نظره تېر کړ] په ياد مو دي؟ ما ويلي وو چې قرباني د قاتل نه کوم با ارزشه شی، کوم ګران بها شی اخيستی. په همدې خاطر هغه د قربانيانو ګوتې قطع کوي. د ورور له زندګي نه ګران بها شـی به څه وي؟ البته، يوه خبره ده. دغه تيپ شـخصـيتونه، دغه ايمپلســيف اعمال چې کوي، هماغه لحظه يو غلط کار کوي خو وروسته بيا پشيمانېږي چې ولې مې داسې وکړل. خو دا چې تکراراً دې يو جنايت وکړي، دليل به يې بل شی وي.

رئيس وويل: خير. تاسې بيا خپل تحليل وروسته وکئ. اول به دا معلومو چې قاتل همدغه مورد نظر شخص دی که نه.

## ۱۲

ذبيح د ټولو مقتولانو د عدلي طب راپورونه پر مېز انبار کړي وو. د هغو ګزارشونه يې يوې خوا ته کړل چې يې په بدن کې د انستيزۍ مواد موندل شوي او ګوتې يې پرې شـوې وې. بيا يې په کمپيوټر کې يو جدول جوړ کړ: شـمېره، د مقتول نوم، قتل نېټه، د مړينې وخت ...

دغه معلومات يې له هر ګزارش نه واخيستل او په جدول کې يې وليکل.

ور وټکول شو.

د «راځه» تر غږ وروسته، ور خلاص شو. ساتنمن عسکري سلام وکړ. يو ورق يې د ذبيح پر مېز کېښود: د رئيس صاحب امضا مې واخيسته. موږ ورپسې ورشو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذبیح بې له دې چې د کمپیوټر له پردې سترګې لرې کړي، وویل: نه. پخپله ورپسې ځم. ته بم راسره ځې. اکبر ته وایه چې موټر چالان کي. دا دی کار مې خلاصېږي.

ساعت وروسته، ذبیح له دوو ضابطانو سره د روغتون رسپشن سره ولاړ وو.

ډاکټر عادل په عملیاتخانه کې و.

دوی د رسپشن مخې ته انتظارتون کې کېناستل.

یو ضابط په خپل موبایل بوخت شو. ذبیح د مخابرې چېنل اړاوه را اړاوه. بل ضابط په رسپشن کې ناستې ښکلې د ماډلانو غوندې سپېنګار شوې نجلۍ پورې سترګې ښخې کړې وې.

د نجلۍ سترګې ور واوښتې. زر یې سترګې ځمکې ته ونیوې. د ګوتو په سرونو یې ویښتان د ټیکري لاندې پټ کړل.

هغه ضابط چې په موبایل اخته و، د موبایل سکرین یې د ذبیح خوا ته ونیو، ویې ویل: آمر صاحب! دا وګوره. دوه نور جسدونه …

ذبیح موبایل ورنه واخیست. د جسدونو له عکس سره لنډ متن لیکل شوی و: «د لسمې حوزې په مربوطاتو کې دوه جسدونه موندل شوي. جزئیات وروسته»

ذبیح وویل: بر پدر یې نالت کې د آزادي بیانه سره. موږ لا خبر نه یو، رسنۍ د وخته خبرې شوې وې.

دې سره یې د مخابرې چېنل تاو او غږ یې لږ لوړ کړ.

- میوند مرکز میوند!
- مرکز میوند! اورم صېب.
- چارقلعه وزیرآباد کې واقعه ده. دوه مړي پیدا شوي دي. زر ځان ور ورسوئ. تکرار کوم: چارقلعه وزیرآباد، دوه مړي.
- مطلب واخیستل شو. اطاعت کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- محل واقعه ته چې ورسېدئ، اطمينان راکئ.
- اطاعت.

ضابط ووېل: آمر صېب! خبره لکه چې بل رقم ده.

- څنګه؟
- ډاکټر خو دلته په عملياتخانه کې دی نو دغه دوه نوي به چا وژلي وي؟
- ته څه خبر يې چې کله وژل شــوي دي. د قتل زمان او د جســد د پيدا کېدو زمان کې فرق وي.

پر ذبيح يو سيوری ولوېد. پاس يې وکتل. صفاکار و. ويې ويل: تاسې غواړي.

په لاس سره يې رسپشنيستې ورونبوده.

ذبيح ور روان شو. ضابطان يې له شا ورپسې وو.

رسپشنيستې ووېل: ډاکټر عادل د عملياتخانې نه راووت. په يوسل او دوهم اتاق کې دی.

بيا يې زر سر کښته واچاوه او ځان يې په کاغذونو بوخت کړ. ضابط لا هم سترګې ورته نيولې وې.

***

ډاکټر عادل د عمليات کړي ناروغ په دوسيه کې څه ليکل.

ور وټکول شو. بې له دې چې سر پورته کړي، ويې ويل: مهرباني!

ضابطان د وره شا ته تم شول او ذبيح ورننوت. ويې ويل: ډاکټر صاحب! کالي دې بدل که. بايد له ما سره ولاړ شې. يو څو پوښتنې بايد ځواب کې.

- خير خو به وي؟
- خير و خيريت. ستا د نيولو امر لرم.

استعلام يې ډاکټر ته ونيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د استعلام پر کرښو نظر تېر کړ. ویې ویل: ګناه مې؟

- تا باندې د قتل په یوه قضیه کې شک دی. د قاتل په ظن دې ګرفتاروو.
- ټوکې کوې؟ زه او قتل؟
- دا به وروسته معلومه شي. اوس نو مهرباني وکه، راسره لاړ شه. هسې هم یو ساعت کېږي چې درته منتظر وو چې عملیات دې خلاص شي.

- ❊❊❊

**د جنايي تحقیقاتو په ریاست کې**

ډاکټر عادل قلم را واخیست. د استعلام د لومړۍ پوښتنې ځواب یې ولیکه: زه عادل د سیف الملوک زوی د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ اصلي اوسېدونکی یم. فعلي سکونت مې د کارته نو طلايي شهرک ... په ۱۳۸۰ کې د کابل طب له معالجوي پوهنځي فارغ شوی یم. په ۱۳۸۵ کې مې په جراحي کې تخصص اخیستی.

د دوهمې پوښتنې ځواب یې داسې و: له ۱۳۸۵ راهیسې په ... خصوصي شفاخانه کې د متخصص جراح په حیث وظیفه اجرا کوم. معاینه خانه نه لرم. د همدې شفاخانې نه به غیر په بل ځای کې کار نه کوم. د رسمیاتو نه وروسته، ... جېم ته ځم او بیا کور ته.

درېیمه پوښتنه یې چې ولوسته، قلم یې پر مېز کېښود. ذبیح ته یې وویل: دا نو څه رقم سوال دی؟ زه چې بېګا څه شی خورم، سبا مې هېر وي او ته را نه پوښتنه کوې چې د جوزا په پنځم تاریخ د لسو نه تر یوې بجې پورې چېرې وې، څه دې کول.

ذبیح وویل: موږ همدا ځواب غواړو چې دقیقاً په همدې وخت کې چېرې وې.

- ولې؟
- ځکه چې په همدې وخت کې دوه نفره وژل شوي دي او قاتل یې هم جراح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ډېره عجیبه ده. په ما پورې د قتل تور لګوئ؟
- تور نه لګوو، ظن مو په تا دی. ګوره! صفا خبره به درته وکم. دا کسان چې وژل شوي، په وینه کې یې د انستیزۍ مواد کشف شوي، ګوتې یې د لاسونو نه په مهارت سره قطع شوې او دا کار یوازې جراح کولی شي.
- نو هغه جراح به ولې زه یم؟
- ځکه چې د قتل انګېزه لرې.

عادل قلم پورته کړ، په زور یې پر مېز وویشت، ویې ویل: دا څه اوتې بوتې وایې؟ کوم قتل، کومه انګېزه؟ ما لا چرګ نه دی وژلی، انسان خو لا پرېږده.

ذبیح وویل: مقتولین د موبایلونو غله دي او د تا ورور د موبایلونو غلو وژلي وو نو همدغه خبره کافي ده چې په تا باندې شک وکو.

- ګوره! ما د هیپوکرات قسم تېر کړی. موږ د خپل مقدس مسلک نه د هېچا په ضرر کار نه اخلو، ان که مو د سر دښمن هم وي.
- نو ځان سپین که. که غواړې چې تبرئه شې، د سوالونو جوابونه دقیق ولیکه.
- دقیق یې څنګه ولیکم؟ دا نو د چا په یاد وي چې ان درې میاشتې مخکې لس بجې په کوم ځای کې وې. دا نور سوالونه دي وګوره، ټول همدغسې دي. زما د کار ځای درمعلوم دی، هغه جېم چې په کې سپورټ کوم، در معلوم دی، کور مې درمعلوم دی. ورشه د شفاخانې اسناد وګوره چې زه په هغه ورځ وظیفه کې وم که نه.
- څه چې ویل غواړې، په استعلام کې یې ولیکه.

## ۱۳

بله هفته د جنایي تحقیقاتو د رئیس په دفتر کې بیا جلسه وه.

رئیس وویل: خبره نوره خرابېږي. د پولیس د پرستیج خبره ده. وزیر صاحب سخت غوسه دی. د کابینې په جلسه کې تر انتقاد لاندې راغلی. دغه څو دقیقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې یې زنګ را وهلی و. اعصاب یې ډېر خراب وو. ذبیح خانه! څه دې بود کړل که نه؟ ګزارش دې راکه.

ذبیح پنډه دوسیه د مېز په سر کېښود، په خپل ځای کې ودرېد. ویې ویل: جناب رئیس صاحب! متاسفانه قاتل مو تر اوسه نه دی شناسایي کړی. په هغه ډاکټر عادل مو چې شک و، شک مو غلط ثابت شو. ما د هر قتل مشخص وختونه د عدلي طب د ګزارشونو نه نوټ کړي وو. خو دی په هماغه وختونو کې یا په شفاخانه کې و، یا په جېم کې. امنیتي کامرې مو چک کړې. د ده موجودیت ورنه ثابتېده. د مریضانو په دوسیو کې چې ده د عملیاتونو پروتوکولونه لیکلي، مشخص زمان هم ورسره لیکل شوی او دا ټول ثابتوي چې هغه په دې قضیه کې لاس نه لري.

توکلي وویل: په یاد مو دي. ما ویلي وو چې د دې رقم شخصیتي تیپونو نه ایمپلسیف اعمال سر وهي، لېکن، (ګوته یې په هوا کې وخوځوله) لېکن د جنایت تکرار او تداوم

رئیس یې په خبرو کې ورولوېد: توکلي صاحب! دا خبرې به بل وخت ته پرېږدو. ښه نو چې د ډاکټر عادل نه مو شک لرې شو، بیا؟

سترګې یې په ذبیح پورې ښخې کړې.

ذبیح وویل: صاحب! دا دومره پېچیده قضیه ده چې زر به حل نه شي. ډېر زمان ته ضرورت لري.

- نور نو څومره وخت پرې تېروئ؟ اوله واقعه په کوم تاریخ کې واقع شوې وه؟
- د حمل پنځمه.
- نن کوم تاریخ دی؟

څو کسانو یو ځای ځواب ورکړ: د سبنلې لسمه.

رئیس وویل: ښه نو، په شپږو میاشتو کې مو یو سرنخ هم پیدا نه کړ. زه وزیر صاحب ته څه جواب ورکم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۴

د سنبلې اتلسمه مازيگر مهال و.

شامل عادل ته کړه: لالا! ته راشه.

عادل د شنو چايو پياله په لاس کې واخيسته، په شامل پسې بلې کوټې ته روان شو.

شامل وويل: هغه پدرنالتی خو ژوندی دی.

- کوم پدرنالتی؟
- شېرک.
- شېرک؟ ناممکنه ده.
- په خپلو سترگو مې وليد.
- کوم بل څوک به دې ليدلی وي. هغه خو يې اعدام کړ.
- موږ يې تېر ايستلي يو. دا دی پخپله يې وگوره.

شامل د کمپيوټر په پرده کې يو عکس راوست. د هوايي ډگر په اتيا متره سړک کې د پوليسو او اردو شنو او خړو رېنجرو او د شخصي کورولا موټرو کاروان په کې ښکارېده. د رباني د دورې تور-سپين-شنه بېرغونه او د احمد شاه مسعود عکسونه په موټرو او د خلکو په لاسونو کې وو. زلمکي او ځوانان د موټرو په باډيو او کړکيو کې څوک ناست څوک ولاړ وو او د ناستو يوه پښه له موټره راوتلې، بڼه وهلې پايڅې، جهادي واسکټونه، برگ دسمالونه او پکول خولۍ.

شامل د يوه ځوان په عکس باندې گوته کېښوده. هغه د کورولا موټر په کړکۍ کې کونه لگولې او يوه پښه يې بهر ځوړنده وه، سپين سرويس بوټونه يې په پښو او پايڅه يې تر زنگانه پورې پورته وه. په ښي لاس يې تفنگچه پورته نيولې وه.

عادل وويل: مطمين يې چې شېرک دی؟

شامل وويل: يوه شېبه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عکس یې زووم کړ، د هلک پر غاړه د لړم ټټو ښکاره شو.

شامل وویل: دغه ټټو یې وګوره! په همدې مې وپېژاند. دا وګوره.

بیا یې یوه ویډیو پلې کړه. هماغه صحنه وه، شېرک په تفنګچه هوایي ډزې کوي. مرمۍ چې خلاصېږي، ناره کړي: «زن اشرف غنی ره ګایم!»

ورسره ناست هلکان د ده شعار بدرګه کوي: «ګایم!»

بیا د موټر شاتنۍ دروازه کې ناست هلک وایي «شېر استی شېر!» او شېرک په اوږه ټپوي.

شامل وویل: ما یې فیسبوک هم پیدا کړ.

په فیسبوک کې یې یو پاڼه خلاصه کړه. په پروفایل کې یې د هماغه هلک عکس و، برګ دسمال یې له غاړې تاو او تفنګچه یې په لاس کې، د پورفایل نوم یې «سرشار خراسان».

عادل په چوپه خوله ورته کتل.

شامل د موس تنۍ تاو کړه. د سرشار خراسان پوسټونه یو په بل پسې پورته راغلل.

شامل وویل: دا وګوره! ان د جولای په لسمه یې دلته پوسټونه کړي دي.

عادل وویل: یعنې د اعدام خبر یې دروغ و. دی یې هماغه وخت خوشی کړی.

د شامل څنګ ته پر څوکۍ کېناست. دواړه څنګلې یې پر مېز ولګولې او ټېکونه یې پر ورغوو تکیه کړل.

شامل سوکه وویل: ادې راغله.

دې سره یې د کمپیوټر پرده توره کړه.

عادل پر څوکۍ نېغ شو.

مور یې پوښتنه وکړه: زویه څه کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شامل وویل: هېڅ. د لنډه‌غرو ویډیو مو کتله.

د باندې نه د موټرو د تېزو هارنونو او ســختو بریک نیولو غږونه راغلل. بیا د تفنګچو، کلاشینکوفو او پي‌کا پر له پسې ډزې وشوې.

ادې وویل: دا لنډه‌غر خو دې خدای تباه برباد کي. خدای خبر چې بیا به یې څومره خلک زوبل کړي وي.

عادل وویل: په خبرونو کې به یې ووایي. ادې کړکۍ ته مه درېږه. دې خوا ته شه. خلک په همدې زوبلېږي چې کړکۍ ته درېدلي وي، ســقوطي مرمۍ راشي پرې ولګېږي. پروسـږ کال مې دا مهال یوولس که دوولس عملیاته کړي وو. یوازې زموږ شفاخانې ته یې اتلس زخمیان راوړي وو. ښه ده چې نن نوکري نه وم، که نه نو بیا به مې هماغه حال و.

د عادل ښــځه د دروازې له خولې وویل: ببو! کالي مینځم. پاک کالي مې په کوټه کې درته اېښي.

ادې بلې کوټې ته ولاړه.

عادل وویل: دې مورده‌ګاوانو لکه چې پیسې ورنه اخیستې.

شــامل وویل: یا به د واســطې کار وي. د امنیت رئیس هم د دوی دی، د داخلې وزیر، د عدلیې وزیر هم، نیمه کابینه د دوی ده. لالا اوس به څه کوو؟

- هېڅ نه پوهېږم. پولیس هم غله دي، قاضــیان او څارنوالان هم. دله‌ګانو ما نه خو یې د نه کړي جرم په تور پوره یوه هفته تحقیق وکړ خو اصــلي جنایتکار بیا خوشې کوي. که کاکا دوی ته ووایو ...
- نه لالا. که د ما منې، هغوی مه پرې خبروه. چې رښــتیا شي، هغوی مو ولا که خیر غواړي.
- داســې خو یې نه پرېږدم چې زما ورور دې تورې خاورې خوري او دی دې داسې کاکه کاکه ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۵

شـــامل پوره دوې هفتې د چاودېدونکو مواد په باره کې تحقيق وکړ. څو وېب سايټونه او ايمېلونه يې هک کړل، ځينو کمپيوټرونو ته ورننوت او د وړو بمونو د جوړولو معلومات يې راټول کړل.

په درېيمه هفته لاس په کار شو. د سرشار خراسان فيسبوک آي ډي له لارې يې د هغه موبايل هک کړ. لوکېشـن يې ورفعال کړ او څو ورځې پر له پسې يې د گرځېـدا راگرځېـدا ځـايونـه معلوم کړل. اکثره وخـت د تـايمني پـه فرعي سړکونو کې ښکارېده. يوه ورځ پسې ورغی. د تايمني پروژې په اول سړک کې يې وليد. له يو بل نفر سره پر موټرسيکل سپور و.

شـــامل په موټر کې هغه تعقيباوه. پيکدارې خولۍ او غټو تورو عينکو شـــامل داسې کړی و چې نږدې ملگرو به هم نه پېژاند.

يو نفر د سړک په غاړه روان و، موبايل يې غوږ ته نيولی و. موټرسيکل ورو ورو د هغه څنگ ته ورغی. مخې ته ناست کس له شا نه هغه ته ديکه ورکړه. هغه بې توله شو او لاس يې له غوږه لرې شو. شېرک د سترگو په رپ کې د هغه له لاسه موبايل اوچت کړ. موټرسيکل تېزه منډه وکړه او په فرعي کوڅه کې ترې تم شو.

شامل په لاره کې يو زوړ گلکسيـ S9 موبايل او نوی سيم کارت واخيست. د موبايل لپاره يې نوی کوور هم واخيســـت. کور ته چې ولاړ، د کوټې ور يې په ځان پسې کولپ کړ. موبايل يې خلاص کړ. د سيم کارت له ځای سره يې دوه نري مزي ور وتړل. سي فور پوډر يې په يوه وړه پلاســـتيکي کڅوړه کې هوار کړل او وړکی فيوز يې ورپورې وتاړه. کڅوړه يې د موبـايـل تر کوور لانـدې سرېښ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـبا مازيګر شـېرک د قلعه فتح الله په کوڅو کې ګرځېده. شـامل په هغه کوڅه کې موټر ودراوه چې شېرک یې له بل سر څخه را روان و.

شـامل سـیم کارت په موبایل کې واچاوه. له موټره کښـته شـو. موبایل یې په غوږ پورې ونیو او د سړک په غاړه سوکه سوکه روان شو. په لوړ غږ یې داسې خبرې کولې چې ته وا په موبایل له چا سره خبرې کوي. چا له شـا څخه دیکه ورکړه. شېرک موبایل ورنه وتښاوه. موټرسیکل تېزه منډه واخیسته. شامل بل موبایل له جېبه را وایست. نوې شمېرې ته یې زنګ وواهه. ګرز شو. لمبه او دوړه پورته شوه.

شامل موټر چالان کړ. شېرک او انډیوال یې د کوڅې په آخر کې د موټرسیکل نه لرې لرې په وینو کې لت پت پراته وو. د شېرک کولمې راوتلې وې، ښی لاس او ښی پښه یې د یوه کور له دېوال سره لوېدلي وو. شامل په بېړه لنډه ویډیو ورنه وکړه او موټر یې چټک روان کړ.

کور ته چې ورسېد، عادل ورته کړه: لږ د باندې نه ګرځو؟

- لالا! زه ستړی یم. آرام کوم.

عادل ورته سترګه ووهله، ویې ویل: زر بېرته راځو. بیا به آرام وکې.

شامل لا هم د کور له وره سره ولاړ و.

عادل پر اوږه وټپاوه: هله نو، بوټونه دې په پښو که.

په لاره کې یې وویل: یوه خبره مې درته کوله. هغه کوستېزن ته مې پلان جوړ کړی. که خدای کول نیسـت به یې کړم. خو که یې د تګ راتګ ځایونه او دقیق وخت رامعلوم شي. هغه د تا ملګری خو تکړه هکر و. دا کار به را ته ونه کې؟

شامل وویل: لالا! پلان خو دې راته ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- گوره، خبره دې تا سره وي. هغه فضل رحمان دې په یاد دی؟ په تخصص کې چې راسره یو ځای و.
- هو، هغه وردګ یادوې؟
- هماغه یادوم. هغه خو اوس په وردګو کې کلینیک لري. د طالبانو زخمیان ټول دی عملیاتوي. ما ورته د دې کوستېزن کیسه وکړه. ورته مې وویل چې دولتي قاضیان او څارنوالان خو ټول غله دي. زما د ورور قاتل یې خوشې کړی. ورته مې وویل چې ته د طالبانو قاضي ته دا خبره وکه.
- ښه! نو بیا.
- بیا هغه را ته وویل چې ته یې د ګرځېدا راګرځېدا دقیق ځای او وخت رامعلوم که. موږ به یې چاره ور وکو. پوهېږې! د دوی قاضیان دستي فیصله کوي او مجرم ترې کونه نه شي خوځولی. یوه همکار مې کیسه کوله. ویل یې په چارآسیاب کې یوه قومندان د چا ځمکه غصب کړې وه. وایي هغه غریب پوره پنځه کاله په محکمو ګرځېده، قاضیانو ورنه شل لکه افغانۍ رشوت هم واخیست خو ځمکه یې ور ونه ګرځوله. یوې محکمې به د ده په ګټه فیصله وکړه، بلې د قومندان په ګټه. وایي بیا د لوګر په څرخ کې د طالبانو محکمې ته ورغلی و. هغه قومندان چې و، دلته په کابل کې و. همدلته یې ورپسې جلب رالېږلی و چې په دغه ورځ دغه ساعت به څرخ ته راځې، که رانغلې ګیله به دې د ځانه وي. سړی چې هلته ورغلی و، اقرار یې پې کړی و چې ځمکه د هغه بل سړي ده. بیا طالبانو ښه ډبولی و. وایي قومندان بیا پخپله دلته محکمې ته تللی و چې دا سړی رښیتا وایي، ځمکه د ده. همکار مې وایي د ځمکې څښتن اوس لګیا دی هلته د منو نیالګي ږدي. لوی باغ یې جوړ کړی. نو د طالبانو د محکمو دغسې فیصلې دي. دغه کوستیزن شیرک چې په دوی قصاص نه کم، په بل رقم نه کېږي.

شامل ودرېد. ویې ویل: لالا! د ما و تا دواړو نیت لکه چې یو و.

- څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شامل زنه ټينګه ټينګه وسولوله. ويې ويل: حيران وم چې درته ويې وايم که نه خو اوس يې درته وايم. ما يې کار ور وکړ.

غږ يې رپېده.

عادل وويل: دا څه وايې؟ څنګه؟

هغه يې تر څنګل ونيو. ويې ويل: ته راشه چې دلته کېنو.

د سړک د غاړې تمځای کې پر څوکۍ کېناستل.

شــامل جېب ته لاس کړ. موبايل يې را وايســت. ويډيو يې پلې کړه او موبايل يې عادل ته ونيو.

عادل وويل: دا نو څنګه؟ تا دا کار وکه؟

شامل سر وخوځاوه. بدن يې رېږدېده. ان د مخ عضلات يې رپېدل.

عادل ورجوخت شو. لاس يې له اوږې نه چاپېر کړ.

شامل وويل: زه هم قاتل شوم. لالا! قاتل رانه جوړ شو قاتل. قتل مې وکه.

عادل نور هم ځان ته ورجوخت کړ. ويې ويل: نه، نه. قاتل نه يې. تا د خدای حکم عملي کړ. هغه کار چې چارواکو بايد کړی وای، تا وکړ. قانون او شريعت د هغه د وژلو حکم کړی و.

شامل په ټيټ غږ وويل: خو يو بل نفر هم ورسره و.

- نو څه؟ هغه کوم ســپين چرګ و؟ خو هغم د ده غوندې غل و. خدای خبر چې څو کســـان يې وژلي دي. دا مورده‌ګوان خو د چا په وژلو هم صرفه نه کيي. د کامل غوندې به خدای زده څومره نور ځوانان يې وژلي وي.

شامل په ښي لاس پر خپلې چپې اوږې د عادل ايښی لاس وټپاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عادل ویډیو یو ځل بیا وکتله، ویې ویل: وایم نر کار دې کړی. دولت چې قانون نه عملي کوي، مجبور چې خپل غچ پخپله واخلو. دا را ته ووایه چې څه دې پرې وکړل؟

شامل وویل: په موبایل کې مې ورته بم ایښی و.

- په موبایل کې؟
- هو. موبایل یې چې رانه وواهه، ټنګ یې وواهه.

## ۱۶

درې میاشتې تېرې شوې.

ډېرو کسانو په خپلو فیسبوکونو کې دغه خبر شریک کړی و:

که له دغه شمېرې زنګ درغی

مه یې اوکې کوئ.

+1...........

موبایل مو انفجار کوي.

د پوسټ لاندې کمنټونو کې چا لیکلي وو: «د شمېرې خبره نه ده، د مستعملو موبایلونو بټرۍ انفجار کوي. زموږ په کوڅه کې یې یو ځوان هلک وژلی.»

بل پوسټ کړی و چې: «پر موټرسیکل چې ګرځئ، موبایل کې خبرې مه کوئ. ټانکۍ چوي او اور اخلي!»

شامل کمپیوټر بند کړ. موبایل ته یې زنګ راغی. هکر ملګري یې وویل: د خلکو احمقانه پوستونه لولې؟

- همدا اوس مې کمپیوټر بند کړ. سخته خندا مې ورته راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پوهیږې! پرون موبایل فروشـــیو ته ولاړم، هیڅ مســـتعمل موبایل نه اخیست.
- زنده باد!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فروید، ملا او ته

د فروید اروا د ځمکې د لیدو شــوق وکړ. هغه غوښــتل چې د خپلو نظریو جاج واخلي چې اوس هم چلېږي که نه. په ټولو ملکونو  گرځېدل خو یې له وســه نه وو پوره؛ نو فکر یې وکړ چې باید یوازې دوه درې هېوادونه وگوري. امریکا، بریتانیا او افغانسـتان یې خوښ کړل. ده ولېدل چې امریکا او بریتانیا تر ټولو پرمخ تللې ټولنې دي او افغانستان تر ټولو وروسته پاتې.

خپل مزل یې له امریکا پیل کړ. د څېړنو په مرکزونو او لابراتوارونو وگرځېد. چې چېرته به هم د اروا‌پوهنې، ارواشــننې او اروادرملنې خبرې کېدې، د فروید نوم او نظرونه به خامخا په کې یادېدل. ده ته یې ډېر خوند ورکړ.

وه ولیدل چې اروا‌پوهان له کمپیوټرونو کار اخلي او کمپیوټر یې کارونه ډېر آســانه کړي دي. ځان سره یې وویل کاشکې ما هم په ژوند کې داسې وسایل درلودای.

فروید په بریتانیا کې د یوه شي په لیدو ســخت حیران شــو. هغه څه چې ده د جنسيـ انحرافاتو په ډله کې معرفي کړي وو، اوس د تمدن یوه برخه وه. سـړی له سـړي سره او ښـځه له ښـځې واده کوي او قانون دا حق ورته ورکړی. ده چې ورته هوموسیکشول وایه او د اروایي ناروغۍ په توگه یې پېژانده، اوس نارمل و.

افغانسـتان ته راغی. د ملایانو په لیدو هک پک شـو. د ده نظریې تر ډېره د جنسيـ غریزې پر شـاوخوا څرخېدې او د بشرـ د اکثرو اعمالو اسـاس یې په جنسيـ غریزه کې لټاوه. ملایان هم په هر څه کې د شهوت په نښو پسې گرځېدل. د ملایانو ټول فکر او ذکر تر نامه لاندې ځایونو پورې محدود وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده وليدل چې ملايان ظاهراً خو له هغو شيانو سره نه دي جوړ چې د جنسي غريزې يا د دوی په وينا د شهواني قوې څرك پكې لګېږي خو په اصل كې پخپله تر ستوني په شـــهوت كې ډوب دي او د جنت په اړه تصـــور يې تر حورو او غلمانو ها خوا نه اوړي.

ملايانو موسيقي ځكه ناروا ګڼله چې د دوی په ګومان د انسان شهوت راپاروي او نڅا خو هسې هم يوازې عياشي ورته ښكارېده. د ده نظر هم دا و چې انسان خپله ځپل شوې جنسيـ غريزه په هنر كې منعكسوي. هغه له ځان سره فكر وكړ چې كه چېرې ملايان د ده كتابونه ولولي نو اول به په هماغو خبرو پســـې وګرځي چې د شهوت او جنسي غريزې خبرې په كې شوې دي.

فرويد ته خپله هغه نظريه ورياده شوه چې ويلي يې وو: «د انسان په شونډو كې د جنسيـــ خوندموندنې تومنه پرته ده او كه د چا د شـــونډو دغه خاصـــيت په كوچنيوالي كې ډېره وده كړې وي، هغه به په لوېينه كې ســـګرټي شي.» جالبه دا ده چې فرويد پخپله د ژوند تر پايه په ورځ كې تر شلو زيات سګرټ څكول.

دې سره فرويد له ځانه سره فكر وكړ چې ښــــه نو كه د ملايانو حكومت وي او ملايانو د هغه دا نظريه لوستې وي چې سـګرټ څكول د شـونډو له شـهواني قوې سره تار لري او نسوار هم د شونډې شا ته اچول كېږي نو ملايان به پر دواړو بنديز ولګولي. دا كار خو به د ټولنې په خير وي خو كاشكې خبره همدومره وای.

فرويد پوهېده چې هر شــــی چې منع شي او په شـــدت منع شي، د خلكو لا زياته تلوســــه ورته پيدا كېږي او بله دا چې له غريزو سره زور نه كېږي؛ كه يې له وره وشــــړې له كړكۍ به راننوځي او كه څومره يې وځپې بيا به راڅرګندېږي، بڼه به بدلوي او زر چلونه كوي خو له منځه نه ځي.

نو په خيال كې يې كېبل په لاس ملا وليد چې يو ځوان هلك يې درولی دی. هلك خپل سـګرټ په لاس كې شــا ته نيولی او د دې لپاره چې لوګی يې پورته نشيـ په خپل ورغوي كې يې مړ كوي. لاس يې سوځي، سخت سوی كوي؛ خو هغه د ملا له وېرې پر شونډه غاښ ټينګوي چې درد وزغملی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا ته د فروید نظریه وریادېږي. له ځانه سره وایي: ښــه نو دا بې ناموســه د خپلو شــونډو شــهوت په غاښ ارضــا کوي. خپل انډیوالان وربولي. هلك راځملوي. دوه ملایان د هغه پښې په لنګوټې باندې تړي. د لنګوټې له یوه سره یو او له بل سره یې بل ملا نیسي. هلک قف پایي کوي. کېبل په لاس ملا د هلك د پښو پر تلیو د کېبل وارونه کوي. د هلك بوغارې اسـمان ته پورته کېږي. د کېبل له هر وار سره د هغه پر پښو سوربخونې شنې لیکې جوړېږي. هلك لکه مار پر ځمکه تاوېږي راتاوېږي او چیغې وهي. پښـې یې وار په وار پړسـېږي. د کېبل په اخري وار سره یې پړسـېدلې پښه چوي، وینې دارې وهي.

تاســې ونه بوږنېدئ؟ فروید خو ســخت وبوږنېد. جټکه یې وخوړه. چیغه یې کړه: سادیستان دي، سادیستان. دوی باید په روغتون کې وي. یوې پرښتې چې د هلك اسویلی یې په لپو کې نېولی او پورته خوا روانه وه، تم شـو. ویې ویل: فرویده! ځان مه ستړی کوه! ستا خبرې څوك نه اوري، ته مړ یې.

فروید هڅه وکړه چې فکر بلې خوا تـه واړوي خو دې فکرونو یې له سره لاس نـه اخیست: د چایو د څښلو پر وخت د پیالې شونډې د سړي له شونډو سره لګېږي، شـپیلۍ، ترومپیت، سـکسـفون او د موسـیقۍ څومره نورې الې په شـونډو باندې غږول کېږي. بیا یې وویل څه ښــه دی موسـیقي خو هســې هم دلته منع ده خو د چایو مســاله به څنګه شي؟ دا خلك خو هســې هم بې له چایو ګوزاره نه شي کولی. دوی خو وایي: «چای ناخورده جنګ نه مېشــه» فکر یې وکړ چې خلك باید پیاله پورته ونیسيــ، خوله وازه کړي او چای له هوا نه په خوله کې توی کړي. ښــه نظر دی خو که چای سور وي او خوله یې وروسوځوي؟

ډاکتران د ناروغ تبه داســې معلومي چې په خوله کې یې ترمامتر ږدي. ناروغ مجبور دی چې ترمامتر په شــونډو ټینګ کړي نو که ملا کوم ناروغ په دې حالت کې وګوري؛ نو بیا؟ د ترمامتر بل ډول هم شــته چې په مقعد کې ږدول کېږي. نه، دا خو نو سوچ کفر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فروید خیال پســې غځېږي: برقي ویني چې پر پوړۍ ختلی، د برېښــنا مزي جوړوي. په یوه لاس کې یې پېچکش دی، په بل کې یې پلاس. پېچکش په خوله کې ږدي او په شـونډو یې ټینګ نیسي. کیڼ لاس وزګاروي چې مزي وربانديې وتړي او لاندې ملا تېرېږي.

نجار په شونډو کې مېخ نېولی دی.

ښـوونکی پر شـونډو ګوته ږدي، شـاګردان پوهوي چې «غلي شـئ! مدیر صـاحب راغی.»

د ملي بس کلینر د نورو پیسـو له منځه سـلګون نوټونه جلا کوي او په شـونډو او غاښونو یې ټینګوي.

محصل امتحان ته ناست دی. د سوال ځواب یې ذهن ته نه ورځي. چورت وهي، قلم په شونډو موښي.

لابرانت پیپیټ (ښـیښـه یي نلکی) په شونډو کې ټینګ کړی چې له تیوب څخه د ناروغ وینه په کې واخلي.

چاپ انداز د بزکشـۍ په میدان کې پر آس سـپور دی، په یوه لاس کې یې خوسی نیولی، په بل لاس یې د آس واګې ټینګ کړي، متروکه یې په خوله کې نیولې ده ...

او په دغه هر ځای کې یو یو ملا هم ولاړ دی او دوی ته سترګې نیولې دي.

فروید له دې فکرونو بېزاره و. پام یې بلې موضـــوع ته واړاوه. د کابل هوا څومره ککړه ده. اوهو، دا دوړې وګوره. بیا یې د خیال مرغه والوت او دغه صـــحنه یې وربانديې ولیدله: د کابل پر دوړنو کند و کپر سړکونو موټرې خاورې بادوي. د اتو نهو کالو ژېکی د سـړك پر غاړه روان دی. هغه په ورغوي سـترګې موښـي. پر لاندینۍ شـونډې اوبلن شی محسوسوي. شـونډه یې چاودلې او ډومبکه وینه پرې ولاړه ده. هلك پر شونډې ژبه تېروي.

د ملا ورته پام کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژړکی راچپه کوي. د پښو له ښنګرو یې رانیسي، سر په ځېړۍ یې دروي. ملا ورته غاښونه چیچي، د هلك پر ملا کلکه لغته وهي، ورته وایي: د خنزیر بچیه! ته لا بالغ شوی نه یې او داسې کارونه کوې، هه؟

د هلك له دوړجنو سترګو اوښکې بهېږي. له سلګیو سره وایي: ملا صاحب څه مې کړي؟ د خدای روی ومنه! خوشې مې که!

ملا بیا ورباندې د لغتو وارونه کوي، وایي: فروید ویلي دي، فروید.

خوار هلك تر هغه پورې ډبوي چې له اخ و ټوخه لوېږي.

د فروید اروا بیا ټکان وخوړ. پر ذهن باندې یې فشـار راووړ چې کومه بله موضـوع ورياده شي. شعر، هو، څومره ښه. هسې یې هم په ژوند کې د افغان ادیبانو اثار نه وو لوستي. فکر یې وکړ چې خپله ارواشننه د دوی په پنځوونو کې هم وکاروي.

لا یې د کار لپاره کوم شعر نه و غوره کړی چې د هنر په باب خپل نظر ورياد شو. ده خو په ادبیاتو او نورو هنرونو کې هم د جنسي غریزې لاس دخیل ګڼلی و.

بیا یې په ذهن کې د ملایانو حکومت جوړ شو. د ژوندي سارو د رسمونو کښل خو هسـې هم کبیره ګناه وه؛ خو یوه انځورګر سـور او ژېړ ګل سره خوا په خوا کښـلي وو. ملایانو هغه په دار وځړاوه؛ ځکه چې انځور یې شـــهوت پاروونکی و. دوی ویل چې د ده مطلب د نر او ښځې اختلاط دی.

د بل ســړي په کور کې یې د رحمان بابا دیوان موندلی و. مخ یې په ســکرو باندې تور کړی، پر خره یې سپور کړی، په ټول ښار یې ګرځاوه.

شـپونکي د غره په لمن کې د توت د ونې ډډې ته تکیه کړې وه. زړه یې تنګ و. یو څو لنډۍ یې وویلې. پاس د ونې پاڼې وښـــورېدې. هلته ملا پټ و. پر هلك باندې یې ټوپ کړ، خوله یې ورماته کړه.

فروید چې هر څه کول دغه صـــحنې یې له ذهنه نه ورکېدې. په لومړي ځل پر خپلو خبرو او نظریو پښېمانه شوی و. هغه نه غوښتل چې انسانان د هغه د وینااوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خاطر وځورول شي. خدای ته يې ســوال وکړ چې اې خدايه! ما له دې عذابه وژغوره. زما ټول کتابونه، ټولې رسالې، زما ټولې ليکنې له منځه يوسه.

يوې پرښــتې ورته وويل: اې فروید ګله! بې غمه اوســه. ټوله دنيا به ســتا کتابونه ولولي خو افغان ملايان به يې ونه لولي، دوی له عصرـي علومو سره په رېخه نه دي جوړ.

د فروید اروا خو په دې خبره آرامه شــوه؛ خو ته چې دغه کيســه لولې، ته به څنګه کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ماشومې خدای

خدای جانه!

غږ مې اورې؟

خپه کېږې خو به نه چې خدای جان دې وبولم. زموږ ملا صـــاحب دې الله جل جلاله بولي. هغه دی، هلته په جومات کې پروت دی. وينې يې؟ چت وربانـدې لوېدلی، خوارکی ټوک ټوک دی. په خپلو وينو کې پروت دی. نور نو هغه ماشومانو ته ســبق نه شي ويلی. ما به پوښــتنه کوله چې جل جلاله څه مانا؟ ده به ويل چې خورا لوی. يعنې الله پاک خورا ستر ذات دی.

زه نو څه خبره چې ته څومره لوی يې. ملا صـاحب ته مې ويل: دومره لوی دی لکه تا؟

ده به خندل: نه، بچی. ډېر لوی دی.

- لکه چنار؟
- نه. ته نه پوهېږې. هغه دومره لوی دی چې ته يې تصـــور هم نه شـــې کولی.
- نو، د هاغه غره په شان؟
- ډېر لوی، له آسمان او ځمکې له ټولو کايناتو لوی دی.

خو زه دې په لوی والي څه کوم؟ زه دې ځکه خدای جان بولم چې پلار مې «آغا جان» بولم. پلار مې ډېر مهربان دی. ويش، خوارکی. ســترگې يې له اوښـکو ډکې دي خو ژړلی نه شي. هغه دی وگوره خدای جانه! آغا جان مې وگوره چې ځنگه له نورو نـه مخ بلې خوا تـه اړوي چې څوک يې اوښـــکې ونـه وينې. خو پـه ژړا ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرمېږي؟ ژړا خو د شرم خبره نه ده. زه به چې هر کله ولوېدمه یا مې له چا سره جنګ وشـــو، ښـــه ډېره به مې ژړله. بیا به آغا جان دلاســـه کړم. خو لویان ولې نه ژاړي؟ د سړي زړه چې خوږ شي نو بیا به ولې نه ژاړي؟

خدای جانه! بله خبره. ما به په هر کار کې ســـتا نوم یاداوه. هره ورځ چې جومات ته راتلم، اول به مې قران شریف په سترګو وموښه، ښکل به مې کړ، بیا مې «بسم الله الرحمن الرحیم» وایه. ملا صـــاحب یې را ته مانا ښـــودلې وه: «د هغه الله په نامه چې خورا بخښـــونکی او ډېر مهربان دی». هر وخت به مې چې کلمه ویله، ستا مهرباني رایادېدله، بیا آغا جان رایادېده، بیا مې فکر کاوه چې ته مې د آغا جان غوندې مهربان یې نو ځکه دې خدای جان بولم.

خیر دی که ته خبرې نه کوې، مه یې کوه. پوهېږم ته هم خبرې نه شـــې کولی. ستونی به دې ډک وي، د آغا جان غوندې به غرېو نیولی یې. خامخا به همداسې وي. ته خو ډېر مهربان یې، خامخا به دې زړه دردېدلی وي. اخ، څومره ډېر بنده ګان دې په وینو سره دي.

رښتیا نن چې د جومات خوا ته روانه شوم، ډېره خوشحاله وم. نن مې شپاړسمه روژه وه. ملا صاحب راته ویل چې روژه په ماشومانو نه ده فرض. خو ما نیوله ځکه چې مور مې ویل چې روژه تیان د خدای خوښـــېږي. آغا جان په دې خوشـــحالېده چې زه ســـبقونه زده کړم نو ما به هره ورځ خپل ســـبقونه پنځه پنځه وارې تکرارول چې ښه مې زده شي او بیا آغا جان راته خوشحاله شي. ته په روژه خوشحالېږې، نو تا ته مې روژه نیوله.

خو په یوه شي نه پوهېږم. خدای جانه، ته خو مهربانه یې. څوک چې مهربان وي، خلک نه ژړوي. وګوره، نن څومره خلک ژاړي. ببو ته مې وګوره، څومره بد حال یې دی. ویښتان شکوي. مخ ته څپېړې ورکوي. هغه ده ګوره ورته! ګاونډۍ ښځه یې لاسونه ټینګوي چې ځان ونه وهي خو نه کېږي.

ویشـشـش! خدای جانه! وګوره. ببو په مخ نوکارې لګوي. زه خو په بړستن کې تاوه شـوې ورته پرته یم. هېڅ هم نه شـم کولی. بدن مې ټوک ټوک دی. چپه پښـه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشته. سینه مې د غلبېل غوندې سورۍ سورۍ ده. له هر سوري نه یې لا اوس هم وینه راوځي. مخ مې خچ پچ دی. خدای زده چې دوی څنګه وپېژندلم. هو رښتیا نن مې سپین کالي اغوستي وو. نن مې اوله سپاره خلاصوله. دغه سپین کالي یې په همدې خاطر راته اخیستي وو. سهار مې کالي واغوستل. مور په غېږ کې ونیولم، ویې ویل: ځومره ښه ښکارېږې، تیاره حجانۍ درنه جوړه ده. آغا جان وویل: وبه شي. که خدای کول، حجانۍ به هم شي. درې واړه به یو ځای حج ته ځو. سر خو نه کېږي، کال ته که خیر و. په دنیا به نو څه کوو؟ پیسې به کومې ورځې ته ساتو؟ ځومره خوند به وکي چې د خدای کور ته لاړ شو.

خدای جانه! ملا صاحب ویل چې جوماتم د خدای کور دی. زه به چې هره ورځ د سبقونو لپاره جومات ته روانېدمه، اودس به مې وکړ. پاکې جامې به مې اغوستې لکه څوک چې په مېلمستیا د خپلوانو کره ځي. ملا صاحب به چې د تا کیسې کولې، ما به ګومان کاوه چې تم په جومات کې ناست یې ځکه چې همدا دې کور دی کنه. ملا صاحب به ویل چې ته د هر چا په زړه خبر یې نو ما په زړه کې ډېرې ښې خبرې تېرولې چې تا ته ښه ښکاره شمه او لکه په آغاجان چې ګرانه یمه په تا هم ګرانه شم. خدای جانه! ته خو د هر چا په زړه کې چې څه تېرېږي، پې پوهېږې. کنه! نو ته د هغه سړي په زړه نه وې خبر چې د بمونو ډک موټر یې زموږ د جومات څنګ ته راوست؟

یوه ورځ ملا صاحب ویل چې الله جل جلاله قادر مطلق دی. ما پوښتنه وکړه چې د دې څه مطلب دی. ویې ویل چې خدای هر څه کولی شي، هېڅ کار ورته سخت نه دی. نو ته چې هر څه کولی شې، ولې دې د هغه سړي لاسونه مات نه کړل؟ هغه ستا کور وران کړ خو تا څه ونه کړل. وګوره کور دې بیخي کنډواله شو. یوه ورځ مې د ویالې په غاړه له ختو نه کورګی ځان ته جوړ کړی و. لمر ته مې ایښی و چې وچ شي. یو دم زرغونې په لغته وواهه، خراب یې کړ. زه ورجګه شوم. د ویښتانو نه مې ونیوله. چې څو پورې یې ژړلې نه وه، پرې مې نه ښوده. خو هغه سړي د تا کور خراب کړ، تا ورته هېڅ ونه ویل. رښتیا اوس به چېرې اوسې؟ کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دې وران شو. وي، هېره مې وه. د تا خو ډېر کورونه دي، مورې غوندې خو يوازې يو کور نه لرې.

خدای جانه! ببو ويل چې تا باندې روژه تيان ګران دي. نو ولې دې هغه سـړی پرېښود چې دا دومره روژه تيان مړه کي؟ هغه دې ولې پرېښود؟

خدای جانه!

غږ نه کوې؟

ته خو به يې وژلی نه يې؟ وی، خدای دې نه کوي. دا څه اوتې بوتې مې د خولې نه وځي.

رښـتيا هغه سـړي چې موټربم الوځاوه، ته هغه وخت په خپل کور کې وې؟ زه څومره کم عقله خبره کوم. د تا اصلي کور خو په حج کې دی نو هملته به وې.

خدای جانه!

يو سات وشو چې در ته ګډه يم خو ته هېڅ غږ نه کوې.

ځه نو زه به هم غلې شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مال

فرید د ایرکنډېشن درجه په ریموټ باندې کمه کړه، ښځې ته یې مخ واړاوه، ویې ویل: کوټه ډېره مه تودوئ. که د باندې ووځئ بیا مریضـــېږئ. د باندې سخته یخني ده.

د پالنګ په څنګ کې بل وړوکي کټ ته ورنژدې شـــو. مېرمن یې پرې غبږ کړ: سړیه مه کوه چې ویده دی.

فرید د نرمې کمپلې په منځ کې د تاو شوي کوچني ماشوم تندی ښکل کړ، د ماشوم خوله موسکه شوه خو سترګې یې پټې وې، ویده و.

فرید هم وموســـېد. د کټ په څنګ کې د جامو الماری ته ودرېد. پله یې خلاصـه کړه. ډبلې سـپینې جورابې یې راوایسـتې او هماغسـې په ولاړو یې په پښـو کړې. د څرمنو تور جمپر یې له کوټبنده راواخیسـت او وایې غوسـت. د سینګار د مېز له سره یې آی فون راپورته کړ، په ښیښه یې ګوته تېره کړه، ویې ویل: ناوخته شو. موبایل یې د جمپر جېب کې کېښود.

په حویلۍ کې د ولاړ کروزینګ موټر دروازه یې خلاصــه کړه. د موټر د وره له سره د واورو یوه پاغونده خطا شـوه، د ډرېور پر چوکۍ ولوېده. فرید له خپلې اوږې او د چوکۍ له پاســه واوره وڅنډله. جلو ته کېناســـت، موټر یې چالان کړ. څو یورې چې موټر ګرمېده، په آی فون کې یې خپل اي مېل وکوت. بیا یې د هوا حالات وکتل. کابل، واورین، منفي لس درجې. ځان سره یې وویل: پوووو، کافره یخني ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوځه کې يو زنګون واوره پرته وه؛ خو په سـړک کې کمه وه. موټرونه په پاخه سړک کې خورا ورو ورو روان وو. واوره په سړک پورې کلکه نښتې وه او د موټرو د زنځيرونو خاپونه په کې داسـې ښـکارېدل لکه د تلخان په چکې د غاښونو نښې.

د فريد موټر هم د نورو په شان ورو ورو د دارالامان ماڼۍ خوا ته خوځېده. د سړک په ښي لاس کې خلک په يوه صف کې کتار ولاړ وو، لکه د پاچا هرکلي ته چې درېدلي وي، هر موټر چې تېرېده، ټولو ورته لاس خوځاوه او په اشـاره يې پوښتنه کوله چې ښار ته ځې؟ دارالامان ماڼۍ د پخوانيو ملګنانو او اوسنيو پوډريانو غونډې لغړه پرته وه. بامونه يې نړېدلي او د چتونو اوسـپنې يې لوټ شوې وې. فريد ته هغه سوالګره ورپه زړه شوه چې په همدې سخت ژمي کې د دوو - دوه نيمو کالو ماشـوم لوڅه پوڅه پر لاره اچولی وي او سر ته يې ناسـته وي چې خير ټول کړي. ځان سره يې وويل: بيخي سره ورته دي، د سوالګرې زړه پرې نه سوځي، پردی ماشوم به وي. د دولت او دارالامان کيسه هم دغسې وبوله.

د دارامان د ماڼۍ له مخې ښـي لاس ته د دهمزنګ خوا ته وګرځېد. د خلکو ليکه هماغسـې غځېدلې وه، ځينې وګړي پلي رهي وو، ګواکې د ښـاري موټرو له راتګه يې تمه ختلې وه؛ خو ډېر نور لا ولاړ وو. د فريد سـترګې له لرې يوې ځوانې ښځې ته ولوېدې چې يو نيم – دوه کلن ماشوم يې په غېږ کې و. ښځې د ماشـوم سر خپلې اوږې خوا ته راټيټاوه؛ خو ماشـوم شا ته زور کاوه. د فريد موټر ورنژدې شـو، د ماشـوم بهېدلې تکه سره پوزه ورښـکاره شـوه. مور يې په چپ لاس د هغه د اوبدل شـوې خولۍ له سره د واورو نرې پوړ وڅنډه، ګوتې يې په سره بالا پوش پاکې کړې، لاس يې خولې تـه ورنژدې کړ، څو واره يې د خولې تاو پرې ورخوشـــې کړ، بيا يې لاس د کوټ د دوو تڼيو له منځه تېر کړ او په بل لاس يې ماشوم سينې ته جوخت کړ.

فريد دوه درې ګامه ځنې لرې و. ښـځې کرار کرار پښـې ترپولې. د هغې پوزه هم د زوی په شان سره اوښتې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرید موټر نور هم ورو شـــو، د ښـــځې مخې ته چې ورســـېد، ودرېد. فرید ښیښه کښته کړه، ویې ویل: خورې راوخېژه چې ماشوم دې ناروغ نه شي.

ښـځې د موټر شـاتنی ور خلاص کړ، ماشـوم یې پر چوکۍ واچاوه، د بالا پوښ واوره یې وڅنډله. فرید ښـیښـه بېرته پورته کړه. ښـځه موټر ته وختله، لا یې ور نه و پورې کړی چې د یوه ســړي غږ راغی، څنګ ته یې ولاړ هلک ته یې ویل: ودې لیدل؟ عجب مال یې پورته کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مور او لیوه

اول آواز چې مې واورېد، خپله ژړا مې وه. بیا د مبارک، مبارک غږونو شور جوړ کړ. سترګې مې لږې خلاصې کړې، رڼا تېزه وه، بېرته مې بندې کړې. د ښځو شور غلی شو. ناڅاپه پر له پسې درنو غږونو ولړزولم .

هغې پرښــتې چې له بلې دنیا راسره راغلې وه، زما په سر باندې لاس راتېر کړ، لاس یې داسې پوست و لکه د مهربانې مور خبرې. ویې ویل: مه وېرېږه، دا د خوشحالۍ ډزونه دي. پلار دې، نیکه دې، ترونه دي، ټول ستا په راتګ ډېر خوشحاله دي .

پوښتنه مې وکړه: چې خوشحاله دي نو ولې ډزونه کوي؟

ویې ویل: ته په داســې قوم کې پیدا شــوی یې چې بې ټوپکه یې ګوزاره نه کېږي. دوی په خپله ښادي کې ټوپک شریکوي خو ټوپک ورته غمونه راوړي.

زه لا حیران شوم، ومې پوښتله: ولې؟

پرښتې اسویلی وکیښ، ځواب یې راکړ: ستا قوم بدي داره قوم دی. دلته هر څوک دښــمن لري، له نورو قومونو سره یې بدي وي، له تربورانو سره یې دښــمني وي او که د دښــمنۍ لپاره بل څوک ورته پیدا نه شي نو له خپلو ورونو سره ورانېږي. وګوره اوس دې ترونه ســتا په زېږېدو خوشــحالي کوي خو چې لوی شــوې د مېراث په سر به درسره جنګونه کوي .

زړه مې و چې نورې پوښــتنې وکړم خو پرښــتې وویل: اوس ځان مه په عذابوه، ارام وکړه. کرار کرار چې لوی شې په هر څه به پوی شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله ورځ زموږ په کور کې ډېر خلک راټول شــوي وو. د ډول درزا پورته وه. خلکو اتڼونه کول خو پرښته مې خوشحاله نه ښکارېده. څو شېبې يې داسې راته کتل لکه زړه چې يې راباندې وسوځېږي، بيا يې وويل: زه درنه ځم .

پوښتنه مې وکړه: چېرته؟

ــ زه بېرته بلې دنيا ته ځم، دلته د وينو بوی دی، هلته په انګړ کې يې پسونه حلال کړي دي. نن دې پلار کليوالو ته ډوډۍ کړې ده.

ومې ويل: تا خو ويل چې راسره به اوسېږې، ما به له خطرونو ساتې.

پرښــتې وويل: هو ويلي مې وو، خو چېرته چې وينه تويه شي، زه هلته اوســېدلی نه شم. زه له وينو کرکه لرم. زه وينې ته نه شم کتلی خو ته به ډېرې وينې ووينې.

دا يې وويل پر مخ يې ښکل کړم او د کړکۍ په لوري والوته. ما ورپسې چيغه کړه: ما چا ته پرېږدې؟

مخ يې راواړاوه، ويې ويل: مور ته دې پرېږدم. مېندې پرښــتې وي خو ګوره، دا به په ياد ساتې، داسې مېندې هم وي چې د ليوانو خوی کوي.

پرښته لاړه، څو ورځې وروسته مې بيخي هېره شوه.

✵✵✵

کلونه تېر شول، ژڼی شوم، شپږ مياشتې کېدې چې له ترونو سره مو دعوا وه. زموږ پر ځمکه يې دعوا کړې وه. درېيمان راسره سترې شول. هره جمعه به سپين ږيري راتلل، جرګه به يې کوله چې زموږ په منځ کې لانجه غوڅه کړي. هره جمعه به مو يو يو پســه حلالاوه. درېيمانو ته به مو په خلات کې پيســې ورکولې. دوی ډېرې لارې راوښــودلې خو تره مې يوه هم نه منله. پلار مې عربو ته تللی و. زه يوازې وم، د تره زامن مې پنځه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله ورځ مې د تره ښځې مور ته څه ویلي وو. دا چې راغله، سترګې یې له اوښکو ډکې وې، ویې ویل: دا پلیته په خپلو زامنو باندې نازېږي. ما ته پیغور راکوي چې ستا خو یو دی .

ومې ویل: ادې! پرېږده چې ووایي. دې کې نو څه خبره ده.

د مور ژړا زور واخیسته، ویې ویل: خدای یو زوی راکړی هغه هم بې غیرته .

زه ورته غوږ وم. مور وویل: که دې پلار دلته وای، اوس به یې وختي دا پلیته بوره کړې وای خو تا کې غیرت نشته.

ما ته غوسه راغله ومې ویل: دې کې نو څه بې غیرتي ده .

ویې ویل: څنګه بې غیرتي نه ده، چې په مور غیرت ونه کړې نو په چا به یې وکړې .

زه پاڅېدم ومې ویل: ښه نو ته راته ووایه، زه څه وکړم .

مور په سرو سترګو پورته راوکتل، ویې ویل: که غیرت لرې خو توپک راواخله، یو یو ورته مردار کړه چې زړه مې پرې یخ شي.

همداسې مې وکړل. دوی د ډنډ په غاړه ناست وو، د ماښام اودسونه یې کول. پنځه ډزې راسره و. پنځه واړه مې وویشتل. پخپله مې په آس باندې پښه واړوله، نیمه شپه د ماما کور ته ورسېدم. سهار وختي وزیرستان ته واوښتم. څو ورځې وروسته مور هم له ماما سره راغله. چې څنګه یې ولیدم، په سینې پورې یې ولګولم، پر تندي باندې یې ښکل کړم، ویې ویل: آفرین زویه.

❋ ❋ ❋

انقلاب شو، نور خلک هم وزیرستان ته راکډه شول. جهاد شروع شو. مور راته ویل: وطن داسې دی لکه مور، په ما خو دې غیرت وکړ اوس به په وطن غیرت کوې .

بې حسابه قتلونه مې وکړل. څوک مې په چاړو حلال کړل، څوک مې په مرمیو وویشتل، په چا باندې مې بم واچاوه، نه مې اسیر پرېښود نه تسلیمي. د جهاد لسم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال و، چې زه پخپله ولګېدم. د جنازې په وخت کې مې په سر باندې پرښــته ولیده، ومې پېژندله، پخپله وه، هماغه زما پرښته وه خو تندی یې تریو و، پرېشانه ښکارېده، مخ یې ګونځې ګونځې و، زړه شوې وه لکه زلیخا چې د یوسف په ارمان یې سر ســپین کړی و. هغه مهربانه نظر یې چې ما په ماشــومتوب کې لیدلی و، اوس نه و ورپاتې. زه موسـکی شــوم، ومې ویل: څومره ښــه شــو چې ته راغلې، ما دومره عمر ګومان کاوه یو شــی مې ورک کړی خو نه پوهېدم هغه شــی څه دی. اوس چې مې ته ولېدې، پوه شوم چې ته مې ورکه کړې وې.

پرښــتې هېڅ ونه ویل. همداســې په کنګلو ســترګو یې راکتل لکه ړانده چې د اواز لوري ته ګوري خو سترګې یې خبرې نه کوي .

ما تمه لرله چې هغه به مې نازوي، لکه په بله دنیا کې چې به یې نازولم. خو هغې داسې ونه کړل، نه یې په سر باندې لاس راتېر کړ، نه راته وموسېده .

جنازه مې وشــوه، خلکو په قبر کې کېښــودم. خاورې یې راباندې واړولې. تپه تیاره شــوه. پرښــته ډېوه په لاس کې راغله. په څنګ کې یې خاورینه مېرمن روانه وه. د خاورینې مېرمنې مخ او تندی هم د پرښتې په شان ګونځې وو. پوښـتنه مې وکړه: دا څوک ده؟

پرښتې وویل: دا د وطن مور ده.

خوشحاله شوم، ځان سره مې وویل: اوس به مې ونازوي. ما د دې لپاره ډېر مرګونه کړي، ځان مې ترې قربان کړی. اوس به د خپلو قربانیو نتیجه ووینم.

د وطن مور هم لکه پرښته غمجنه وه، نه یې موسل، نه یې خبرې کولې .

زړه مې تنګ شو، ورته مې وویل: وه مورې! ته ولې خپه یې؟ ما وګوره ستا لپاره مې څومره وینې تویې کړې، څومره کسان مې درته ووژل او ته لا خوشحاله نه یې؟

د هغې له سترګو دوه څاڅکي اوښکې راووتې، د مخ په ګونځو کې یې کښته راغلې خو داسې ژر سره ورکې شوې لکه شګلنه ځمکه چې یو عمر یې باران نه وي لیدلی او ته په کې اوبه وڅښوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مې وویل: ادې! تا ته وایم ته ولې داسې وچه یې؟ ما خو درته ډېرې وینې بهولې دي .

د خاورینې ادې خوله په کراره خلاصــــه شــــوه، په ارام غږ یې وویل: بچیه! زه مور یمه، لیوه نه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توبه

زړه سندرغاړې غځېدلې وه. د لور غږ يې تر غوږ شو.

- ببو!

دې په نيولې ژبه وويل: سه - دې – وې؟

لور يې وويل: جگه شه ببو. خوب ته خو نه يو راغلې. جگه شه قربانکه دې شم. دغه ښايسته ساحل وگوره، دا ښايسته غروب وگوره.

زړې سندرغاړې چپ لاس د سترگو له پاسه لرې کړ. د لمر کمزورې وړانگې يې پر سترگو ولوېدې. لاس يې سترگو ته سپر کړ. لور ته يې مخ واړاوه.

لور يې په چپ لاس دا له چپه لاسه ونيوه. لږه يې جگه کړه. په ښي لاس يې شا ته درې بالښتونه ورته سر په سر کېښودل. بيا يې د ببو ښی لاس چې په څنگ کې يې مړ پړ لوېدلی و، راپورته کړ. پر ورانه يې ورتکيه کړ. شال يې پر وغوړاوه. د لوېدونکي لمر وړانگې پر بالښتونو ولگېدې. د بالښتونو نارنجي رنگ طلايي وزمه شو.

پخه ښځه د زړې سندرغاړې په څنگ کې د تخت پر ژۍ کېناسته. مخامخ يې د لوېې دايروي کړکۍ خوا ته گوته ونيوه. ويې ويل: گوره ببو! څومره ښکلې منظره ده. په اوبو کې د ډوبېدونکي لمر انعکاس. آسمان ته وگوره، لکه په نارنجي فانوس کې چې ډېوه بله وي. پوهېږې ببو! دلته په وړکتون کې دغسې نارنجي رنگونه ډېر دي. وايي د ماشومانو کنجکاوي او ذکاوت زياتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړې سـندرغاړې کړکۍ ته وکتل. له کړکۍ هاخوا لوېدونکي لمر، زېړ افق او د سمندر زېړ ځبيښـلي رنګ ته يې سترګې ونيوې. خو لکه دا هر څه چې پردي وي، د دې په سترګو کې يې کوم احساس ونه ځلاوه. خپله سندره ورياده شوه «جانانه راشـه چې پخلا شـو/ عمر د ژمي مازيګر دی تېر به شـينه.» په زړه کې يې ورتېر شول چې عمر رښتيا د ژمي مازيګر و. ولاړ. هر څه ختم شول. د ما د عمر لمر هم په پرېوتو دی نو زه به د دې منظرې نه کوم خوند اخلم؟ د لمر سترګه که ډوبېږي هم نو باک يې نشته. دا غم يې په زړه کې نشته چې ګور به مې مني که نه. خو ما وګوره.

لور يې ور وکتل. جګه شوه. د ورسۍ خوا ته ولاړه.

ويې ويل: ته ودرې چې کړکۍ لږه خلاصه کم. يخ خو به دې نه کېږي؟ هوا خو ښه ګرمه ده که نه؟

زړې سندرغاړې په شال خپل ښی لاس سم پټ کړ.

لور يې لاسـونه د مرغانو د وزرو غوندې دواړو خواوو ته وغځول. لويه سـاه يې واخيسته: آه! څه ښکلې پسته مسته لنده هوا. د څپو شور اورې؟

زړې سـندرغاړې سـترګې پټې کړې. ښـی لاس يې له غوږ سره ونيو. سر يې سـوکه سوکه د هو په معنا وښوراوه.

لور يې بېرته راغله. له پښـو سره يې کېناسـته. مخامخ يې ور وکتل. ويې ويل: غوږ دې دی؟ ډېره ښايسته موسيقي نه لري؟

زړې سندرغاړې وويل: لـ ـ لي ـ يې.

لور يې د دې پر پښو باندې لاسونه کېښودل. سوکه سوکه يې چاپي کړې.

د زړې سـندرغاړې پر ښـۍ پښـې د لور د لاس ګرمي او کېکښـل ښـه ولګېدل. خو چپه پښه يې ته وا ويده ده، محض يې کېکاږل لږ لږ احساسول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لور يې وويل: پوهېږې ببو! خدای به هر چا ته هر رنګ ښــکاري خو ما ته هنرمن ښــکاري. ته د غروب دغه ښــکلا وګوره، دا د رنګونو امتزاج وګوره. ته وا کوم لوی انځورګر د خپل ماشومتوب خيالونه رسم کړي دي.

زړې ســـندرغاړې د غروب منظرې ته ســـترګې نيولې وې. په ذهن کې يې ورتېر شـول: «که خدای هنرمن وای نو هنرمندان به يې داسـې نه خوارول. څوک يې ډم بولي، څوک سازنده.» بيا يې ځان سره وويل: «که نه، هر چېرې خو داسې نه وي. په هند کې د هنرمن څومره قدر دی. د لتا منګيشـــکر پښـــو ته څومره لوی لوی خلک ور ټيټېدل. هلته د هنرمندانو نه د پيســـو کمی وي، نه د احترام. دلته، په دې اروپا کې خو هنرمندان بيخي ډېر قدرمن دي. نو ...»

لور يې وويل: رښـتيا ها بله ورځ په پارک کې ناسـته وم. مرغانو سـندرې بللې. رقم رقم غاړې يې وهلې. سترګې مې ور ته پټې وې. عجب خوند يې کاوه. يوه مرغه به داســـې آواز کاوه چې ته وا نورو ته يې لې نيولی دی. په منظمو وقفو به يې چيو – چيو – چيو – چيو کول. نورو لکه د لويې سېمفونۍ برخوال چې وي، رقم رقم غاړې به يې وهلې. کله به يې ټيټ ســورونه ويل کله جګ. ما وې تا نه پوښــتنه وکم چې داسې کمپوز چا جوړ کړی دی چې د مرغانو د غاړو غونډې وي که نه.

د مور ســـترګې يې لړ وځلېدې. له نرۍ موســـکا سره يې خوله يوې خوا ته لږ کږه شوه.

لور يې سترګې ښکته کړې. کړکۍ ته يې وکتل. بيا يې وويل: ببو! تا ته کله داسې فکر نه دی پيدا شــوی چې کاش د مرغانو د غاړو نه مې کمپوز جوړ کړی او ويلې مې وای؟

زړې ســـندرغاړې نرۍ موســـکا وکړه. د نه په معنا يې سر وښــوراوه. ځان سره يې وويل: هغه نورې مې چې ويلې، کومه ګټه يې را ته کړې ده. څومره ســـختې مې وګاللې. پلار له خپله کوره منع کړم. خلکو به ډمه بللم، ســازنده به يې بللم. په يوه کال کې به مې درې وارې کډه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر يادونه يې لکه فلم د سترګو له مخې په تېرېدو شول. اول وار يې چې کور کرايه کړی و، ښــه خوشــحاله وه چې مناســب کور يې په کمه کرايه پيدا کړی. خو په دوهمه مياشت، يوه ورځ مازيګر د کور څښتن راغی. ويې ويل: «زما پيسې په کار دي. کور مې ګرو کوم. تاســې ځان ته بل کور وګورئ.» هغه چې ولاړ، ګاونډۍ ورته وويل چې «د ګروۍ خبره هســې پلمه ده. د کور څښــتن پوه شــوی چې ته سازنده يې ځکه دې له کوره باسي. سازنده ته نو څوک ځای ورکوي.»

د مېره خبره ورياده شوه: «ژاړه مه. خدای به هر څه سم کي. ښه شوه چې پخپله يې ځواب کړو ګنې ما پخپله بل کور لټاوه. دا نو کور دی؟ ســم د مرغانو کوټنۍ ده. سم ښايسته کور به درته نيسم.»

دې ياد خوند ورکړ. سترګې يې پټې کړې. د مېره د لاس ګرمي يې حس کړه چې د دې ولي يې سولول او دلاسه کوله يې.

ښی لاس يې بې اختياره چپ ولي ته تېر شو. سوکه سوکه يې وسولاوه. داسې ښه پرې ولګېد، لکه د مېره لاس چې خوند ورکاوه.

لور يې را پاڅېده. راغله، څنګ ته يې کېناسته. ولي يې سوکه سوکه ور وسولول: خوږېږي؟

سندرغاړې سترګې پرانيستې: نه.

په زړه کې يې وويل: صدقه دې شمه. پلار ته شوې يې. هماغسې مهربانه. شکر چې سړی مې ښه سړی و. خدای دې يې وبخښي. هر څه يې راسره زغمل. زړه مې پرې تکيه و. که هغه نه وای نو غمونو به وختي وژلې وم. کاش ژوندی وای.

د لور غږ له چورته را وايسته: ببو! څومره ښه آرامه فضا ده. يوازې د سمندر د څپو ترنم دی. نور ټول کائنات غلي دي. لکه ستا په کنسرټونو کې چې ټول به غلي وو او ستا سندرو ته به يې غوږ نيولی و.

سندرغاړې په نرۍ موسکا د خبرې تأييد وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لور يې د موبايل پر صـــفحې ګوته تېره کړه: هغه حمد چې دې ويلی و، هغه مې سخت په زړه را اوري. ته ودرې چې په يوټيوب کې يې پيدا کم. امممممم. دا دی پيدا مې که.

سندره يې چالانه کړه. سترګې يې پټې کړې.

زړه سندرغاړې يوه شېبه خپلې سندرې ته غوږ شوه. د دې حمد د ثبت نه وروسته شـېبه سـترګو ته ودرېده. د سـټډيو له ښـيښـې هاخوا ته يې اسـتاد ولاړ و. غټ هيډفون يې په سر کې ايښـی و. د دې سـندره يې په پټو سـترګو اورېده. ثبت چې تمام شو، د استاد سترګې يې خلاصې شوې. دوې اوښکې ورو ورو د هغه د سترګو له کونجونو لاندې را وڅڅېدې. هغه په دوو ګوتو اوښکې پاکې کړې. بيا يې لاسونه پورته کړل او د ښيښې له هاغې غاړې يې ورته چکچکې وکړې. استاد يې ورته ويلي وو: «که زما پر ځای پخپله خدای دلته ولاړ وای، هغه به هم دغسې چکچکې درته کولې.»

زړې سندرغاړې اسويلی وکيښ. له ځان سره يې وويل: نه، استاده! چکچکې به يې نه کولې. پوهېږم. فقط حساب به يې کاوه. لکه موږ چې په تسـبيح د خدای ذکر کوو او حساب ورته کوو، هغه زموږ ګناهونه دغسې شمېري. دا دی د ټولو ګناهونو جزا يې اوس راکړه. يو وخت به مې د بلبلې غوندې ســـندرې بللې. ده ته مې هم سندرې ويلې. خو اوس يې داسې ګونګۍ کړم چې دوې خبرې لا نه شم کولی. خو خدای مې دې ايمان ته خير کي. هسې نه چې د ځنکدن په وخت کې مې کلمه په ژبه وانه وړي. توبه خدايه! خدای دې نه کيي.

مخ يې د کوټې د چت خوا ته پورته کړ. په زړه کې يې وويل: يا خدايه پاکه! ته رحيم رحمان ذات يې. چې دنيا نه مې بې ايمانه تېره نه کې.

بيا يې په زړه کې ورتېر شـول: که سـړی کلمه په زړه کې تېره کي، څنګه؟ که نه، خامخا يې په ژبه بايد ووايي؟ خدايه! ته مهربان شې!

سندره خلاصه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور بېرته شو. يو ځوان په نيلي شورټ او سپين ټي شرټ کې رانئوت. لاس يې د يوې پېغلې په لاس کې و چې په ده پسې کوټې ته ننوته. پېغلې لنډه لمن او بې لستوڼي زېړبخون بلوز اغوستي وو.

هلک د بير د بوتل وروستی غوړپ تېر کړ. بوتل يې پر مېز کېښود. ويې ويل: اوما! ځنګه ځای ما تا ته نيول کړي؟ لږ په کې ګرځېدل وکه. خوند وکه. څنګه ګرانې؟

له دې خبرې سره يې نجلۍ ته وکتل.

نجلۍ وويل: ډېر رومانټيک!

لکه کوتره چې د خپلې جوړې په مښوکه کې مښوکه ږدي، هلک او نجلۍ په شونډو سره ښکل کړل او بېرته ووتل.

پخې ښځې وويل: ببو! ښه وايي. راځه چې لږ وګرځو. د اوبو په غاړه ښې پستې سپينې شګې دي. يبلې پښې به پرې وګرځو. د پښو تلي به مو مساژ کي. ډاکټرم ويلي دي چې ګرځېدل درته ښه دي. هله نو قربانکه دې شم.

د ببو پښې يې په دواړو لاسونو ونيوې، چپ لوري ته يې وځرخولې. د تخت له ژۍ نه د زړې سندرغاړې پښې وځړېدې. لور يې چپ لاس په چپ لاس کې ونيو. ښی لاس يې د ببو تر ملا تاو کړ. پا يې ځوله. په يوه لاس يې هغه تکيه کړه، په بل لاس يې شال پر اوږو ور سم کړ. د وره خوا ته روانې شوې.

زړې سندرغاړې به په چپې پښې وړوکی ګام اخيست او ښۍ پښه به يې پسې ځکوله. لور يې هم ورسره پل پل روانه وه.

زړې سندرغاړې ته ځواني ورياده شوه چې د لمسيـ د ملګرې غوندې به مسته چابکه ګرځېده. همدغسې لنډه لمن به يې اغوسته. هاغه وخت کې به خلکو دغسې لمنې ميني ژوب بللې. ويښتان به يې د ګوګوش غوندې لنډول. د راډيو ټلويزيون په لوی انګړ کې به شخه غاړه روانه وه. ځينو همکارانو به يو بل ته په ټيټ غږ ويل «زرکه ګوره زرکه! رفتار يې بيخي د زرکو دی.» دې به د هغوی خبرې اورېدلې خو ځان به يې ناګاره اچاوه. دا خبرې بدې پرې نه لګېدلې. دا ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو رقم ستاينه شکارېدله. په زړه کې يې تېر شول چې هماغه کارونه دې وو چې اوس خدای شله کړې. د نامحرمو سترګې به دې پر لوڅو پښو لوېدلې. د بوډۍ ګاونډۍ خبره ورياده شوه چې يوه ورځ يې ورته ويلي وو: «او دختر ګناه داره! نکو! ای رقم کالا نپوش که مردا رام د ګناه غرق ميکنی خودام. ميګه خدا دير ميګيره، سخت ميګيره! از مه ګفتن بود.» رښتيا يې ويله. څلوېښت کاله يې راته صبر وکړ، خو آخر کې يې ونيومه، سخته يې ونيومه.

د ساحل پستو شګو يې د چپې پښتې تلی وتخناوه خو د ښی پښې تلی يې پرې چنداني نه پوهېده.

لور يې وويل: ببو! ورته ګوره! د اوبو څپې څومره خوند کوي، ځي، راځي؛ ځي، راځي. څومره منظمې متناوبې. اقبال څومره ښه ويلي دي:

ساحل افتاده ګفت ګرچه بسی زيستم

هيچ نه معلوم شد، آه که من کيستم

موج ز خود رفته‌يی، تيز خراميد و ګفت

هستم اګر ميروم، ور نروم نيستم

زړې سندرغاړې خپلې ښۍ پښې ته وکتل. نوک نيولې شوه.

لور يې زر وويل: اقبال ذهني حرکت ياداوه. فکري خوځښت. يعنې زموږ فکر د ساحل غوندې ولاړ دی خو غرب د موج غوندې حرکت کوي.

مور يې له ځانه سره روانه کړه.

يوه شېبه غلې وه. بيا يې وويل: دا دی ته خو يې وينې. دغه جرمني وګوره. په جګړه کې لوټې لوټې شو خو څومره زر يې خپل هر څه بېرته ورغول. دا يې هماغه د فکري خوځښت برکت و. رښتيا ها بله ورځ مې يوټيوب کې بله جالبه وليده. پوهېږې؟ جګړه چې خلاصه شوه، نيمه جرمني امريکا نيولې وه، نيمه شوروي. بيا امريکا څه وکړل، د جرمني هغه تکړه تکړه پوهان يې امريکا ته يوړل. امريکا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا شوه، په هماغو جرمنانو شوه. اوس یوه ژورنالسته نادره خبره کوي. وایي په دې پوهانو کې د نازیانو غټ غټ کسان هم وو خو امریکا هاغه مهال ویل چې نه دا نازیان نه دي. ویل یې چې نازیانو دوی په زور همکارۍ ته مجبور کړي وو. ژورنالسته وایي چې پاخه ثبوتونه یې پیدا کړي چې هغوی نازیان وو او باید محاکمه شوي وای.

لکه په نه زړه چې څوک وخاندي، دغسې خندا یې وکړه.

ساه یې سمه کړه. ویې ویل: وینې ببو! هماغه خبره ده چې وایي سیاست مور او پلار نه لري. چې ګټه یې وي، نه حقوق بشر شته، نه حقوق زن، نه بل نه بل.

امممم. خو جرمنان بلا خلک دي. ټول تکړه پوهان نورو ورنه یوړل خو په دوی کې بیا هم تکړه تکړه خلک پیدا شول. دا هماغه د فکري خوځښت خبره ده. لکه چې سر مې در وخوړاوه.

د مور سترګو ته یې وکتل.

زړه سندرغاړې موسکه شوه. ویې ویل: نه، نه.

د «نه» ویلو په وخت کې یې خوله کږه شوه.

لور یې په نرم سپین دسمال د دې د زنې خوا ته روانې ناړې پاکې کړې.

زړې سندرغاړې هڅه وکړه چې خوله را ټوله کړي. د تېرو یادونو بله څپه پرې راغله. یوه ورځ یې د ټلویزیون په سټډیو کې سندره ثبتوله. دا په سینګارتون کې ناسته وه. له دهلیزه د کارګردان غږ راته چې «زر کوئ، ټول تاسو ته منتظر دي. هله نو زر راشئ چې بیا بل ثبت لرو.» دې آریشګرې ته کړه چې لږ بېړه وکه. زر مې جوړه که. سندره یې چې ثبت شوه، تشناب ته ولاړه. له هېنداري سره تم شوه. سر یې هېنداري ته نژدې کړ. د لاندنۍ شونډې یوې خوا ته یې د لب سیرین رنګ لږ غوندې بهېدلی و. تشناب ته تګ ورنه هېر شو. په منډه د سټډیو خوا ته ولاړه. پروډیوسر ته یې وویل چې دا سندره به نه نشرېږئ. کارګردان او پروډیوسر ورته ویل چې «دا په ټلویزیون که نه معلومېږي. تشویش مه ورته کوه.» خو دې ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه. نه يې غواړم. بيا هغوی ورته ټوله سندره په ټلويزيون کې وښوده. ټول ورته په ځير کتل. دې خو ان سترګې هم نه ځمبلې. سندره يې وکتله. زړه يې ډاډه شو چې په ټلويزيون کې د لب سيرين بهيدلی ځای نه ښکاري. بيا يې د خپرولو اجازه ورکړه. ځان سره يې وويل: آه خدايا! څومره دې زهيره کړم. اوس مې ګوره چې د خولې ناړې هم نه شم ټينګولی.

د لور غبر له چورته رابهره کړه: ببو! د ځپو موسيقي ته دې غوږ دی؟ څه ښه نرم ترنم کوي. زه چې ګورم دا طبيعت ټوله موسيقي ده. د باران ترنګهار، د سيند شرهار، د مرغانو چغهار، امممم باد ته چې پاڼې ښوري د هغې آواز، دغه د ځپو شړپهار دا ټوله موسيقي نه ده. خدای دې زما ببو هم زر جوړه کي چې بېرته سندرې ووايي.

د استاد خبره ورياده شوه. هغه به هم دغه خبره ورته کوله. کله چې دې سندرې ويل شروع کول، زړه نا زړه وه. هر چا ورته ويل چې غږ دې ډېر ښايسته دی، ولې سندرې نه وايې. خو دې له ډېرو نه اورېدلي وو چې موسيقي ګناه ده، ناروا ده. استاد ورته ويلي وو چې «ما ديني کتابونه لوستي دي، يو آيت يا حديث هم نشته چې موسيقي حرامه کړي.» لا يې دا خبره هم ورته کړې وه چې «هغه زبده قاريان چې دي، په موسيقي کې د ما شاګردان دي. قاري چې په سر او لی پوه نه وي، والله که سم قرائت وکي.» استاد يې ويل چې که موسيقي حرامه وای، خدای به په طبيعت کې نه پيدا کوله.

لور يې وويل: پوهېږې! ته چې روغتون کې وې، خلکو به هره ورځ درته دعاوې کولې چې خدای دې زر ښه کي. په ټلويزيونو کې، په يوټيوب کې، په فيسبوک کې، په راډيوګانو کې، هر ځای کې ستا خبرې کېدې. ما يې د ډېرو لينکونه خوندي کړي. چې هر وخت دې حوصله وه، بيا به يې له خيره درته يو په يو ښکاره کړم. رښتيا، پرون مې ورپام شو چې په دې يوه هفته کې دې هره سندره په يوټيوب کې څو څو لکه ځله کتل شوې ده. ببو! دومره محبوبيت يوازې د خدای د نازولو خلکو په برخه کې وي. پوهېږې! ډاکټر ويل چې د داسې سختې حملې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ کسان بېرته ښه کېږي. بیا داسې زر چې ستا وضعیت ښه شو، ان ډاکټران درته حیران وو. ببو ګله مې په خدای باندې ډېره ګرانه ده.

دواړو په تته رڼا کې د یوې بلې موسکا ته وموسېدلې.

زړې سندرغاړې د سمندر پورې غاړې ته سترګې ونیوې. لمر پوره لوېدلی و. د آسمان په څنډه کې د رنځورو زېړو وړانګو پر ځای نری، تته سپینه رڼا ښکارېده.

لور یې وویل: چې جوړه شې له خیره، د هامبورګ کانسرټ به وکې. څو زره کسانو له مخکې نه ټکټونه بوک کړي دي.

د ډاکټر خبره ورياده شوه چې ويلي يې وو «کېدای شي په څو میاشتو کې هر څه بېرته د پخوا غوندې شي.» سهار يې په ذهن کې ګرځېدل چې که خدای ښه کړه، د هامبورګ کانسرټ به لغو کوي. حج ته به ځي. نور به له سندرو نه توبه کوي. دا يې پخه منلې وه. خو اوس يې د تېرو کانسرټونو صحنې سترګو ته درېدلې. د نندارچیانو چکچکې او نارې، د ګلانو ډالۍ، د عکسونو اخیستلو ته په لیکه کې د مینه‌والو درېدل، په ټلویزیونو کې مرکې، د نوروز او اختر په شپو کې جشنونه ... چا به د موسیقۍ بلبله بلله، چا د ترنم ملکه.

په زړه کې يې تېره شوه: څنګه به وي چې کله ښه شوم، دغه د هامبورګ کانسرټم وکم؟ دغه به مې آخر وي. بیا به توبه وکم.

د لور لوړ غږ له چورته را وایسته: ببو! په کوم چورت کې ډوبه شوې؟

زړې سندرغاړې وویل: هېس.

لور یې وویل: هېڅ نو مه وایه. درې وارې مې دربانډې غږ وکړ، ایله چې په درېیم وار دې واورېد.

- رښتیا؟
- خود.

دواړو وخندل. کوټې ته ولاړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شېبه وروسته، څلورو سترګو د کړکۍ له هغې خوا نه سمندر ته کتل. د سپوږمۍ رڼا د سمندر اوبه لکه سپین زر ځلولې.

۲۰۲۳/۵/۱۹

اولځن، جرمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حلال

د دوکان مخې ته پیاده‌رو کې مایل ایښـي صـندوق وزمه مېزونه خالي ښـکارېدل. محمد اســلام ګامونه چابک کړل. موبایل یې د پتلانه لـه چپ جېب څخه را وایسـت. ساعت ته یې وکتل. پنځه او پنځه څلوېښـت. موبایل یې بېرته جېب ته کړ او لا پسې چټک شو.

د بند دوکان له دروازې سره ودرېد. دې خوا ها خوا یې وکتل. څوک ورښــکاره نه شول. د دوکان پنجرې ته ورغی. لاسونه یې پر تندې ونیول او تندی یې د پنجرې پر اوسپنیزو میلو کېښود. دننه څوک نه وو.

له وره څخه لرې شو. لاسونه یې د پتلانه جېبونو کې داسې ننه ایستل چې یوازې یې د ګوتو نیمایي بندونه په جېبو کې ننوتلي وو. سـترګې یې د پیاده رو پر ځمکې ښخې وې. پر وچو شونډو یې ژبه تېره کړه. ښي او چپ لوري ته یې وکتل.

ســوکه ســوکه ښــۍ خوا ته روان شــو. څو ګامه وروســته بېرته ودرېد. موبایل یې راوایسـت. شپږو ته لس دقیقې پاتې وې. په څټ وګرځېد او په منډو شو. موبایل یې هماغسې په لاس کې نیولی و. له سړکه د تېرېدو اشاره سره وه. ودرېد. ستمی یې کېده. ښـي او چپ لوري ته یې وکتل. له لرې هم موټر نه ښـکارېده. د موبایل ساعت ته یې وکتل. پنځه او دوه پنځوس. اشاره لا هم سره وه. منډه یې واخیسته. له سړکه تېر شو.

د رېل‌ګاډي سټېشن ته چې ورسېد، موبایل یې جېب ته کړ او ماسک یې واغوست. په دهلېز کې راځړېدلي ســـاعت کې شـــپږو ته پنځه دقیقې پاتې وې. د ټکټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیستلو اتومات ماشین ته ودرېد. یو په یو مشخصات یې انتخاب کړل: هامبورګ ته – تګ او راتګ – یو نفر – نغدې پیسې ...

خوله یې له سړو په راوتونکې هوا ډکه کړه. غومبوري یې ډېر شول. لکه مشدده پ چې وو ایي «پوووو» یې کړ او له خولې نه یې هوا وایسته. ویې ویل: څلوېښت آیرو؟ بر پدر یې نالت کې په دې قیمتۍ. پنځوسی یې له بټوې راوکیښ. ماشین ته یې نږدې کړ خو بېرته لاس ونیو.

له څنګه یې درې تور پوستي هډور سړي په منډه تېر شول. ده هم منډې کړې. پنځوسی یې په بټوه کې او بټوه یې د جمپر په جېب کې کېښوده. تور پوستي مخکې او دی ورپسې پر زینو وختل. ټرېن ولاړ و. په بېړه ور وختل.

اسلام وره ته پر نژدې چوکۍ کېناست. دوه تور پوستي ورته مخامخ ناست وو او یو یې په څنګ کې. یو بل ته یې سره وکتل. د ټولو ستمی کېده.

مخامخ ناست سړي ورته وموسل. ماسک یې په دوو ګوتو ونیو او له پوزه یې لږ لرې کړ. بل لاس یې د پکي غوندې د وربوز مخې ته وخوځاوه. بیا یې د ګلداره ګلابي ټي شرټ ګرېوان ورپاوه.

اسلام مخ بلې خوا ته کړ. یوه نجلۍ چې اوکراینۍ غوندې ښکارېده د دوی خوا ته روانه وه. د ده په څنګ کې ناست تورپوستي پښې داسې غځولې وې چې بوټونه یې د مخامخ ناست ملګري له پښو سره لګېدل.

نجلۍ چې دوی ته را ورسېده، تم شوه.

اسلام د غځېدلو پښو والا تورپوستي ته وکتل. هغه په خپل موبایل لګیا و.

پر مخامخ چوکۍ ناست ملګري یې ګونډو ته سوکه سوکان ورکړل. په اسپانوي ژبه یې څه ورته وویل. هغه پښې لږ غوندې راټولې کړې.

نجلۍ په سختۍ سره د دوی د پښو له منځه تېره شوه او بل واګون ته واوښته.

تور پوستو څه سره وویل او ویې خندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټرېن روان شــو. اســلام را پاڅېد. څو څوکۍ وړاندې ولاړ او د کړکۍ څنګ ته کېناست.

آسمان شـین و او لمر لا لوړ ولاړ و. په زړه کې یې وویل: که په وطن کې وای، اوس به مو روژه ماته کړې وه. چې جرمن پاسپورټ واخلم، بیا به هره روژه وطن ته ورځم. د اوړي روژه چې سړی وطن کې ونیسي، د ژمي دلته نو عجب خوند به کوي. نه، نه. په اوړي کې وطن ولې؟ دلته چې اوړی وي، په آسټرالیا کې ژمی وي نو سړی دې هلته لاړ شي.

ټرېن په کړلېچ کې له یوې کرښې بلې ته واوښت او سوکه ټکان یې اسلام له چورته را وایست. موبایل یې راواخیست او د ټرېن له وای فای سره یې ونښلاوه. په وټس اپ کې یې د غړېز پیغام سویچ ټېنګ کړ، ویې ویل: زه ولاړم هامبورګ ته. د ترکانو دوکان بند و. سـبا خو هســې هم یکشــنبه ده، بازارونه بند وي. نو غوښــه به له هامبورګه راوړم. تر روژه ماتې به بېرته راورسېږم.

حلق یې وچ شـو. پیغام یې ور ولېږه. لږ شـېبه تم شـو. ناړې یې تېرې کړې. بیا یې بل پیغام ولېږه: که نور څه هم په کار وي، راته ویې وایه.

د واګون په بر سر کې د ټکټو کنټرولره راښکاره شوه.

ده په څوکۍ کې ځان لاندې وښویاوه. سر یې د ښۍ اوږې خوا ته کوږ کړ. سترګې یې پټې کړې.

نرۍ موسکا یې پر شونډه تېره شوه.

هماغسې په پټو سترګو یې لاسونه یې سره تېر بېر او تخرګونو ته جوخت کړل.

د کنټرولرې نژدې کېدا یې حس کړه.

ساه یې ورو او ژروه کړه.

کنټرولره یې سر ته ودرېده. ویې ویل: لطفاً ټکټ!

دی ونه خوځېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې څو وارې په نسبتاً لوړ غږ وویل: ښاغلیه! ټکټ مو؟

ده داســې حس کړ چې کنټرولرې سر وخوځاوه او ولاړه خو دی په خپل حال پاتې شو.

کله چې مطمین شو چې هغه له دې واګونه تللې ده، سوکه یې سترګې پرانیستې.

شا و خوا ته یې سترګې وغړولې. بیا پر څوکۍ نېغ شو. موبایل یې راوایست. غوږۍ یې په غوږو کېښــود. پیغامونه یې واوړېدل. ښــځې یې درې پیغامونه سر په سر ورلېږلي وو. ویلي یې وو: «بیلدشتغاسه ته ورشه. د افغانانو د دوکان نه هېل، زیره، مساله او کورت واخله.» بل پیغام «لږ وطني کولچېم درسره راوړه.» په وروستي پیغام کې بل فرمایش و: «که ناوخته نه و، همداســې چې راتلې بیا د هراتیانو نانوايي ته ورشه روژه ماتي ته یو څو دانې پیرکي راوړه. ما ته د ګندنې والا واخله.»

د واګون پر تندي ښکارېدونکي ډیجیټلي ساعت کې پاو کمې اوه بجې وې.

اسلام شا ته وکتل. بیا پاڅېد. د واګون بر سر ته ولاړ. دوهمه څوکۍ خالي وه.

کېناست. شا ته یې وکتل. بېرته سم شو.

په موبایل کې یې د قرآن شریف تلاوت چالان کړ. غوږۍ یې په غوږونو کې ســمه کړه.

سترګې یې پټې کړې.

د هر آیت په پای کې به یې دغه جمله له قاري سره یو ځای په ټیټ غږ زمزمه کوله «فبای آلا ربکما تکذبان».

د ټرین کړنګی یې تر غوږو شــو. د موبایل غوږۍ یې له ښــي غوږه لرې کړه. په سپیکر کې وویل شول: «توجه توجه! راتلونکی تمځای هامبورګ دی.»

ده اورمېږ تاو کړ. د څوکۍ له پاسه یې شا ته وکتل. کنټرولره د واګون له آخر سره راننوته. دی چابک پاڅېده. د واګون له مخکینۍ دروازې ووت. تشناب ته ننوت. ور یې په ځان پسې بند کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موبایل غوږۍ یې وایسته او له موبایل سره یې په جېب کې کېښوده.

ماسک یې لرې کړ. په هینداره کې یې ځان ته وکتل. د ماسک لاسټیک یې پر مخ لیکه جوړه کړې وه. ده د لیکې ځای سوکه سوکه وسولاوه. تر لنډې ږیرې لاندې زنه یې وگروله. پر مخ یې اوبه تېرې کړې. کاغذي دسمال یې راواخیست. مخ یې وچ کړ. کاغذ یې د تشناب پر غولي واچاوه. جټکه یې وخوړه. ټرېن ودرېد.

د سپرلیو د پښو دربی یې اورېده چې له ټرېن نه کوزېږې.

لویه ساه یې واخیسته. ماسک یې بېرته واغوست. د تشناب دروازه یې ورو پرانیسته. تر سترگو لاندې یې ښې او چپ لورې ته وکتل. کنټرولره نه وه. په یوه ترپ یې ځان د ټرین وره ته ورساوه او کوز شو.

په بېړه بازار ته ولاړ. سودا یې وکړه. د اتو بجو ټرېن ته یې ځان راورساوه.

موبایل یې وشرنگېده. ژر یې غوږۍ ورواچوله.

- جووووړ په خیر، تکړه تازه! د روژې سره څنگه یې؟
- شکر دی. روژه خو مو که خدای کول خلاصه کړه. کار کوې که بېکار یې؟
- کار خو کوم خو چندان کار ولا که وي.
- سپین که تور؟
- تور.
- نو ولې سپین کار نه کوې؟
- ولې یې وکم؟ لېونی خو نه یم چې د جاب سنټر پیسې به د گوتو نه باسم. دغسې خوند کوي چې د جاب سنټر پیسېم واخلم، د تور کار گټه هم بچت کم.
- خو که گیر شوې، جریمه به دې کي.
- خدای مهربان دی. تر اوسه خو یې ورنه چپ کړی یم. هغه انډیوال دې څنگه دی؟ هغه په کمپ کې چې راسره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- جمیل یادوې؟ ښـه دی. بلا سـړی دی. سـپین کار هم کوي، سـبق هم وايي. ها بله ورځ يې C1 واخيست.
- ښـه. زه خو لا په A2 کې بند پاتې يم. دوه وارې مې ویلې خو نه کېږي. هغه جمیل اوس هم د چرګانو مرداري غوښې خوري؟
- خدای خبر.
- ما خو څو وارې غاړه ورباندې خلاصـه کړه. ورته مې وویل چې دغه چرګان په اسـلامي طریقه نه ذبح کېږي. په برق يې وژني. چې نه يې مني نو هغه د چا خبره بز از پای خود ګوسپند از پای خود. سړی نو څه ووايي. زه خو قسم دی چې خاص په حلالې غوښې پسې ان هامبورګ ته راغلی يم. بچیش! کنټرولره راغله. زه ټکټ نه لرم. ځان به چېرته پټ کم. بیا به غورې کوو. خدای پامان.

اولڅېن – جرمني 05.05.2022

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرگ او ژوند

روهین وویل: د وطن څه شی ډېر دریادېږي؟

نوید پر څوکۍ نېغ شو. شونډې یې تر غاښو لاندې کړې. ویې ویل: امممممم. هر څه یې. لمر یې، شـــین آســـمان یې، خلک. هر چېرې به دې یو څوک موندل چې خواله ورسره وکې. دلته خو هر څوک ایله «هلو/ چوسسس» ووایي، تېر شي. یو ته یې، ته هم کله په کورسونو کې ورک، کله په ځان کې.

دواړو وخندل.

روهین خپلې لوڅې متې وسولولوې، ویې ویل: اخخخخخ! جار دې شم لمره! دا لمر څومره ښه لګېږي.

دواړه د کمکي جهیل په بر سر لوړه کې پر منحني شـکلې لرګینې څوکۍ غځېدلي وو.

نوید وویل: چې شـپږ اوه میاشـتې وروسـته داسـې لمرینه ورځ وي نو خود به ښـه لګېږي.

رپ رپا شوه. دواړو آسمان ته وکتل. څو هیلۍ د دوی له سره تېرې شوې. په جهیل کې داسې کېناستې لکه الوتکه چې پر میدان کوزېږي. لږ ها خوا د جهیل په منځ کې دوې زانې روانې وې او تر شا یې په اوبو کې دوې لیکې جوړې وې.

روهین تورې عینکې له سـترګو لرې کړې، ویې ویل: پوهېږې؟ زه د وطن په غرونو پسې ډېر خپه یم. دلته چې هره خوا ګورې د لاس د ورغوي غوندې هواره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ غلی شو، بیا یې په ترنم وویل: په غرونو کې لوی شوي، په صحرا کې نه ځایېږي.

نوید ور وکتل. د ده جمله یې تکرار کړه: په غرونو کې لوی شوي، په صحرا کې نه ځایېږي. یاره! دا مسافري به دې آخر شاعر کي. هههههه.

روهین له خپل بیک نه پلاستیکي قوطۍ را وواېسته. د چرګ یو سور کړی ورون یې پخپله واخیست. بل یې نوید ته ونیو.

نوید لاس ور وغځاوه. پوښتنه یې وکړه: د عربانو له قصابۍ دې اخیستي؟

- نه. له سوپرمارکېټه.

نوید لاس ونیو. ویې ویل: خپه نشې، خو زه یې نه خورم. دا ذبح شوي نه دي.

- پر کارټن باندې یې حلال لیکلی و.

نوید په خبرو کې ورولوېد: نه دي حلال. ما پوښتنه کړې ده. وایي دلته چرګانو ته برق ورکوي.

- برق ورکوي؟
- هو. وایي په چاړه حلالول یې په عذابوي خو برق یې په ثانیه کې داسې وژني چې هېڅ درد نه احساسوي.

نوید د موبایل سکرین ولګاوه، ساعت ته یې وکتل. ویې ویل: ښه نو، په پنځو بجو مې له ډاکټر سره «ټرمین» دی.

دواړه پاڅېدل. د اوبو بوتلونه یې د بیک په جېبونو کې ورننه ایستل. روهین له بیکه دوې منې را وویستې. یوه یې نوید ته ونیوه. په بله یې پخپله غاښونه ښخ کړل. د جهیل په خوا کې د ځنګله په منځ کې پر نرۍ لاره روان شول. له هر ګام سره یې تر پښو لاندې د شګو شغها پورته کېده.

لاره کږه وږه چېرته لوړه چېرته ځوږه وه، کټ مټ د انسان د برخلیک غوندې. ګورو ونو نرۍ لاره له لمره پناه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روهین وویل: په رخصتیو کې مې دا شاوخوا ښارونه ټول پسې وغوښتل. پوهېږې؟ د جرمني طبیعت په هر ځای کې همداسې دی. په هر ښار کې یو یا دوه سیندونه، د سیندونو په څنډو کې بیا اوږده پارکونه، همدغسې لوی او واړه جهیلونه، ځنگلونه، پټي. خلاصه دا چې سپېره ځمکه به په کې پیدا نه کې.

نوید لویه ساه واخیسته، ویې ویل: په کابل کې به مې د داسې شنو ځایونو ارمان کاوه. هلته به مازدیگر چې بادونه والوتل، دوړې به یې پورته کړې او د سړي سږمې به یې په خاورو شگو ډکې کړې. دوی ته نو خدای ورکړې ده، پاکه صافه هوا، نه دوړې نه گردونه.

روهین له منې نه وروستی خرپ وایست. پاتې شوني یې په خځلدانۍ کې واچول. ویې ویل: څه د خدای مهرباني او څه د دوی خپله هوښیاري. دوه لوی جنگونه پرې تېر شول خو دوی بېرته په پښو ودرېدل. د جگړې د وخت فلمونه چې گورم، ټول ښارونه یې لوټې لوټې وو. حیران یم چې خپل وطن یې څنگه بېرته داسې آباد کړ چې اوس د اروپا اول نمبر اقتصاد دی.

نوید وویل: بلا خلک دي.

روهین وویل: خو لا حیران بیا دې ته یم چې هغه وحشي فکرونه یې څنگه بېرته رام کړل. پوهېږې؟ یوازې هټلر خو نه و، د نازیانو ایډیالوژي تقریباً د هر چا په مغزو کې ورپېچکاري شوې وه. نو له هغسې مستبدې ایډیالوژۍ دوی څنگه بېرته راووتل؟

د سپي غپا شوه. غټ تور سپي د ځنگله خوا ته زور کاوه. د پاخه عمر ښځې د سپي پړی په دواړو لاسو نیولی و. هغې ورته وویل: آرام شه. دې خوا ته، دې خوا ته.

سپی کرار او لارې ته سم شو.

روهین لږ تم شو چې نوید مخکې شي. بیا په هغه پسې پر یوه لیکه روان شو چې را روانې ښځې ته لاره ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه موسکه شوه. تر منڼې وروسته یې وویل: خدای زده چې څه یې لیدلي وو. دی معمولاً آرام وي.

نوید هم موسکی شو.

روهین د ښځې له څنګه د تېرېدو په وخت کې وویل: ښایسته سپی.

ښځې مخ ور واړاوه، منڼه یې وکړه.

نوید د موبایل ساعت ته وکتل. بیا یې د ونو د نرۍ لیکې له منځه د جهیل خوا ته سترګې وغړولې. ښځې، سړي او ماشومان ځای ځای د جهیل په څنډو کې پر سپینچکو پستو شګو لمر ته غځېدلي وو. د جهیل په منځ کې یو سړی پر وړې بېړۍ ولاړ و. بېړۍ نه وه، یوازې اوږده پلاستیکي دړه وه چې څوکه یې د یامه غوندې نرۍ وه. دوې زاڼې هم ورسره جوړه روانې وې.

نوید وویل: جالبه ده. هېڅ نه ترهېږي. د دوی مرغاوۍ، کوترې، زاڼې ټولې له انسان سره داسې روږدي دي لکه کورني حیوان.

روهین وویل: چې آزار یې نه کړې نو ولې به ترهېږي. د مزارشریف کوترې دغسې نه وې؟ په لاس کې به دې ورته دانه نیوله، دوی به دې پر لاس او پر اوږو کېناستې.

له ځنګله راووتل. په تېږو فرش شوې کوڅه کې چې دواړوو خواوو ته یې دوه پوړیز کورونه ولاړ وو، روان شول. له کوڅې نه چې ووتل، د مړستون په منځ کې غځېدلي سړک ته ور سیخ شول. مړستون زموږ د هدیرو غوندې سپېره نه و. چارچاپېره د کټارې شا ته د روسي ولو دېوال، په منځ کې یې منظم چمن، د ناجو دنګې ونې، رنګارنګ ګلان او ځای ځای د قبرونو شناختې په مختلفو شکولونو.

روهین وویل: عجب خوند یې وکړ. د ژبې کورس تمام، امتحان یې ښه تېر شوی، اوس دغه شین آسمان، تود لمر، چکر او بندار. پوهېږې؟ زه خپل مرګ په همدغسې وخت کې غواړم.

نوید مخ ور واړاوه، په ارتو سترګو یې ور ته وکتل خو څه یې ونه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روهین ورسره سترګې په سترګو شو: ته په کې څه وایې؟ مرګ په همداسې وخت کې خوند نه کوي؟ چې سړی په خوندونو کې ډوب وي، چې فکر وکي په زړه کې یې هېڅ ارمان نه دی پاتې.

نوید وویل: نه پوهېږم. نه غواړم د مرګ په اړه فکر وکړم.

- ولې؟ ډارېږې؟
- بس نو ستا خوښه چې ډار یې بولې که بل څه.

لویه ساه یې واخیسته، بیا یې وویل: زه چې اوبه وینم، مرګ رایادېږي. مرګ راته داسې ښکاري لکه په اوبو کې ډوبېدل. چې سړی لاس او پښې وهي خو ساه نه شي اخیستی. د ساه تربتېدل مې ډاروي. ان تصور یې هم ځوروي مې.

- ګوره! ته له مرګه نه وېرېږې، د مرګ له شېبې وېرېږې. د مرګه له عذابه ډارېږې. پوهېږې؟ مرګ داسې دی لکه د عملیاتو لپاره بې هوشي. انستیزي چې درکړي بیا نو په هېڅ هم نه پوهېږې. نو ډار ولې؟
- زه وایم کاش مرګ مې داسې وي چې زه په درانه خوب ویده یم او مرګی راشي، دغسې مې پسې یوسي.

د امبولانس د آلارم غږ راغی. غږ وار په وار سره تېزېده. دوی چې د مرستون څنډې ته ورسېدل، امبولانس یې ولید چې د بوډاګانو پالنځې ته ورتاو شو. دوو کسانو د بلاک له پوړیو یو بوډا په تذکره کې را وایست. د بوډا پر خوله د آکسیجن ماسک ایښی و. سر یې یوې خوا ته کوږ و.

نوید تم شو. د بوډا په نس او ټټر کې یې سترګې ښخې کړې.

د بوډا نس نه خوځېده.

روهین نوید له مټه ونیو. ویې ویل: وه هلکه! په تا څه وشول؟ مري هغه او رنګ د تا الوتی؟

25.05.2025

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بېله دنیا

سبرینا د دوهم پوړ برنډې ته راووته. د کافي ګېلاس یې پر ګردي مېز کېښود. غځوونې یې وکړې. د برنډې د کټارې خوا ته ولاړه. لاندې یې وکتل. د اتل په لیدو چورتي غوندې شوه. له ځانه سره یې وویل: له ده سره مې څه کار و؟ څه مې ورته ویل؟

اتل په پارک کې په ټال کې ناست و. په لاس کې یې کتاب نیولی و او سر یې کتاب ته ټیټ و.

سبرینا د کافي یو غوړپ وکړ. ذهن یې نا کرار و. «کومه ژمنه مې ورسره کړې وه؟ نه، د څه شي ژمنه به مې کړې وي؟ نو څه مې ورته ویل؟»

سترګې یې د بېړۍ پر هغه موډل ولګېدې چې په پارک کې د ماشومانو د لوبو لپاره درول شوې وه. بېړۍ اوبه ور په یاد کړې، اوبو سیند ... موسکه شوه. په بېړه کور ته ننوته.

شېبه وروسته د ټال په څنګ کې ولاړه وه. غږ یې وکړ: سهار په خیر اتله! دلته لمر څومره وختي راخېږي.

اتل له کتابه سر پورته کړ: سهار په خیر! راخېږي، که راکوزېږي؟

سبرینا سر پورته د لمر خوا ته ونیو: راخېږي. ستاسو په ژبه کې ورته راکوزېږي وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتل یوه ګوته د کتاب په لوستل شوي ځای کې ونیوه او کتاب یې بند کړ. ګوته یې دې ته ونیوه: دغه لمر ښییم.

سبرینا موسکه شوه: مننه. پوهېږې؟ بېګا مې په خوب کې ولیدې.

اتل ټال ودراوه: ښه دې ولیدم. جالبه ده!

- جالبه خو خود ده. ډېره جالبه! اوس مې چې له برنډې ولیدې را په زړه شو. په منډه راغلم چې درته ویې وایم. البته که مزاحمت در ته نه وي.
- نه، نه، هیله کوم. هسې هم مطالعې ستړی کړی وم. د جرمني ګرامر سړی ګنګس کوي.

سبرینا په بل ټال کې کېناسته. ویې ویل: دا خو ده. د خوب کیسه به درته وکړم. هسې نه چې را نه هېره شي. ته نو غوږ شه. مور او پلار دې د بلاک په صفري پوړ کې اوسېږي. مور دې یهوده ده، پلار دې افغان.

اتل موسک شو: یهوده؟ زما مور؟

سبرینا په تندي ګونځې راوستې: خوب دی نو.

- ښه، نو بیا؟
- مور و پلار دې کړکۍ ته ولاړ دي. ګوري چې مخامخ یو یا دوه کیلومتره لرې د نازیانو درې عسکر پر سړک باندې ولاړ دي. د یوه په لاس کې دوربین دی. هغه د سړک په سر د اېښې موانع له پاسه په دوربین کې ستاسو کور ځاري. پلار دې وایي «خدای دې وکي چې دې خوا ته را نه شي!» مور دې د هغوی ویډیو اخیستې وي، د ملکي خلکو د ویشتلو پر مهال. اوس نو مور او پلار دې ډارېږي چې که هغوی راشي او د ویډیو هغه کسټ پیدا کړي نو کیسه به یې ختمه شي.

اتل وویل: خوب نه دی، سمه سناریو ده. هههههه. د نازیانو په وخت کې ویډیو کامرې کله دومره پرېمانې وې چې هر څوک دې یې ولري. عجب تخیل لرې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سبرینا پر شونډو نرۍ موسکا تېره شوه. ویې ویل: ناولونه مې ډېر لوستي دي. په ویښــه کې خو مې تخیل کار نه کوي خو په خوب کې بیا بد نه دی. ښــه نو، بیا لاندې د بلاک دروازه ډبول کېږي. مور دې نېغه پر نیالۍ کېني. مور او پلار دې څنګ په څنګ پر غولي غځېدلي وي. د کړکۍ په بېخ کې بیا یو ماشوم ویده دی. مور دې ټیکری په سر کوي. پلار دې ورته وایي: دوی به د ماشوم په خاطر راغلي وي چې ولې له مورږ سره په یوه کوټه کې پروت دی. دوی به وایي چې دا کور درته مناســب نه دی، باید بل کور پیدا کړئ چې د خوب دوې کوټې ولري.

اتل بې له دې چې ســبرینا ته وګوري، هماغســې چې په ټال کې یې ورو ورو ټالۍ وهله، پوښتنه وکړه: هغه ماشوم زه وم؟

- هو. امممم، ګومان کوم چې ته وې. نه، نه. ته نه وې. ته خو بیا وروسته پیدا شوې. مور او پلار دې هاغه مهال لا اولاد نه درلود. نو هغه بل ماشوم؟ خدای خبر. داسې ګډوډ خوب مې و. ځینې صحنې یې را ته تتې ښکاري.
- پروا نه کا. هسې هم خوب دی.
- ښه نو، مور دې د اپارتمان ور پرانیزي. ګاونډۍ ښځه له وره سره ولاړه ده. هغه له ډاره رېږدي. وایي «ته راسره ځې چې لاندې دروازه بېرته کم؟» مور دې د هغې مټ ســولوي. وایي «مه ډارېږه! زه درسره یمه.» نازي عســکر پر زینو راخېږي، درېیم پوړ ته ځي. هلته هم یوه افغانه کورنۍ اوســېږي. له نازیانو سره په برګه عســکري دریشــۍ کې یو بل برېتور هم وي. سترګې یې شنې دي خو ویښتان یې تور. په سر یې سره خولۍ ده. د هغې افغانې کورنۍ سړی خپلې ښځې ته د تاسو په ژبه کومه پټه خبره کوي. ژبه مو څه نومېږي، پستو؟ پاستو؟

اتل وویل: پښتو په «ښـ» لکه په جرمني کې چې «ایښ» وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پښـ ـتو، پښـ ـتو. مننه. دغه بل چې له نازيانو سره ګرځي، ترجمان دی. هغه د کور ښځو ته په پښتو وايي يو څه خو بيا نازيانو ته بله خبره کوي. ګومان کوم چې د هغوی راز پټوي او نازيان تېر باسي. بيا دوهم پوړ ته کوزېږي. هغه چې تلاشي کړي، له بلاک ځخه ووځي. مور او پلار دې خوشـحاله وي چې له خطره بچ شـوي دي خو هغوی بېرته راګرځي. پلار دې مور ته دې وايي چې ژر شـــه ويډيو پټه کړه. د نازيانو هغه ملګری چې پښتو وايي، غواړي خبره واړوي. پلار ته دې وايي «دا ماشوم څو کلن دی؟» پلار دې وايي «لا خو پنځه کلن دی نو پروا نه کوي چې له مور سره په يوه کوټه کې ځملي.» هغه ورته وايي «پنځه کلن نه، چې پنځه مياشـــتنی هم وي، بله کوټه کې به ځملي. دا د دې وطن قانون دی.»

اتل ټال ودراوه. په خندا يې وويل: عجب تناقض او تضـــاد! نازي وګوره او ماشوم ته د خوب د جلا کوټې خبره وګوره.

درب شو. د ټال مخې ته يو توپ ولوېد.

د بېړۍ په موډل کې ولاړ ماشوم وويل: زما دی.

سبرينا توپ ور واچاوه.

ماشوم په خوږه ژبه وويل: ډېره مننه!

سبرينا وويل: ډېره خوښنه!

اتل له ټاله کښته شو.

سـبرينا په بېړه وويل: بله صـحنه مې را په ياد شـوه. مور او پلار دې سـتوني ستغ په هوا کې د سقوط په حال کې دي. لاندې سيند دی.

- خدای دې خير کي.

دواړه سوکه سوکه د شنې غونډې خوا ته روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبرینا کیسه وغځوله: ګومان کوم چې په سړکونو کې چې د اوبلارو دغه ګرد اوسپنیز برغولي دي، دا یې لرې کړی و او سیند ته یې ور ټوپ کړی و. پلار دې ویل چې هغه ویډیو باید خوندي شي. بیا وینم چې په سیند کې د اوبو په سر پلار دې لاندې پروت دی، مور دې پرې د پاسه. دواړه ستوني ستغ. دواړه هوار غځېدلي وي. داسې لکه پلار دې چې له ځانه ببړی جوړه کړې وي او مور دې ژغوري.

اتل د غونډۍ په لمنه کې د یوې ونې بېخ ته پلتۍ ووهله. سبرینا یې څنګ ته کېناست.

اتل وویل: پلار مې رښتیا هم دغسې وکړ. ځان نه یې ببړۍ جوړه کړه. موږ یې وژغورلو. هر پلار همداسې کوي.

سبرینا وویل: اوه! اوس پوهه شوم. حیرانه وم چې هغه د ببړۍ موډل چې وینم، ولې مې د خوب صحنې رایادېږي. ته په همدې وخت کې د مور په نس کې پیدا کېږې. نه، نه. له دې نه مخکې چې هغوی ځانونه اوبو ته وغورځوي، ته یې په نس کې پیدا کېږې. د توپ غونډې ګردی شی یې، لکه ججوری د هغې په ستوني کې را پیدا کېږي. هماغه ستا نطفه وي. مور دې د کوټې دېوال ته ډډه لګولې ده. پښې یې نس ته ورجوختې کړې دي. وایي ټول بدن مې سوی او خارښت کوي. بیا څوک ورته وایي چې دا هر څه د ماشوم په وجه دي، ته میندواره یې.

سبرینا اتل ته وکتل.

هغه د ببړۍ موډل ته سترګې نیولې وې. اتل نرۍ موسکا وکړه، ویې ویل: موږ دغسې یو نو. له هماغه اوله خپلې میندې خوروو، تر آخره پورې یې خوروو. هر وخت یې خوروو. ښه نو بیا؟

- ته ودرېږږږږږه! هو. په سیند کې غټې غټې ګارې دي، ګردې ښویې، نیمایي په اوبه کې ډوبې، نیمایي د اوبو په سر. ګارې ډېرې دي، داسې ګډوډې پرتې دي. اوبه کمې دي خو ډېرې تېزې بهېږي. پلار دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستوني ستغ لکه بېرۍ پروت دی او مور دې د پاسه وربانددې ستوني ستغ غځېدلې ده. اوبو په مخه کړي دي. پلار دې سر کوږ نیولی دی چې ګارو ته یې پام وي. په لاسونو د تګ لوری سموي چې له ګارو نه چپ شي.

- لکه هغه وړې بېړۍ چې د درو په سیندونو کې روانې وي او چلوونکي یې په بېلچه له ګارو نه چپ کوي؟

- بالکل هماغسې. بیا نو مور او پلار دې تر پله لاندې وي. زړه مې درزېږي. وایم تر پله چې ها خوا ته وځي، نازیان به یې ووینې. نازیان د سیند په غاړو کې پیره کوي او څوک چې د سیند له لارې تښتي، ولې یې. بیا ته پیدا شوې. په اسپانیا کې. مور او پلار دې اسپانیا ته تښتېدلي وو. ته چې پیدا شوې، پلار په غېږ کې زنګولې. پوهېږې؟ ته د بېړۍ غوندې وې. نه، نه، د بېړۍ غوندې نه، سم دم بېړۍ وې خو ډېره وړوکې بېړۍ. هههههه. څومره احمقانه ده. کنه! خوب دی نو.

اتل هم وخندل: بلا کوې! دومره قوي فانتزي؟

سبرینا وویل: خو کاش په ویښه کې هم دغسې فانتزي ولرم. زړه مې غواړي کیسې ولیکم. لیکوالي مې ډېره خوښه ده خو چې قلم په ګوتو کې ونیسم، تخیل مې کار پرېږدي. یوه جمله لا نه شم لیکلی.

- نو خوبونه دې ولیکه. بهترینې کیسې به وي.
- که نور یې ولیکم که نه، خو دا به خامخا لیکم. دا بېخي بل رقم خوب و. هو رښتیا، بله صحنه مې رایاده شوه. ستاسو په کور کې یو کتاب وینم. ډېر زوړ کتاب. پوښ یې په ګرد سپېره دی. هغه پخواني کتابونه چې دي، همغسې پوښ یې دی.
- هغه پېړ، سخت، څرمن وزمه پوښ چې وي؟

سبرینا د اتل سترګو ته وکتل: ته څنګه وپوهېدې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اتل شـــونډې وېږې شـــوې: تا پخپله وويل چې پخواني کتابونه. نو پخواني کتابونه خو وو همداسې. ښه نو بيا؟

ســـبرينا کيســـه وغځوله: کتاب د بل چا په لاس کې وي. ما ته وايي دا وګوره. په ګوتو د کتاب د پوښـــتۍ له يوه ځای نه ګرد پاکوي. عنوان يې په طلايي رنګ وي خو ځلا يې نه وي. عنوان لکه حک شوی چې وي، لږ ژور دی. سم نه لوستل کېږي. بيا يې هم په ګوته پاکوو. عنوان يې ورو ورو واضح کېږي. اوه!

سبرينا غلې شوه. په ويښتو کې يې ګوتې تېرې کړې.

اتل ور وکتل: څنګه غلې شوې؟

- بخښـــنه غواړم! پای يې دردوونکی دی. همدومره بس دی. نور يې نه وايمه. هسې هم خوب و نو څه حقيقت خو نه و.

اتل چې زنه يې پر ورغوي او څنګل يې پر زنګانه تکيه وه، سر اوچت کړ. پښې يې ورټولې کړې. ويې ويل: ته وا حقيقت دردوونکی نه دی؟ لطفاً! کيسه دې پوره کړه.

سبرينا يې سترګو ته وکتل. ويې ويل: هيله ده چې غمجن دې نه کړي، خوب دی نو سړی څه ووايي. د کتاب پر پوښـتۍ ليکلي دي چې ... امممم رښـتيا هغه د ويډيو خبره نه وي. مور او پلار دې اصـــلاً همدغه کتاب له نازيانو نه پټوي. د کتاب پر پوښـتۍ ليکلي وي چې «لس مياشـتې وروسـته په اسـپانيا کې مړ شو» توبرکلوز وژلی وي. پلار دې يادوم.

دواړه غلي شول.

ســـبرينا څو ځله د يوه لاس ګوتې د بل لاس په ګوتو کې تېرې بېرې کړې. بيا يې خپل چپ مټ وسولاوه. اتل ته يې وکتل.

د اتل په سترګو کې اوښکه وځليده. ويې ويل: کاش داسې شوي وای.

غږ يې ژړغونی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـبرینا وویل: بخښـنه غواړم چې خپه مې کړې. خووووو په دې ونه پوهېدم چې ولې وایې کاش دغسې شوي وای.

اتل پر زنگنو سر لگولی و. لاسونه یې له پښو نه چاپېر کړي وو. سونگېده.

سبرینا ورنژدې شوه. څټ یې په ورغوي وسولاوه. بیا یې بخښنه وغوښته.

اتل ژړل. کتاب یې د گوتو له منځه ولوېد.

سـبرینا کتاب راپورته کړ. غلې کېناسـته. نه پوهېده چې څه ووایي یا څه وکړي چې اتل پرې آرام کاندي.

اتل بې له دې چې سر پورته کړي، وویل: لس

ژړا یې زور ونیوه. سـبرینا یې بیا څټ وسـولاوه. ویې ویل: وروسـته به یې راته ووایې. اوس دې زړه تش کړه. وژاړه. زه همدلته یم. درسره یم.

اتل وویل: لس میاشتې.

ژړا وار ورنه کړ.

درېیم ځل یې هڅه وکړه: لس میاشتې یې وشوې.

دا وار یې ځان قابو کړ: خو کاش سـتا د خوب غونډې توبرکلوز وژلی وای. کاش هغه وخت مړ وای چې ډېر کوچنی وم. داسـې وخت چې زما به نه یادېده. چې هېڅ خاطره مې ورنه نه درلودلای. لکه ستا په خوب کې چې نوی زېږېدلی وم. کاش هغه مې نه یادېدلای.

- کاش د خوب کیسه مې درته ویلې نه وای.

اتل ور وکتل. نری موسکا یې وکړه: نو څه به بدل شوي وای؟ گناه ستا نه ده. لطفاً بخښـنه مه غواړه. بخښـنه دې هغوی وغواړي چې گناه یې کړې ده، جنایت یې کړی دی. پوهېږې! وژلي یې هم موږ یو او عفوه هم موږ ته کوي.

- طالبان یادوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هو. همدغه د سپي زامن يادوم.
- پلار دې هغوی وژلی؟
- ټوک ټوک يې کړی و. په موټر يې مقناطيسيـ بم لګولی و. د موټر ټوټې او د آغا د غوښو ټوټې سره ګډې وې.

اتل د لاسـونو ورغوو ته وکتل.ويې ويل: په همدې لاسـونو مې د آغا د غوښـو ټوټې راټولې کړې. ليکوال و. تا غوندې پر کيسو مين و.

- ليکوال و؟

اتل د هو په معنا سر وښـوراوه: ما به کله کله ورسره لانجه کوله. ځواني ده نو سـړی کله کله اوتې بوتې وايي. ورته ويل به مې چې هسـې دې وخت ضـايع کوې. په دې وطن کې نو کتاب څوک لولي چې ته يې ورته ليکې. ده به ويل چې بې ليکلو مې نه کېږي. لکه په بدن کې مې چې آبسه وي. د آبسې درد په هيڅ شي نه کرارېږي. يوازې په دې کرارېږي چې زوه ترې را وباســې، چې تخليه يې کړې.

سبرينا د اتل مټ وسولاوه.

اتل نری موسکا وکړه. بيا يې وويل: ښه خبر وو چې ژوند ته يې خطر دی. ډېر کله به مې مور سره جنګونه کول چې ولې آغا نه مجبوروي چې خارج ته لاړ شــو. مور مې ګرمه نه وه. آغا د هېچا نه منله. هلته حالات ډېر خراب وو. طالبانو په موټرو مقناطيسيـ ماينونه نښـلول. داسـې ورځ نه وه چې په کابل کې دې چاودنه ونه شي. څوک يې په مرمۍ ويشـتل، څوک يې په بم الوځول. پلار ته مې اعصاب خراب وو چې ولې مو خارج ته نه باسي. کاش چې ځورولی مې نه وای. زه بد هلک وم، ډېېر بد.

ســبرينا يې لاس په ورغوي کې ټينګ کړ. ويې ويل: ځان مه ملامتوه. ته ګرم نه وې. تا د ټولو خير غوښت.

اتل په ټيټ غږ وويل: مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه پاڅېدل. نري سړک ته کښته شول.

اتل وویل: یوه شېبه! تا ویل لس میاشتې وروسته؟ په اسپانیا کې؟

- هو. همداسې وه.

اتل هغه تر لاس ونیوله: ته راځه!

اتل ګامونه چټک کړل. سبرینا هم ورسره چابکه شوه.

اتل د بلاک د دروازې مخې ته پر یوې ګونډې کېناست. د برق د ساکټ په اندازه د ژړو درې مربع شکله لوحې پر سړک ښخې وې. دوې ځنګ په ځنګ او بله ترې لاندې د دواړه په وسط کې لکه د پ ټکي. اتل پر یوې لوحې ګوتې تېرې کړې. ویې ویل: دا وګوره! «آلفرډ دویچ – تولد ۱۹۰۵ – په ۱۹۴۲ کې اسپانیا ته فرار شو – لس میاشتې وروسته هلته مړ شو».

سبرینا وویل: نه! باور مې نه کېږي. دا نو څنګه کېدای شي؟

اتل ور وکتل: دا دې نه وه لوستې؟

- نه، نه. باور وکړه. اصلاً. بېخي مې ورکتلي هم نه دي.
- دا بله وګوره. «انا دویچ – تولد ۱۹۰۸ – په ۱۹۴۲ کې اسپانیا ته فراره شوه – مړینه ۱۹۷۸» دا به یې مېرمن وه.

سبرینا د درېیمې لوحې لیک ولوست: «هانس دویچ – تولد ۱۹۴۲— مړینه ۲۰۲۰» او دا به یې زوی وي. پوهېږې؟ د هغه کتاب عنوان همدغسې و. کټ مټ همدغسې و. نه. له دې نه لږ بدل و. د دې لیک رنګ تور دی ځکه یې طلایي ده خو د هغه کتاب پوښتې توره وه، عنوان یې طلایي. رښتیا ته څنګه وپوهېدې چې پر دې لوحو نومونه او سنې حک شوي دي.

- د کورس استادې را ته وویل. یوه ورځ چې له کورسه ووتو، ګومان کوم چې ته په هغه ورځ نه وې راغلې، په لاره کې یې را وښودلې. په هر کور کې چې پخوا به یهودان اوسېدل، مخې ته یې دغه لوحې ښخې دي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو يهودانو معلومات په دې لوحو کې ليکل شــوي دي چې په دې کورونو کې اوســېدل. جرمنان دا زرين يادګار بولي. نو آلفرډ دويچ او انا له هانس سره په همدې بلاک کې وو. ســړی څه پوه شي، کېدای شي چې همدا ستا په اپارتمان کې به اوسېدل.

سبرينا د خپل اپارتمان برنډې ته وکتل.

اتل د سـړک بلې غاړې ته اشـاره وکړه: هغه نورې لوحې ولوله. اکثره يې وژل شوي دي. آلفرډ نېکمرغه و چې تښتېدلی و.

دواړه پاڅېدل.

اتل وويل: مننه چې د خوب کيسه دې را ته وکړه.

- هيله کوم. دردوونکې وه. ته مې هم و دردولې. خو دې ته چورت وړې يم چې زما خوب ته دغه شــيان څنګه راغلي دي. نه مې دا لوحې کتلې وې، نه مې يې په اړه اورېدلي وو. اســپانيا ته تېښــته، لس مياشــتې وروسته، يو زوی ... دا څنګه کېدای شي؟ بښخي يې ګنګسه کړې يم.
- نه پوهېږم. خوب بېله دنيا ده. رښتيا له وطنه احوال لرې؟ پلار دې ښه دی؟
- ښه دی خو ورته سودا مې ده. لس وارې مې ورته وويل چې ته خو معلم يې، ســتا يې له جګړې سره څه. وايي چې پخپله د وطن دفاع ونه کړم نو شاګردانو ته به مې وطنپالنه څنګه ورزده کړم.
- بده خو ولا که وايي.
- امممم. څه ووايم. ډارېږمه. پرون يې يوه ويډيو رالېږلې وه. د روســانو ټانکونه يې ويشتلي وو. ده او ملګرو يې ورته خوشحالي کوله.

اولڅېن، جرمني

13.05.2022

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تش دوکان

نه پوهېږم چې د هر چا خوبونه دغسې ګډوډ وي که یوازې زما.

خوب مې لیده چې په ښار کې ګڼه ګوڼه ده. یو څوک د ښار په چوک کې درګرده په ترنم نارې وهي: د هر درد دوا لرمه، د هر زخم ښــه مرهم! ســختې به آســانې کړمه، بندې به کړم خلاصې! د هر غم چاره کومه، هره غوټه پرانیزمه! هلئ! راشئ! هلئ! راشئ! هر څه مفت، هر څه وړیا دي!

ښار د اوسنیو ښارونو غوندې نه دی. یو شپږ ـــ اوه دوکانه یوه خوا شپږ ـــ اوه بلې خوا ته کتار تر منځ یې خامه ســړک تېر شــوی. بیا همدغه چوک دی او د چوک څلورو خواوو ته همدغسې د یو پوړیزو خټینو دوکانونو لنډ لنډ کتارونه. پر سـړک نه موټر شته، نه سایکل. خلکو پر خرو، کچرو او اوښانو شیان بار کړي دي. د خلکو جامې هم اوســنۍ نه دي. چا د هندوانو غوندې یوازې لنګ وهلی او تر نامه پورته بدن یې لوڅ دی، چا د وزې پوســتکی اغوســتی، چا د افریقا د ځنګلي بنيآدمانو غوندې په ملا پورې د ونو پاڼې ځوړندې دي او یوازې یې خپل عورت پټ کړی. خو ښځې بیا سر تر نوکه پورې په خړو ټوکرو پټې او ماشومان او ماشومانې بیا لوڅ لپړ ګرځي.

سخت ټېل ما ټېل او شور ما شور دی. هر څوک هڅه کوي چې زر ځان ور ورسوي. زه اول سر کې لږ لرې درېږم خو وروســته ګورم چې د خلکو په منځ کې ولاړ یم او سـوکه سـوکه د چوک خوا ته پورې وهل کېږم. ښــۍ خوا ته مې یو ځوان ولاړ دی. ببر سر، لمر سوځولی مخ، خوار بدن، خیرنې له پیوندو ډکې جامې، چاودې پوندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د ګېډې غم په مخه کړی دی. وايي: «څومره خوند به وکي چې د نيستۍ چاره مې وکي. لکه هغه بل به مې ګېډه په ښو خوراکونو ډکه وي، نوې جامې او سور سپين مخ به مې وي. د ولور غم به مې نه وي، دومره پيسې به راسره وي چې د يوې پر ځای دوې درې وکم. هی هی! عجب خوند به وکي. بيا به مې نو د هېڅ شي غم نه وي.»

بيا وايي: «خو زه هغه بل دله ته حيران يم. هغه نو ولې په دې ټېل ماټېل کې ولاړ دی؟ نور نو څه شی غواړي؟ ته خو ورته ګوره! له موږ نه هغه لا زيات تلوار کوي.»

هغه ځوان خبرې نه کوي خو زه يې خبرې اورم. دغه خبرې د هغه په زړه کې تېرېدې خو ما اورېدلې. حيران په دې يم چې هغه بل سړي ته ولې غوسه دی، ولې يې دله بولي.

بل اړخ ته مې په عمر پوخ، په غوښو پټ، سور سپين سړی ولاړ دی. هماغه کس چې هغه نيستمن ځوان يې د ژوند ارمان کوي. ده بيا ويل، نه ده نه ويل بلکې ما ليدل چې په سر کې يې دغه خبرې تاوېږې: «چې د وينې فشار مې ختم کي او د شکرې علاج مې وکي چې هر څه وخوړای شم نو عجب خوند به وکي. دې پرهېزونو خو له پښو غورځولی يم. فشار او شکره هم په بلا وهم خو چې د دې بل شي غمه مې وکي. درې ښځې را ته ناستې دي خو يوې ته مې هم خوا نه کېږي. دی خو وايي چې د هر مرض دوا لرم نو زه به ورنه د مردانه کمزورۍ علاج وغواړم. لکه په ځوانۍ کې چې تکړه وم، چې هماغسې بيا تکړه شم او هره شپه په درې واړو وار تېر کم نو ايله به د ژوند په خوند وپوهېږم.»

له شا نه مې په لينګي پوري کوم څه لګېږي او مخې خوا ته مې پورې وهي. ګورم چې ماشومان دي. هلکان او نجونې د غټانو په منځ کې ځان ته لاره کوي او وړاندې ځي. يو هلک بل نه پوښتنه کوي چې ته ور نه څه شی غواړې. هغه وايي: «ورته وايم چې د کونګري پښه مې جوړه کي.» بل وايي: «خو زه ورته وايم چې ميره مې مړه کي. هغه مې هر وخت وهي.» خو دواړه دروغ وايي. زه يې په زړه پوهېږم. هغه چې د کونګرې د پښې د رغېدو خبره کوي، په زړه کې غواړي چې د ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښه یې ماته شي ځکه چې هغه کونګرې په تیره ویشتلی دی. هغه بل چې د میرې مرګ غواړي، په زړه کې وايي: «کاش پلار مې مړ شي چې زه له میرې سره واده وکم.» ځان سره وایم چې خلک هسې ماشومان معصوم بولي، څومره حرامیتوب چې په لویانو کې دی، په ماشومانو کې هم شته. دروغ، کرکه، رخه دا هر څه له ماشومتوبه شروع کېږي.

دې وخت کې په تورو جامو کې یوه پټه ښځه هغه ډنګر غریب ځوان ته ځان رسوي او لاس یې ټینګوي. لاس د هغه ټینګوي خو احساسوم یې زه، لکه زما لاس یې چې ټینګ کړی وي. ځوان مخ ور اړوي. ښځه پر شونډو ښکلوي. خو دغه صحنه یوازې زه وینم. نور یې نه ویني. لیدل څه چې ان د دې مچکې خوند احساسوم. لکه ما چې ښکل کړې وي. ځوان خو ویل چې د ولور پیسې نه لري نو دا ښځه څوک ده چې دی یې ښکلوي. ګورم چې هغه ځوان او ښځه د خلکو له منځه ناڅاپه ورک کېږي. هغه ښځه څوک وه؟ د دې بل په عمر پوخ سړي درېیمه ښځه وه.

په ټېل ما ټېل کې د ښار د چوک خوا ته پورې وهل کېږم. یو وخت مې پام شي چې دا وګړي چې زما شاوخوا ته ولاړ دي، ټول اوبه دي او له هرې خوا رابانديې زور کوي. اوبه د کړۍ غوندې تاوېږي لکه ګرداب. او څومره چې وړاندې راځي، کړۍ لا پسې کوچنۍ کېږي او د ګرداب د مرکز خوا ته لا چټکې درومي. ساه مې ډوبېږي. هرې خوا ته لاس او پښې غورځوم خو ګټه نه کوي. اوبو اخیستی یم. غواړم چیغې وکړم خو له ستوني مې غږ نه راوځي. غږ مې تربت دی.

د ګرداب تل ته چې رسېږم، ساه مې بېرته سمېږي. ګورم چې هماغه د ښار چوک دی. د چوک په منځ کې یو ختېن مربع شکله دوکان دی چې دوې دروازې لري. یوه یې زموږ خوا ته ده، بله یې مخامخ په بله خوا کې. هر څوک له دې دروازې ورننوځي او له هغې بلې بېرته راوځي. هر څوک چې له هغې خوا راوځي، یو بار ورسره وي. چا په سر باندې پنډه نیولې وي، د چا په لاس کې کڅوړه، چا د مکتبي هلکانو غوندې بیکونه په شا کړي وي او د چا په لاس کې د ټېرونو والا سفري بکسونه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جالبه دا ده چې دې خوا ته نارینه په هماغه ځنګلي او لرغونو جامو کې دي خو له هغې خوا چې راوځي، عصرـــي کالي يې په تن وي: دريشـــۍ، کميس پرتوګ او واسـكټ، شـورټ او ټي شرټ ... دې خوا ته ښـځې سر تر نوکه پټې دي خو هغې خوا ته بيا په هر ډول جامو کې ښکاري. چا چادرۍ په سر کړې دي، چا تور حجاب کړی دی. د چا پر سر لوی او د چا پر سر کوچنی ټيکری پروت دی. د ځينو سرونه سرتور دي او ځينې بيا پتلونونه اغوستي. هر څوک د کړې سـودا په خاطر خوښ ښکاري. هغه ځوان او هغه ښځه چې سره ورک شوي وو، بيا را پيدا کېږي. وينم چې لاس په لاس له بلې دروازې راوځي. هلک جينس پتلون له کميس سره اغوستی او ښـځه په شـورټ او ټي شرټ کې ده. هغه بل په عمر پوخ سـړی هم ورسره جوړه روان دی. حيران يم چې ځنګه خپلې ښــځې ته څه نه وايي چې له بل سره لاس په لاس ګرځي. خو ښځه وايي: «دی مې پلار دی، ته غلط پوه شوی وې.»

خو ماشومان له هغې خوا بېرته نه راوځي. ماشومان چې دوکان ته ننوځي، هماغلته پسې ورک شي. نه، ورک کېږي نه، له هغې خوا چې راوځي، لوی شـوي وي. هغه ځوان چې له هغې ښـځې سره لاس په لاس ګرځي، هماغه هلک دی چې د ميرې مرګ يې غوښت او هغه ښځه چې ورسره ده، هماغه يې ميره ده.

بيا ګورم چې د دوکان په منځ کې يم. د دوکاندار مخ نه ښــکاري خو غږ يې اورم. هر څوک خپل رنځ او خپله سـتونزه ورته وايي او هغه ورته يوه پنډه، يا کڅوړه، يا بکس ورکوي چې علاج دې په همدې کې دی. دوی هر چا ته يو شـی ورکوي خو دوکان تش تور دی. په دوکان کې هېڅ شی نشته، ان دوکاندار هم په کې نشته.

14.10.2022

Uelzen

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**